پښتو ناول

# د الماسو غمی

ډاکټرعبدالهادي حماس

۱۴۰۲- ل کال

بسم الله الرحمن الرحیم

## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم : **د الماسو غمی** (پښتو ناول)

لیکوال : **ډاکتر عبدالهادي حماس**

د لیکوال د اړیکو او وټسپ شمېره :**0799800824**

خپرندوی: **ذهنیت خپرندویه ټولنه - کابل**

ایډیټ او پښتی ډېزاین : **رسول ګل آشنا**

کمپیوټر چارې : **حلیم ګل ګران**

د چاپ شمېر : **۱۰۰۰ ټوکه**

چاپ کال : **۱۴۰۲ هـ ل**

چاپ وار : **لومړی**

**ذهنیت خپرندویه ټولنه**

**ZEEHNIAT BOOK STOOR**

Email: Tahminam82@gmail.com

**0772019545**

## پته:

**جوشېر ۲۸ نمبر دوکان، پلازمېنه کابل، افغانستان**

**ددې کتاب د چاپ او خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي**

# ډالۍ

**هغوی ته چې د خپلوي ریشتې د اسلامي اوصولو په رعایت کولو سره پالي .**

**( ډاکترعبدالهادي حماس )**

## د ځواکمن خدای ج په سپیڅلې نامه

د سر ځو ټکي :

په یوه ټولنه کې د ځوانانو لپاره تر ټولو عام متل دی چې دوی د ټولنې د ملا تیر جوړوي،دغه قشر چې څومره پیاوړی وي څومره یې پر متو کې زور وي په هماغه اندازه ټولنه هم ورسره په جوش او خروش کې وي .

څومره چې د دوی ذهن پیاوړی او پرمختللی وي په هماغه اندازه ورسره ټولنه هم پرمخ روانه وي.

په بله مانا ځوان کهول د ټولنې د پرمختګ او بقا لوی لامل بلل کېږي خو زموږ په افغاني ټولنه کې دغه قشر نه چا په صحي مانا له خپل زوره خبر کړ او نه پرې د وخت حکومتونو د دوی د ظرفیتونو لوړولو لپاره سرمایه ګذاري وکړه او نه یې هغه سرچینې پیاوړې کړې چې دغه قشر ته یې کارکاؤ، بلکې برعکس د دوی له احساساتو سره یې لوبې وکړې، د دې مهمې بشري قوې په اړه بې تفاوته ؤ له ځواکه یې ځان بې خبره وښوده، او د ملک لپاره  یې وړتیاوې پیاوړې نه کړای شوې له دې غمیزې سره، سره یو شمېر معافیایي کړیو د دوی  پر ځوانیو رحم  ونه کړ، په دوی یې خپل تجارت تود وساته د نشو کار و باریانو ورته ښه پرېمانه نشې تماشې جوړې کړې، دوی څخه یې شته طبعي ځواک د خپلو پیسو لپاره برمته او د خپلو ګټو لپاره یې دوی د ځان محتاج کړل .

د پل سوخته  څلوېښت کلنه تاریخچه ددې تجارت ښه تاریخ ویونکې شاهده ده  او د هېواد هر فرد ته مالومه ده چې د وخت حکومتونو ورته په غړېدلو سترګو کتل او

دلته د ځوان قشر پرخپلو پیسو له دوی څخه د اخیستل شویو نشه یي توکو ته په اور ورکولو سره خپلو ځوانیو ته هم اور ورته کاؤ .

په هر حال دوی پوه شه د دوی ضمیر پوه شه حساب کتاب شته او الله ج د هرې زرې، زرې پوښتنه کوي،دغو نشو تماشو نور هم زور واخیست خبره تر تابلیټ کا، ،آیس، شیشې او نورو پرمختللو نشو را ورسېده او اوس زموږ ډېری ځوانان په دې ناوړه پرمختللو نشو معتاد دي، کوم چې افغاني ټولنې ته د زهرو په مثال دی.

کاش یو معتاد کس د نشې له امله له منځه تللی، بلکې دغه ناوړه عدت بسته کورنۍ جسماً او روحاً تبا او لیلام ته چمتو کوي .

ددغه ډول نشو یوه، ژوندی کېسه مې تاسې ته د ناول په بڼه چمتو کړه زما پیغام هم له دې ناول څخه دا ده چې د خدای لپاره که په دې ناول کې د یوې بدبختې کورنۍ په څېر خپله کورنۍ له دا ډول ستونزو ژغورئ نو پر خپلو اولادونو پام وکړی یوازې زېږول مهم ندي باید د پلارتوب مسولیتونه په سمه توګه ادا شي .

یو ناسالم اولاد چې تاسې یې ټولنې ته وړاندې کوی نه یوازې تاسې ته یې زیان رسېږي چون د ټولنې یو فرد ګرځي نو خامخا ترې ټولنه متضرره کېږي، او په قیامت کې به د خپل مسولیت ځواب ګویه یاست .

زه خپلې خبرې نه اوږده وم ما د خپلې ټولنې یو شمېر نور رواجونه هم راخیستي دي چې ظاهراً خلک ورته د ګډو ګټو او اتفاق نوم ورکوي خو کله کله یې زیانونه دومره قیمتي وي چې لومړی ارزښت ورته بې مانا شي .

دا چې څه او کوم، دودونه دي، نو ناول په غور سره ولولئ ان شاءالله هلته به پوه شئ .

دا سمه ده چې ما ادبیات ندي لوستي زه یو طبي ډاکټر یم زه به د ادب پوه غوندې لیکل ونشم کولی، زه به په زرینو کرښو موزون کلیمات تاسې ته وړاندې نشم کړای ،خو په دې ډاډه یم چې د پیغام له اړخه به حتما زما د ناولونو په لوستو پښېمانه نشئ.

په پای کې د خوږمن ځاځي،م،نیازی، ضیاالرحمان سهاک، دوکتور محمدنصیر توتاخېل، حمیدالله حبیب زی ،یارمل واکمن ملاخېل څخه نړۍ مننه کوم چې د ناول په لیکلو کې یې نیکې مشورې راکړې دي.

دا تاسې او دا مو ناول (( **د الماسو غمی** )) ...

**ورور مو ډاکتر عبدالهادي(حماس)**

**پکتیا-خپله جونګړه**

**۱۱/۳/۱۴۰۲**

بسم الله تعالی

پر کتنځي کې ناست وم، د سرطان یو بې وزله ناروغ معاینات مې مخې ته ایښي وو، یوه ژور فکر کې د ده او د ده د راتلونکو ماشومانو سرنوښت زما ذهن مشغول کړی وو، دروازه راوټکېده، ومې ویل؛ راشئ سر مې ور پورته نه کړ ما لا هماغسې د مرګ ګواښونکي فقیر ناروغ په معایناتو کې سترګې ټومبلې وې، یو کس مې خواکې د ناروغ پر چوکۍ کېناست سوړ اسویلی یې ووېست؛ وې ویل :

ډاکتر صیب د خوب ګولۍ راته ولیکه، داسې ګولۍ چې ویده مې کړي، ددې سترې نړۍ له ژوند سره مې یو څو شیبې اړیکې پرې شي، لږ ارامه شمه، داسې مې ویده کړي چې په هېڅ  څه هم خبره نشم، بشپړه میاشت کېږي چې  ژوندی او رڼه شپه سبا کړم له سترګو مې خوب تښتېدلی.

ناروغ ته مې سطحي فکر وکړ ځان سره مې وویل هسې بهانې کوي، ممکن دغه درمل کوم چاته د دسیسې لپاره غواړي، خو خبر نه وم چې دا مې د ژوند لویه اشتبا وه، کوچنی پرزه مې راواخېسته لا مې هم د ناروغ مخته د کتو موقع پیدا نه کړه، ورته مې کړه نوم دې څه شئ ده ؟!

ځواب یې راکړ ناهید نومیږم .

د مېز په سر د سرطان ناروغ  له تیت او فرق معایناتو مې سر ور پورته کړ، د خدای په یوه هستي مې نظر ولګېده.

بشاشه، یوه داسې څېره مې ولیده چې ما یې مخکې تصور هم نه وو کړی، لیدل خو یې خوب او خیال وو، ما د انسان د بڼو سیوری نه وو لیدلی، په لومړی ځل مې داسې منظره ننداره کړه چې د هغې په اننګو له پاسه د ګروف د رڼا سیوری پروت وو

لکه د کېچه مار سر د بڼو د سیوري وروستۍ برخې کجک توب یوه ځانګړې منظره جوړه کړې وه له غټو سترګو یې ګڼ باڼه راتاو وو.

غومبرو یې داسې سورخۍ درلوده چې هغه د مئینانو خبره ته وا د اور بڅرۍ ترې رالوېږي.

څو شیبې د خدای ج د تخلیق هنریت زما ذهن د یوې پراخه حیرانتیا لور ته بوته ورو مې ځان سره وویل، د خدای ج په قدرتونو جوړ شوی انسان داسې ښکلی دی د دوی خالق یانې خدای ج به خپله څومره ښکلی وي؟!!.

هر انسان د خدای ج د تخلیق یو حیرانونکی جوړښت دی خو ځینې بیا ډېر په فرصت سره جوړ شوي وي د حیرانتیا ترڅنګ د انسان حواس هم ورسره برهم وخوري، تیت او فاشان شي.

ناروغ ته مې یو ځل بیا د لېدو جرئت پیدا کړ، شېدو ته ورته نازک پوستکی یې د مخ کاسه پوښلې وه، زما طبیعتاً شنې سترګې نه خوښېدې خو د هغې د سترګو په کاسه کې په خوار جالب رنګ کې یوې خوا او بلې خوا ته اوښتې، له هرو اوښتو سره یې زړونه هم په درزا راوستل.

ځینې مهال چې انسان د خدای ج د تخلیقي هنر نقاشي ګوري له ډېرې حیرانۍ ورخطا کېږي، زما هم همدا حال وو، د هغې نوم مې د کوچنی نسخې په سر ولیکه هغه له ځایه پورته شوه دنګه ځواني یې درلوده د یخني موسم وو، دواړه لاسونه یې خپلو بغلو کې سرچپه ورکړي وو، په خپل لیکلي نوم یې نظر ولګېده، غلط لیکل شوی وو، له یوه بغله یې نرۍ قلمي ګوتې راوباسلې، نرۍ مسکا یې وکړه راته وې ویل : ناحید په غټه ح نه لیکل کېږي.

په وړه (ه ) ليکل کيږي...

زما پر ټنډه نرۍ خولې راماتې شوې ژر، ژر مې پر نوم کرښه کش کړه، د حلوای ح په ځای مې وړې په (عامه لجه، دوه سترگې) (هـ) ته نوم واړاو، هغې ته مې وويل: مکتب دې لوستی؟

اننگو ته نيږدې پر مخ رالوېدلي وېښتان يې ښکته پورته په حرکت راوستل او د سر په خوځېدو يې د هو ! ځواب راکړ.

ـ څومره دې لوستی؟

هغې نرۍ قلمي دوه گوتې سره جدا کړې وې ويل تر دولسمه .!

ـ اه تر دولسمه !!! نو ته د خوب گولی څه کوې ؟

د هغې په سترگو کې غمې، غمې اوښکې راغلې خو باڼه يې دومره گڼ او زورور وو چې ښکته يې پر رخسارونو نه راپرېښودې د اوږدو بڼو څوکو ته څاڅکي راورسېدل اه ... بيخي جالبه منظره جوړه شوه، د سترگو روښانه سپين تک سره شول، د وينې واړه رگونو پکې خپل مسيرونه څرگند کړل، د غمو سترگو کاسه کې اوښکې ډنډ شوې د بڼو ترڅوکو لاندې راځوړند د اوښکو څاڅکي داسې مالومېدل لکه روښانه ملغلرې يې چې پرې تړلې وي، له دې سره د شېدو پېروي رنگ ،درگو ،درگو بڼو د مخ قالب ته بل ډول ښکلا ورکړې وه، کاش ما ورته الفاظ درلودلی او هغه منظره مې په کليماتو کې درته ځايولی شوای.

زه ترې بيخي بې وسه يم، خلک وايي، د چا په سترگو کې د اوښکو بهېدا لامل مه گرځې، دا خو ملامته ندي سم قيامت جوړوي، ماته هم دغې منظرې ثابته کړه چې په حقيقي مانا د مظلوم د سترگو اوښکې څومره زورورې دي، څومره قوي او ځواکمن

زړونه لړزوي، د اخېروي زيان ترخنګ يې دنياوي تاوان هم خورا ډېر وي،د کتونکي فکر او په سينه کې زړه تيکه،تيکه کوي، زما هم همدا حال وو، هغې په خبرو پېل وکړ ژړا ته ورته خبرې يې په خپله موسيقي ته ورته حنجره پېل کړې .

وې ويل:

ـ د ولې پوښتنه مه کوه ؟

د کوم ټپ لپاره چې مرهم نه لرې هغه ټپ مه راسپړه !؟

کوم څه چې درمل نه لري، ولې يې ټپ را څرګندوې د هغه ناروغۍ لپاره هڅه مه کوه چې درملنه يې نشې کولی !!

ــ نو اخېر داسې څه شوي دي؟ هغې ښه ورې سترګې ښکته واچولې وې ويل:

ــ له سترګو مې خوب تښتېدلی، شپه او ورځ وېښه يم د دې خود غرضه او ځان غوښتونکې نړۍ له خلکو سره په جنګ يم.

غواړم په يوه ژور خوب وېده شم د دغو خلکو خبرې مې د غوږونو پردې په اهتزاز را نه ولي، سترګې مې د دوی په ظاهر کې پاکې خو په باطن کې د نړۍ تر ټولو چټلې څېرې ونه ګوري.

دغه د رواجي مسلمانانو غټې، غټې تش په نوم دعوې وا نه ورم، دغه د جاينماز په سر د خدای يادونکې او له جاينماز بهر جنايتکارو د تسپو ټکا او تش د بزرګي خبرې مې نيم ژوندی ذهن نور نارامه نه کړي.

ـ اه تاسې خو ډېرې فلسفي خبرې کوئ، ظاهراً خو تاسې ډېره ځواکمنه ښکاری او دا شکوې او دومره ګيلې اخېر ولې؟!

ـ پوهېږم ماته وایئ چې ولې دومره کمزورې شوې یې یانې شکایتونه کوې او شکایتونه خو د کمزورو خلکو کار دی، ځواکمن خلک شکایت نه کوي.

هغې پر تن د ښکلې ثلیقې کالیو جیب ته لاس کړ دسمال یې راوباسه، له سپینو موزونو لاسونو سره یې مخ ته وې وړ، د سترګو یوه او بله خوا یې له اوښکو پاکه کړه ژوره ساه یې واخیسته، بیا یې سترګې ښکته واچولې وې ویل:

زما ظاهري قیافه باندې مه تېروځه، اوس ورسره پخوانی ځواک نشته دا تش ډانچه ده، زما د زړه زور اوس اوبه شوی دی، په ژوند کې له داسې ټکه سرو (ربړو) سره مخ شوې یم چې زما ځواک زما، هوش، زما غیرت هر څه یې را تبا کړي دي .

ما به خلکو ته د همت سپارښتنې کولې، حوصلې ته به مې رابلل، د ژوند په وړاندې مبارزې مې ورته ښودلې، خو اوس خپله داسې شوې یم چې شکایتي ژوند لرم، او د ژوند دا پست ترین حالت تېروم.

ـ اخېر ولې؟

څه شوي چې د انساني نړۍ څخه داسې سترې یې او د خفګان لپاره دې پرې ژبه په حرکت راوستې ده؟

ـ دغې نړۍ ته هم، ته انساني نړۍ وایې؟ ستا په ګومان به دلته انسانان اوسي انسانیت کې خو ترحم، زړه سوی، خواخوږي نغښتې وي، ماخو په هېڅ چاکې هم دا ونه لېدل، ټول لکه وحشي درېنده، د خپل خودخواهۍ، هوس، او د خپلو ګټو اړیکې پالي .

زه له خپل ځایه پورته شوم راسره خواکې د پاکو اوبو بوتل ایښی وو هغه مې ورته ونیو ورته مې کړه لږ اوبه وڅکه، ارامه شه مه خفه کېږه.

د هغې ټنډه تروه شوه سترګې یې یو ځل بیا ډنډ شوې نرۍ طبعي سرې شونډې یې د خبرو لپاره په خوځښت راوستې؛ وې ویل:

کاش زما یوازې د خفګان موضوع وای،کاش یوازې مې دا ستونزه وای،کاش یوازې د ژوند په قیمت د زیان ستونزه وای ،کاش ما دا هر څه د ژوند په قیمار بېرته لاسته راوړلی شوای خو زما بدبختې ستونزه...

زما شکوه ټوله په معنویاتو ولاړه ده، هغه چې بیا جبران کېدل یې ناشوني دي د الماسو په خرڅې سره هم د هغوی جبران ممکن نه دی .

زما جګړه د معنویاتو وه، د عزت وه، د ابرو وه، خو ما دا جګړه وبایلله، دوی وګټله دوی بریالي شول او ما داسې ماتې وخوړه لکه د هټلر ماتې چې د جګړې له بایللو وروسته ورته د ځان وژنې پرته بله لار پاتې نه شوه، ماته هم د مرګ له پرېکړې بله لاره نه ده راپاتې شوې، زه نشم کولی داسې ژوند وکړم چې له ما څخه د جګړې ګټونکي په غرېدلو سترګو وګورم، زه نوره د ژوند په کولو نه ارزم، باید مړه شم .

ځکه ما ماتې خوړلې، داسې ماتې چې له ټولو ارزښتونو پکې خلاصه یم، داسې ماتې چې د ژوند کولو لپاره راسره کومه بهانه نه ده پاتې شوې .

ـ اخېر داسې شوي څه دي چې دومره سخته یې شکنجه کړې یې؟

او دردونه دې تر هغه برېده دي چې له ژونده یې زړه در تور کړی دی.!

ـ ایا تاسې زما د خبرو اورېدو لپاره غوږونه لرئ؟

ایا ما خو به بیا پر خپلو خبرو نه پښېمانه کوئ ؟

ایا زما له خبرو وروسته خو به مې د نورو په څېر په شخصیت ملنډې نه وهی؟ ایا د ملنډو وهلو لایقه خو به مې بیا نه ګڼې؟

ـ استغفرالله دا څه وایې؟

له خفگانه مې درته نور زره وچاوده زما په سینه کې تپېدونکی زړه له زړه سوی ډک ده، زه دې له ټولو ښه درک کوم، زه پوهېږم چې ستا په ژوند کې یو طوفان تېر شوی دی، زه به ولې درباندې ملنډې ووهم، زه به دې ولې پسخند کړم؛ او ځان به د دومره لوی ظلم مرتکب کړم؟

ـ ډېرو همداسې راته ویلي دي، خو اخېر کې یې ډمه خود غرضه، د نفس هوس پاله بللې یم، لاړې را توکړې دي.

لومړی یې زما له خبرو خوند اخېستی وروسته یې د بې حیایي په لوی تور محکومه کړې یم.

تر ټولو ځورونکی لفظ چې راته وېل شوی هغه دا دی چې ویل به یې څوک چې اوړه ونه خوري له خولې یې بوی نه ځي نو:...

که تا کې خارښت نه وای، هېڅ وخت هم د داسې ستونزو سره نه مخ کېدې د هغې د سترگو اوښکې څپانده شوې دا ځل اوښکې دومره زوروې وې چې د گڼو بڼو د مانعو برېدونو یې مات کړل له هغو هم واوښتې لکه باران د اوږدو بڼو له خالیگاو راوتې او پر رخسارونو باندې لکه مستې چینې راوبهېدې، وې ویل: دلته د ژمنې،پښتو،تعهد تش کلیمات پراته دي دا د پنځه زره کلن تاریخ هېواد وگړي هغه د تاریخ جوړونکي ندي، چې ویل او عمل به یې یو شان وو، دوی یوازې د تاریخ بیانونکي دي.

ـ نه داسې مه وايه تاسې په دې خبرو د هېواد ټولو وګړو ته توهين کوئ، ټول خلک داسې نه دي؛ چې ته پرې ګمان کوې، يا يې د هغو خلکو سره په انډول کې اچوې چې تاسې سره يې ناروا کړې ده !؟

هغې په خپل سپين دسمال رخسارونه کېکاږل خپلې بهيدلې اوښکې يې پاکې کړې وې ويل:

ته هم په حقه يې، ما احساساتي چلند وکړ، ما په خپلو خبرو کې تېرى وکړ، د هېواد ډېرى خلک ښه دي په لمن يې هغه د چا خبره لمونځ کېږي خو ځينې بيا پکې داسې هم شته چې د تاريخ په سپينو پاڼو تور داغ جوړوي،انسانيت افغانيت، اړيکې، زړه سوى،نارينتوب يې له خپلو ناولو پښو لاندې کړى وي، لکه وحشي ځناور ټول بربېدونه ماتوي، خو د خپل وړې نس او هوس مړول ورته لومړيتوب وي.

ـ الله اکبر ! تاسې پر ما د نورو خلکو ګمان مه کوئ زه يو ډاکټر يم، خداى ج په سينه کې له ترحم ډک زړه راکړى،پر ما د نورو خلکو ګمان مه کوه .

ـ پوهېږم د ژوند ټکسرو (ربړو) دومره څه راوښودل چې د سړي زوى او د وحشي زوى پکې اوس پېژنم خو اوس دغه پېژندګلوي هېڅ ګټه نه کوي، ځکه چې ډېر ناوخته شوى دى.

زما د ژوند دلته ډېرې شپې ندي پاتې، هيله مې ده چې زما له ژونده نورو ته داسې درس پاتې شي چې کم تر کمه هغوى خو وژغورل شي او زما په سرنوښت اخته نشي.

ـ نيمکړى سوال مه کوه ستاسې ژوند دې هم رب اوږد کړي او نور هېوادوال دې هم الله له داسې حالته وژغوري چې تاسې ورسره مخ شوي ياست.

ـ نورو ته دې خدای ج اوږد ژوند ورکړي د ښې روغتیا او عزت مند ژوند سره.

خو زما شپې او ورځې دې خدای ج رالنډې کړي،ځکه چې ژوند په ارزښتونو کېږي او هغه ارزښتونه چې د ژوند کولو لپاره بهانه جوړوي اوس له ماسره نشته .

ـ ګورئ! تاسې یې بده مه ګڼئ که تاسې د ژوند کولو لپاره کور نه لرئ یا هم د خوراک څکاک لپاره امکانات نلرئ ددغه کار زیمه واري زه په غاړه اخلم.

ـ تاسې غلط پوه شوي یاست،کاش همدا ستونزې مې د ژوند د کاروان لاروی وای، د خیرات په وچه ډوډۍ مې بسنه کوله، او د شنه اسمان لاندې اوسېدل مې په ویاړ سره ترسره کول.

ـ نو اخېر دې څه ؟

تاسې ولې کیسه اورېدوئ؟

ـ ته زما د ژوند د کیسې د اورېدو تاب لرې؟

ـ مجبور یم وایې ورم، ځکه زما هم ورته تلوسه ده، کېدای شي داسې ستونزه وي چې زموږ په مرسته حل شي نو خپل دریغ نه کوو، ستاسې کیسه به موږ ته هم له عبرته خالي نه وي.

ــ ښه نو غوږ شه ...

ـ کیسه دې اوږده ده وخت نیسي که لنډه ده !؟

ــ اوږده ده ډېر وخت نیسي ...

ـ نو بیا خو یې اورېدل ستونزمن وي

ـ ولې؟

ـ ځکه چې زموږ کلتور داسې دی چې که څوک د اوږ مهال لپاره یو ځای خور او ورور هم وګوري شک کوي او مسلمان باید له شک څخه ځان وژغوري.

ـ بلکل داسې خوده

ـ بله کومه حل لاره شته ؟

ـ هو شته

ـ نو څه وکړم ؟

کور کې کمپیوټر لرې ؟!

ـ هو !

ـ راته ریکارډ یې کړه.

ـ سمه ده، دا نظر مې هم خوښ شو، زه درته د خپل ژوند کیسه ریکارډ کوم او تاته یې په فلش (مالوماتو ذخیره) کې راوړم ته یې واوره.

ـ هغې زما د مېز له سره کوچنی نخسه واخیسته او د درملتون په بهانه زما د کتنځې څخه ووته، زه د نورو منتظرو ناروغانو په درملنه بوخت شوم.

یو ناروغ مې مخې ته کېناست غټ پنډ پیوازی ورسره وو، راته یې کړه زه د یوې میاشتې ماشوم لرم غواړم لرې کړم .؟!

ولې داسې کوې ؟

ـ وینه مې کمه ده کمزورې یم د بل اولاد وس او توان نه لرم که پاتې شي مرم.

ـ نو تاسې ولې د ستونزې په سر کې د ستونزې غم نه خورئ؟! اوس خو له ورخه اوبه تېرې دي.

ناروغ خپل دلیلونه ویل او ما خپل ورته تکرارول خو هغه قناعت نه کاو.

اخېر مې ورته د تقويې درمل وليکل چې هېڅ ډول زيان نلري نور مې يې له شره ځان خلاص کړ.

بل ناروغ مې خواکې کېناست خپل شکايت يې بيان کړ، خو ما يې يوه خبره هم نه وه اورېدلې ځکه چې د ناهيد خبرو او ستونزو مې ذهن سخت ځپلی وو.

د هغې راتلونکې کيسې مې په ذهن کې تلې راتلې...

کله به مې بدګماني پرې وکړه چې شايد دغه جلی به د يوې خيالي کيسې طراح وي او له دې لارې به غواړي د نورو پام ځان ته راواړوي،کله به مې د هغې له سترګو نه د اوښکو باران او معصومه څېره په ياد شوه نو بيا به مې د ځان سره وويل نه،نه ځوک داسې تمثيل نشي کولای د هغې خبرې په ټوله مانا له حقيقته ډکې دي.

تر ماښامه له ناروغانو سره بوخت وم، کله مې چې وروستی ناروغ خلاص کړ نو د کور په لور رهي شوم.

د شپې ډوډۍ خوند نه راکاو ځکه چې زما فکر ټول د هغې مظلومې د ژوند ناخوالو مصروف کړی وو .

د خپل خفګان ترڅنګ مې ذهن يوې لويې تلوسې مشغول ساتلی وو او بېړه مې درلوده چې پوه شم دغې ښاپېری ژوند څنګه داسې سور تنور دی او ولې داسې ورسره شوي؟

حقيقت څه دی؟

بس له همدې کشمکشونو پرته پکې نور څه نه ځاېدل .

په سبا کلينک ته راغلم، هره شېبه مې څارله چې ناهيد به راشي او ماته به د خپل ژوند کېسه وکړي.

تر ماښامه صرف زه او ناروغان وو چې په کلینک کې تر سترګو کېدو د ناهید څرک ونه لګېده.

د خپلې درونې تلوسې سره یو ځای کور ته لاړم.

سبا سحر خپل کلینک ته راغلم، زما د کتنځي په انتظار خونه کې یوه دنګه هسکه جلۍ د شنې چادرۍ لاندې پر څوکۍ ناسته وه او زما انتظار یې کاوو.

خوښ شوم چې ناهېد راغلې اوس به یې ماته خپله ټوله کیسه راوړې وي په اورېدو به یې لږ ارامه شمه که مې څه له وسه ورسره کېدل هم خپل مسولیت به د خدای او انساني همدردۍ له مخې ادا کړم کنه نو هر انسان پر خپل وس پړ ده، خپل کتنځي ته ننه وتم.

سپینه چپن مې پر تن کړه او پر چوکۍ کېناستو سره مې هغه مېرمن هم مخې ته ودرېده.

دستکول یې خلاص کړ ما فکر وکړ چې اوس به فلش ترې راوباسي خو هغې زما د تمې خلاف ډېرې نسخې راوباسلې وې ویل: ډاکټر صیب ځښته زیاته دوا مې خوړلې خو د ناروغۍ فرق مې نه کېږي پر نسخو مې چې نوم ته پام شو د بل کس نوم وو.

بیا مې خپل حواس تیت او فرق شول ځان سره مې وویل چې ستا ګمان رېښتیا وخوت هغې جلۍ کوم هدف درلود خو ځان یې پکې بریالی احساس نه کړ ځکه تری تمه شوه .

دغه ناروغ مې نورو طبي ازموينو لپاره لابراتوار ته وليږه او شک مې په يقين بدل شو چې هغې هسې يوه افسانوي کيسه وکړه د کومې ګټې وټې پلان يې درلوده او خپله هځه ورته دلته د پلي کېدو لپاره مناسبه ښکاره شوې نده او نوره نه راځي.

له دې سره سم مې دروازه وټکېده، زما د هو ويلو يې چې واورېده په عربي حجاب کې يوه دنګه ځوانه مېرمن راننه وتله له مخې يې ماسک لرې کړ مخ ته په کتو پوه شوم، چې هغه ده...، دردمنه ناهيد مې مخې ته ودرېده، هغه د تېر په څېر نه وه، لکه يو بل بنې ادم چې ګورې په ځان يې يو څه ګوتې وهلې وې،ګرد نوراني مخ يې جلوې کولې، تور حجاب او سپين جلد يو بل سره د مقابلې او ځلا ښودلو سيالي کوله، زه د خدای د يوه بنده د حسن په رڼاګانو کې د لار ورکي انسان په څېر د هغې په نندارہ وم.

هندوان زياتره غټې سترګي دي، همدا لامل ورته د کتو پلمه جوړوي، نور خو له اېمانه خالي دي، د څهرې نور ترې الوتی وي بيا يې هم يوه نيم ته سترګې وراوړي خو د ناهيد سترګې د اېمان له نوره ډکې وې هر خوځښت يې کانې کولې له نوراني مخ سره يې د سترګو او ګنو ښو حرکاتو د کتونکي زړه پرې کاوو.

تر ډېره يې ورته د لېدو تاب نه لاره .

کوچنی ګرده، خوله يې سره بېرته کړه، هځه يې کوله په مسکا کې خبرې وکړي له نرۍ کاغذي طبعي سرو شونډو يې مهين موزون غاښونه راووتل راته يې کړه لکه چې ډېر منتظر پاتې شوې؟

ـ هو والله ستا کېسې ډېر نارامه کړی وم!

ـ ايا پوښتی شم چې ستا نا راحتي لامل څه دی؟

ـ ځانګړی لامل نه لري

ـ هغه مسکی شوه د پاس او لاندې درګو، درګو بڼو فاصلې یې سره تنګې شوې ځېنې کاږه بانه له نورو وواته ذاتي نور مې ورته د لېدو تاب له توانه ووت .

راته یې کړه زه چې څه درته وایم پر هغو باور لرې؟

ـ اوس به له وخت مخکې وي وبه ګورم چې ستا په خبرو کې څومره حقیقت پروت دی د باور پوښتنه به دې له کیسې وروسته کړې، هغې سر وخوځاؤ د زړه په زور یې شکل مسکا ته برابر کړ بیا یې وویل:

ـ ته په حقه یې ډېر خلک د نورو د جلبولو او پر ځان د نورو د زړه سوي حس پېدا کولو لپاره سناریوګانې جوړوي خو زه د هغو له ډلې نه یم.

هغې په څنګ کې کوچنی بکسې ته لاس کړ او فلش یې راوویست راته یې کړه په خپل غږ مې درته خپله د ژوند کېسه ثبت کړې ته یې واوره ...

او هېله ده نن یې واورې زیات وخت پرې ونه باسې، ځکه ما سره ډېر وخت نشته، اخېر کې ما درته د خپل کور ادرس هم ویلی، د فون شماره مې هم ویلې، سبا ورځ به هلته راځې ددې کیسې پای به هلته په خپلو سترګو وګورې، هلته زه په خپله درته د کېسې پای کوم او د راتګ به قسمي ژمنه راسره کوې؟

ـ سمه ده حتماً یې نن اورم ټول ناروغان رخصت کوم او سبا ستاسې کور ته د درتلو ژمنه کوم،خو هسې نه چې هلته دې څوک راته کېنولي وي او په دې بهانه مې پرې برمته کړې بیا به بونګې (د برمته کولو پیسې) غواړې.

ـ هغه مسکی شوه سپین ځالانده غاښونو یې له سرو شونډو سره د هغې ښکلا یوه په دوه چنده کړه...

وې ویل : تاسې ډاکټران هم سخت ډارن خلک یاست، دومره په سختي خو هم پیسې نه ګټمئ، بس ناروغ ته ووایئ وتوخه واچوه پنځ سویز، همداسې نده ؟

خبر که لږ درنه غله ویسي څه پروا کوي؟

پوه شوم چې هغه ټوکه کوي ځان مې ورته بې ځوابه کړ.

لږ مکس مې وکړ، هغه بیا په خبرو راغله وې ویل: په هرحال شوخي مې وکړه، بښنه غواړم،اصلي خبره داده چې.:

د پیسو لالچیان هغه وي چې د اوږد ژوند تمه لري په هره بهانه روا او ناروا پیسې لاسته راوړي، زه خو نوره د ژوند تمه نه لرم، زما ژوند لکه د سپینې غر په اوږو بار وړم، زما سترپا او دمه به هغه وخت زما له تن څخه ووځي چې ژوند ته مې خاتمه ورکړم روح مې له تنه جدا شي او له برکته یې نوره د درد احساس ونه کړم .

ـ تاسې ولې داسې وایئ؟

ولې د مرګ خبرې کوئ؟

ایا مرګ د ستونزو حل لاره ده ؟

د کوم درد دوا ده ؟

ـ هو مرګ د هغو ناسور ټپونو د درد ارامولو تر ټولو ښه درمل دي چې نوره درملنه یې شتون نلري.

ـ ګورئ تاسې مایوسي اختیار کړې ده، او مایوسي د خدای ج عذاب وي تاسې که لویې ستونزې لرې خو دغو لویو ستونزو ته یوازې نه یاست د لویو ستونزو لپاره لوی خدای ج لرئ او هغه د هر څه لپاره کافي دی.

ـ بالکل خدای ج د هر څه لپاره کافي دی، خو چې دې چا سره مل وي، زه خدای ج هم پرېښې یم،که د خدای ج رحمت راسره وای نو دغه عذابونه به مې ولې تېرول؟!

له ځان سره مې وویل چې انجلی به هسې په پوښتنو،پوښتنو کفر ته باسم ځکه هغه په ځان نه پوهیږي چې څه وایي، نور یې له پوښتنو تېر شوم.

ورته مې کړه ته اوس لاړه شه، ستاسې کېسه زه په غور اورم سبا سهار ستا کور ته راځم نورې پوښتنې به راته هلته ځواب کړې.

ـ سمه ده خو که ژبې مې کار کاوو.

ـ مطلب؟

ـ هغې دستکول څنګ ته واچاو، په غور یې راته وکتل نرۍ ترخه مسکا یې وکړه وې ویل:

د هر څه په مطلب ځان مه پوه کوه ځینې خبرې کېږي کېږي نه حس کېږي.

هغه ووته او زه په یوه ژور فکر کې ډوب شوم ، ځان سره مې وویل په داسې جنجال واوښتم چې نه یې پرېښودلی شم او نه ور سره مخکې تللی شم.

یو ناروغ مې مخې ته کېناست خپل شکایت یې وویلې خو زما یې خبرو ته په داسې وخت کې پام شو چې هغه خپله د ناروغي ټوله ستونزه ویلې وه خو ما نه وه اورېدلې دوباره مې بیا پرې تکرار کړه، بیا هم زما سوچ د هغې جلی کېسې طرف ته لاړ او د ناروغ شکایت مې وانه ورېده.

جگ شوم ور مې خلاص کړ بېرون نور هم پنځه ناروغان راته ناست وو زما ذهن ددې جلی ژوند او د کېسې عمیق ته رسېدو لپاره دومره مصروف وو، چې نورې خبرې مې ذهن ته نه ننه وتې.

راسره ناست ناروغ ته مې خدای خبر څه ولیکل ځکه چې د ناروغۍ په کیسه یې سم نه وم پوه او د درېیم ځل لپاره مې ځان ته شرم گاڼه چې ترې وپوښتم .

بېرون ناروغانو ته مې نوره پلمه وکړه گارد مې راوغوښت ترڅو ناروغانو ته ووایي چې ډاکټر ته کوم بېړنی کار پېدا شو تاسې بله ورځ راشئ ...

هغه هم داسې وکړل کله چې دهلېز له ناروغانو خالي شو خپل استراحت خونې ته لاړم کمپیوټر مې خلاص کړ او فلش مې ورته داخل کړ.

د جلی غړیز فایل مې پیدا کړ، او پلې مې کړ ...

ناهید په خپلو خبرو پیل وکړ...

زه ماشومه وم او بیا پیغله شوم خو ما کومه ښه ورځ ونه لېده، تقدیر زما د نصیب کرښې د یوې بدمرغې جلۍ په بڼه لیکلې دي.

زه د مور او پلار یوه لور یم چې نه ورور لرم او نه بله خور لرم د یوه بې مسولیته پلار سره ژوند کوم.

هغه د نورو لپاره بې تفاوته حس لري خو کوم شي کې یې چې خپله گټه وي او دی پرې راحته کېږي، نو بیا زما په سر که کومه سودا وي هم باک نه پرې راوړي.

هغه دومره بې تفاوته دی چې کله،کله زه د ده کړنو ته وگورم نو په کورنۍ رېشتو بې باوره شم ،پلار ،ورور،خور او....

زما ژوند هغه وخت د بربادۍ پرګړنګ ودرېده چې مور مې رانه وکوچېده او له خپلې ارام بښونکې غېږې یې بې برخې شوم.

هغه سرطان وه، د سږو سرطان یې درلوده، خو موږ هغه وخت پرې پوه شو چې ډېر ناوخته شوی وو.

د هغې د سږو سرطان ځګر او سینو ته لېږد کړی وو .

یوه ورځ مې د مکتب جامې واغوستې بوټان مې رنګ کړل د هغې مخې ته ودرېدم ښه راته مالومه شوه، اجازه مې ترې وغوښته چې لاړه شم، ښکته او پورته یې راته وکتل دغو کتلو یې له پخوا ډېر توپیر درلوده ځان سره یې ورو نام خدا وویل، راته یې کړه لورې مکتب ته لاړه شه خو له ځان سره ډېر پام کوه، ته اوس پېغله شوې یې، ته له نورو ډېر توپیر لرې، د لارې د ورو لېوانو سختې سترګې در اوړي، ته اوس ماشومه نه یې اوس دې د ځوانۍ پړاو پیل شوی دی ،...

ما ورته وخندل ورته مې کړه زه له نورو څه توپیر لرم، زه هم دوه سترګې لرم هغه هم زه هم دوه غوږونه لرم هغه یې هم لري، زما هم یو مخ دی، نور هم یو مخ لري!؟

ـ نه لورې، پر تا د خدای ج لورینې ډېرې دي، دا سمه ده چې ته هم دوه سترګې لرې نورې پیغلې یې هم لري، خو ستا پیالې سترګې له نورو سره هېڅ وخت هم د توپیر وړ ندي، ته یوسف مخې څرنګه د نورو سره ځان مساوي کوې، دغه نړۍ د ښکلا لېوني ډېر کم لري،کوم چې د ښکلا په ارزښت پوهېږي، دلته ټول د هوس لېوني دي د هوس لېوني بیا د ښکلا خاوندان، سخت ازیت کوي، د هغوی قدر او درناوي صرف د خپل هوس لپاره وي،او کله چې څوک د دوی د هوس نانځکه جوړه نشي او بغاوت کوي نو بیا یې له یاده ووځي، چې زما په وړاندې څوک دی او زه

ورسره څه کوم، دوی دومره وحشي دي چې له انسانیته د سړي زړه توروي.، ځکه خو په ځان پام کوه کنه خپلې شېدې نه دربښم.

مور مې ماته د گواښونو د وېرې له امله په ژړا شوه په پلو يې له خپلو سترگو اوښکې پاکې کړې بيا يې وويل:

يا خو ښه په ورونو کې پټه وای، چې پام يې درباندې کولی يا هم خدای ج درباندې د دومره ښکلا لورینه نه وای کړې.

ـ مورې زه کله ښکلې يم، ته اصلاً ماته د مورتوب په سترگه گورې، هره لور مور ته ښکلې ښکاري کنه نور حقيقت بل ډول دی.

ـ نه لورې داسې مه وايه ،حقيقت دا دی، چې ته د الماسو غمی يې...

ما يې په خبره وخندل او له ځان سره مې وويل کاش هر چا د نورو په وړاندې د مور په څېر نظر لرلی، څوک چې په خپل اولاد کې يوازې د ښو صفتونو لپاره سترگې غړوي، هغې زما د صفت بلا کلمې تکرار کړې، خو زما د ځان صفت نه خوښيږي ځکه زه هم دلته ترې تېرېږم،خدای پا امانې مې ترې واخيسته او دا مې هم ورته وويل که دې ځان ناسم احساسوې، نو بيا نه ځم؟..

هغې راته وويل لورې نن دې د دولسم صنف اخېري ازموينه دی زه ښه يم که ته نن لاړه نشې نو بيا د اول نمرگې څخه غورځې .!

ما ورته کړه : چې پاچا هم شم خو چې ته نارامه وې په سختۍ کې وې ماته به بې ارزښته وي،که په رېښتيا ښه نه وې بيا نه ځم ؟!

خو هغې زما ازموينې ته لومړيتوب ورکړی وو او ماته يې د ځان د ښه توب ډاډ راکاوو، د تلو اسرار يې وکړو زه هم د ازموينې لپاره د مکتب په لور رهې شوم.

مکتب له موږ کافي لرې وو، لاړم د ازموینې صحنې ته د ننوتو مخکې یې ټلیفون رانه کېښوده، ډېرې زارۍ مې ورته وکړې چې مور مې ناروغه ده، ټلیفون راسره پرېږدئ خو هغوئ د پلمې گمان کاوو، د نقل وسیله یې گڼله، زما زارۍ یې نه اورېدې فون یې رانه واخیست .

زما بدبختي دا وه چې مور مې زما ازموینې ته د داخېلدو سره سم وضعیت خراب شوی وو، بې چاره ماته فون کړی، خو زما فون بند وو، پلار مې هم چېرې په یوه مارکېټ کې په پنځه زره افغانۍ چوکېدار وو، هغه هم په کور کې نه وو.

څه زغم یې کړی وو خو چې حالت یې ښه خراب شوی و، نو د څنگ گاونډي ته یې خبر ورکړی هغوی په داسې حالت کې روغتون ته وړې وه چې په خپل حالت کې نه وه بې هوښه وه.

زما ازموینه خلاصه شوه ملگرې ټولگي والې یو بل ته ورله غاړې کېدې خو ما مې جسم په مکتب خو زړه مې کور کې د مور سره وو موبایل مې چوکېدار ته له ډېرې بېړې له یاده وتلی وو راساً کور ته راغلم...

له دروازې چې کور ته د ننه شوم کور کې چوپه چوپتیا وه د مور خوږ غږ مې وکړ هېڅ چا ځواب رانه کړ، د مور کوټې ته لاړم د هغې ځای او روجایي گډ وډ پراته وو کمپله یې یوې څنډې ته نامنظمه ټوله شوې وه.

تشناب ته مې منډه واخېسته هلته هم څوک نه وو، د گاونډي دروازه مې ورو ټکوله د هغوی یوه زړه مشره مېرمن راووته زما له پوښتنې مخکې یې خوله راباندې راپرې کړه وې ویل ډمې، کچنی،د مکتب دې بلا در په سر شي مور دې د مرگ په حال کې پرېښې وه او تا په مکتب کې خپل ساعت تېري کول .

ورته مې کړه زه ددې ټولو خبرو لایقه یم خو د خدای د پاره په مور مې څه شوي؟

او مور مې چیرې دی ؟

ځواب یې راکړ روغتون کې دی ...

ددغې مېرمنې د مشر زوی دوکان زموږ د کوڅې په سرکې وو راته یې کړه دې تا له زیږولو دې چې مور د تشناب عدت کړی وای ښه به وه، ته خو د هېڅ کوم درد دوا نه شوې خبرو ته یې دوام ورکړ دوه ساعته کېږي چې ستا له امله زما د زوی دوکان قلف دی.

ته د مکتب هوسناکې،په خپلو خوښیو پسې وتلې وې او ادې دې د مرگ په کومې کې په کور کې پرېښې وه .!!

ـ مورې د خدای ج لپاره نور پېغورونه بیا بل وخت راکړه ژمنه کوم همداسې به درته چوپ پاتې وم خو اوس یوازې دا راته ووایه چې هغه کوم روغتون کې ده .؟!

ـ ابن سینا روغتون کې، مخ ته یې لاړې راتو کړې نوره یې خپله دروازه په کړس راپسې رابنده کړه، ما مې دوه خپلې دوه پردۍ کړې سړک ته مې ځان وباسه او روغتون ته مې ځان ورساوو.

د تېز تگ سره سخته ستړې شوم،گرمي هم خپل زور ازمایه، د چادري دننه مې له مخ او غاړې خولې پاکولې، تندې ښه پسې واخیستم اوبه وې خو ما د خپلې مور د روغتیا لپاره الله ج ته روژه نیولې وه څکلی مې نه شوې .

ماته مې مور له معنویاتو پرته څکه مهمه وه چې بس د ژوند دا یو خواخوږې راپاتې وه، زما د مور سره د مینې کیسې له مئینانو کمې ندي مور راته د نورو ښکلو ترڅنگ په دې هم ارزښتمنه وه چې نور مې نه په اسمان ستوری درلوده او نه په ځمکه

ښوری، تره زامن مې له پمن سپیو ډېر وو، خو زموږ له مېراتې وروسته د هر یوه په ذهن کې د ناوې جوړېدو مېراثې لانځکه ګڼل کېدم.

پلار مې د خدای مل شي بس چې چېرته یې ښه وه هلته یې شپه وه، مور مې ورته مهمه نه وه ځکه نور اولاد یې ورته نه زیږاوه .

تل به یې زما مور ملامته وله چې ته شنډه یې په تا خو هغه د بېدیا سپی هم ښه ده کال کې پنځه کونږري راوړي،حال دا چې په اصل کې مې ناروغۍ په پلار کې وه د اولاد راوړلو لامل هغه وو،ځکه تخم یې کم وو.

روغتون ته ورسېدم او په واټونو کې لکه لېونۍ یوې او بلې خواته مې په دهلېزونو کې سترګې ټومبلې وې.

لرې مې زموږ د کوځې په دوکاندار سترګې ولګېدې هغه بې چاره لاس تر زنې یوه دېوال ته تکیه کړې وه مخې ته یې ودرېدم، ورته مې کړه، مور مې چېرې ده له هغه مې هم تمه وه چې ښې ډېرې کنځاوې راته وکړي او ومې رټي خو د مور نس هم وایی بوخځې، بوخځې وي، د یوې کورنۍ ټول غړي په یو رقم نه وي هغه زه درک کولم پوهېده چې زه هم دا یوه هېله لرم او قصدي مې کور کې یوازې نده پرېښې په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې وې ویل وارخطا نشې مور به دې ښه شي اوس عملیات خونه کې ده .

په دې وخت کې د عملیات خونې څخه په وارخطایي سره دوه نرسان او یوه ډاکټر را ووتل، ډاکتر دوکاندار ته وویل:

ژر کړئ وینه پیدا کړې هغه دوه نرسان زما خواکې ودرېدل، نه پوهېدل چې زه هم ددې ناروغ څه کېږم یوه بل ته یې په غوږ کې وویل چې که د رګونو متخصص ورته

ژر راونه رسېږي، ښځه مري جراح يې په غلطي کې لوی رګ وواهه ما شک واخېست ورته مې کړه د څه شي رګ؟

د چا او کوم ناروغ؟

ــ هسې ،هسې....نرس خوله وتپوله وارخطا له خپله ځايه په تېښته شو په تلو کې مې د شاه لخوا د جراحۍ له کاليو ونيو ورته مې کړه عمليات خونه کې زما مور ده که څه پرې وشي نو دا روغتون دربانديې په بل مخ اړوم،کوم جک مو چې وهلی جبران يې کړئ کنه په بندخونه کې به مو وراسته کړم .

هغه په زوره خپل کالي زما له لاسه وښکل او په منډه د رګونو جراح خونې ته لاړ، زه دې دهلېز دېواله خواکې کېناستم خوله مې نوره پسې وچه شوه د درېدو شېمه راکې ختمه شوه، په عمليات خونه کې د مور مرګوني حالت مې سترګو ته ودرېده يو کاريګر مې له ځنګه تېرېده د ټلېفون سوال مې ترې وکړ، هغه ژر له جيبه راوباسه، پلار ته مې له پردي ټلېفون زنګ وکړ زما ټلېفون د ازموينې پر مهال د مکتب ګارد سره پاتې وو پلار مې ټلېفون وانه خيست .

زموږ ټولنه کې د وينې له ورکړې خلک سخته وېره لري فکر کوي چې وينې ورکړه يې وژني، حال دا چې په شپږ مېاشتو کې وينه ورکول هېڅ زيان نلري، ما په يوه معتبر طبي کتاب کې دا خبره لوستې وه، ماسره کمک کونکي ګاونډي دوکاندار هم دغه حال وو، د وينې له ورکړې ډارېده،فکر يې وکړ چې که موږ د مور لپار وينه ترې وغواړو نو په زيان به يې تمامه شي، هغه مې مخې ته ودرېده او په عذر يې وويل که اجازه راکړې نو زه به لاړ شم دوکان مې څو ساعته کېږي چې قلف دی.

پوهېدم د وينې له ورکړې وډار شو، هغه بې چاره ته مې هم د تلو وويل او د تکليف ګاللو مننه مې ترې وکړه، د تره زامن مې ياد ته راغلل چې زنګ ورته وکړم، خو د هغوی ګګو نيتو مې بېرته زړه مات کړ،ځکه چې هغوی راته له مخکې په زړه کې ګوړې ماتولې او فکر يې کاوو چې خپل ځان ته مې مينځه کړي ځکه زه بې ځوکه وم او زما د پوښتنې کولو له کسه ډاډه وو چې نه يې لرم، د ټليفون جرئت مې ورته ونشو کړای، ناڅاپه مې د مور ژوند ګواښونکی حالت مخې ته شو، ځان سره مې وويل که هغه مړه شي زه به څه کوم؟

د عمليات خونې پر بستر د هغې معصومه او له ګواښه ډکه څېره مې سترګو ته شوه ځان سره مې وويل هغه به څومره په تکليف کې وي، هڅه مې وکړه دغه دروند غم وزغمم، خو ډېره يوازې وم، انسان هم کله، کله دومره کمزوری شي چې چغې ترې ووځي، زما هم دغه حال وو، په دهلېزونو کې د ناروغانو پېوازانو او ناروغانو ټولو پام زما بې دريغه چغو ته راواوښت، خو زمانه بدله شوې ده، هر سړي يوازې ننداره کوله چا مې په سر لاس کېنه ښوده او د ستونزې، د پوښتنې او ډاډ خبرو ته چا وخت نه لاره، بس صرف تماشه يې کوله .

لږ شېبه وروسته يو دنګ سپين پوسته ځوان چې جراحي کالي يې پر تن وو له هغه نرس سره عمليات خونې ته په بېړه ننه وته، زړه مې لږ ډاډه شو چې ګوندې هغه د رګونو متخصص وي او زما د مور وينه به بنده کړي، د عمليات په مرسته به وژغورل شي، لږ را ښه شوم خو خوله مې دومره وچه وه چې د ژبې د اوښتو چانس پکې کم وو، داسې مې هم نشو ويلی چې کاش نن مې روژه نه وای نېولې ځکه چې ما د مور د مقدس نوم د ژوندی ساتلو لپاره پرې الله ج ته وسېله جوړوله .

د بستر ناروغ یو پیوازی مې له مخې تېر شو، خپل ناروغ ته یې په خلطه کې مېوه او څو بوتله اوبه اچولې وې ورته مې کړه ورورہ یو بوتل اوبه خو راکړه غوښتل مې لړ یې په خوله ورغړوم او مخته یې واچوم.

ځواب یې راکړ، بېرون ووځه هلته کانتین شته، مخ یې رانه واړاؤ، نوره یې ماته شاه کړه او روان شو .

خو زما ژبې کار نه کاوو چې ورته ویلي مې وای د مور د عملیات خونې دروازې ته ملنګه ناسته یم او چېرې ترې نشم تللی،ګوندې په دې خبره یې لږ په زړه کې ترحم پیدا شوی وای.

زه فکر نه کوم چې هغه به دا کار د کنجوسي له امله کړی وي بلکې زما سوال ته یې په سطحي ډول نظر وکړ.

ځکه خو وایم کله کله چې له تاسې څوک سوال کوي نو شاید سوال یې ستاسې په فکر کوچنی وي، نو مه یې رټی او پر مخ یې مه وهی ځکه چې ممکن ستا دغه کوچني څه ته د هغوی د الماسو په قیمت اړتیا وي.

د عملیات خونې پر سر سره، زېړه او شنه اشاره لګول شوې وه خو سره اشاره بله او خاموشه کېده، نوره نه پوهېدم خو سرې اشارې سره زما زړه هم مړ او ژوندی کېده، یو نرس راووت وې ویل، د روقیه پیوازی څوک دی زه ور مخې ته شوم، ما ویل زه یم وې ویل څه وینه مو له بانګه راوړه خو وینه زیاته روانه ده هغه کفایت نه کوي، زر سي سي مثبت A وینې ته اړتیا ده...

ما ورته کړه زما مور ده او وینه یې ماسره برابره ده له مایي وباسئ وې ویل:

یو بل کس هم پیدا کړه ...

ـ بل کس ته اړتیا نشته، ټوله له ما وباسئ

ـ نه یو انسان له پنځه سوه سي سي زیاته وینه نشي ورکولی

ـ زه یې ورکولی شم، تاسې د یوې لور مینه نده لېدلې؟ ځکه داسې وایې، له ما تر هغه وینه وباسی څو چې په هوش کې یم او تر هغه دوام ورکړی چې ضعف مې نه وي کړی.

ـ تاسې ولې داسې سرزوري کوئ؟

د کورنۍ بل غړی نه لرئ، هغوئ راخبر کړئ .؟!

ـ که مې لرلی بیا مې دومره بوچ په ځان نه راوست، ځان راته گران دی خو مور مې راته له ځانه هم گرانه ده،

ـ ولې پلار دې چېرې دی؟

پلار مې شته خو هغه هم په نشت حساب ده؟

نرس سر وښوراؤ، نور سوال ورته په ذهن کې رانه غی چې ویې کړي، د وینې بانک ته لاړو لا مې پنځه سوه سي سي وینه نه وه ورکړې چې سترگې مې راباندې تورې شوې د چت پکه تاوېده چې ورو، ورو یې پرې زما له سترگو لرې کېدې یو وخت ؤ چې په مخ مې د یخو اوبو څاڅکي حس کړل، چا راباندې یخې اوبه واچولې او بېرته مې سترگو دید پیدا کړ.

کڅوړې ته مې وکتل، ډکه شوې وه نرسې ته مې وویل دغه په منده منډه وروړی مانه بله کڅوړه ډکه کړه.

هغې راته کړه ولې ځان دې له غاړې ده، ځان وژنې؟

ـ خبر دی زه دې هم مړه شم خو چې مور مې وژغورل شي.

ـ نه نوره وینه درنه نشو کښلی، موږ هم مسولیت لرو، زما ګروف هم A مثبت دی پنځه سوه وینه زه ورکوم.

په دې وخت کې یو بل نرس راغی وې ویل همدا پنځه سوه سي سي وینه بس ده پنځه سوه سي سي وینه عملیات خونه کې ډاکتر چنار په داسې حالت کې ورکړه چې هم یې عملیات کاوو او هم یې د ښې له رګ نه وینه ورته په کڅوړه کې جمعه کوله، هغه ډېر نادر نادر کارونه کوي، ان شاءالله ناروغ لوی رګ ډاکتر چنار خوله په خوله کړاو ویې ګانډه، د ډېرې وینې مخنیوئ یې وکړ که هغه پر وخت نه وای رارسېدلی نو د ناروغ مرګ کې شک نه وو.

ما کې لږ ساه راوچلېده او چې پورته شوم سر مې راباندې وګرځېده، تېلبه، تېلبه شوم خو په دېواله مې ځان تکیا کړ دست شوی ته ودرېدم مخته مې لږ اوبه واچولې، یو بل ځوان هم وینې ورکولو ته د خپل ناروغ لپاره په بستر پروت وو، پیوازې یې د میوې جوسونه ورته په لاس کې نېولي وو ماته یې پام شو رانېږدې شو وې ویل:

تا خو وینه ورکړه څوک نلرې چې درته څه مایعات راوړي؟

جوسونه یې راته په ګوتو کې ونېول وې ویل دا واخله زه به مې ناروغ ته نور راوړم.

ورته مې کړه زه یې نشم څکلی خپل ناروغ ته یې ورکړه هغه ورته ضرورت لري

ــ ولې؟

ـ زه روژه یم

ـ روژه خو یوه میاشت مخکې تېره شوې ده

ـ بس دغه روژه هم ماته له هغې کمه نده

بېرته لاړم او د عملیات خونې د دروازې مخکې ته لکه یتیمه کېناستم.

اه یوازېتوب ډېر سخت وي، ما به کله کله په سندرو کې د یوازېتوب فریادونه اورېدل خو زړه ته مې نه لوېده چې دومره به سخت وي، دلته یې راته زور مالوم شو، پرته له خدایه ج نور هر ژوندی سری یو د بل مرستې ته اړتیا لري .

مازدیګر ته نېږدې وخت شو زما سترګې د عملیات خونې د سرې اشارې سره ټومبلې وې، سره اشاره په زېړه بیا به شنه بدله شوه، زما زړه هم رڼا شو او لنډ مهال وروسته مې مور پر خوځنده بستر کې کاریګرو راوباسله او ګڼ ډاکټران او نرسان هم ورسره راووتل.

خپل منځ کې یې د ډاکټر چنار صفتونه په خوله وو یوه بل ته ویل که هغه په وخت نه وای رارسېدلی نو په زړه مورکۍ د والله اوس زنې ترلې وای، ډېر تکړه جراح دی جالبه خو دا وه چې هم یې عملیات مخته بوو او هم یې د وینې کڅوړې لپاره ستن د پښې په رګ کې بنده کړې وه، چې ناروغ ته یې هدیه کړي حېران یو چې څنګه چپه نشو څرنګه یې ضعف ونه کړ، بل خبره ورغوڅه کړه وې ویل، ولې د عملیات اخېر کې نېږدې وو چې پر ځمکه رالوېدلی وای هغه نن د ځان پروا ونه کړه خو د ناروغ ژوند یې د الله ج په مرسته وژغوره .

ما دا هر څه واورېدل او د ډاکټر چنار لپاره مې زړه او ژبې دوعاوې کولې، د هغه دلېدو هېله را سره پیدا شوه.

مور مو بېړنۍ خونې ته وې وړه او چې کله ډاډه شوم چې هغه نوره له خطره ووتله، نو بېرون راووتلم ما تل چادري په سر وله ځکه یو خو زموږ د کلتور یوه برخه ده بل په لوڅ مخ به په بلا جنجالونو اوښتم.

یوه نرسه مې مخ کې تېره شوه راو مې دروله ورته مې کړه .

ډاکټر چنار پېژنې ؟

ـ هو پېژنم يې، هغه ځوان ډاکټر چې نوی يې دنده اخېستې ده

ـ زه يې په اړه مالومات نلرم خو غواړم يو ځل يې وګورم

ـ هغه د زړه او رګونو جراح متخصص دی لنډ وخت کې يې لوی نوم وکړ هغه مخامخ يې دفتر دی اوس تازه له عملياته راووت خو ډېر ستړی ښکارېده، که ډېره اړينه نه وي بل وخت ورسره وګوره، سندړلو يې ټکا پيل کړه نوره په خپل کار پسې لاړه ما د هغې خبره وانه ورېده.

پرته له ځنډه ور روانه شوم په لاره مې په دې فکر کاوو چې څرنګه ښکلي الفاظ ورته د مننې لپاره پيدا کړم او زما د مور د ژغورلو خوښي ورته څرګندې کړم.

په همدې چورتونو کې وم د دروازې ټک، ټک ته مې هېڅ پام نشو دروازه مې خلاصه کړه، زما دې بدقسمتۍ ته وګوره سم زه ورننه وتم او سم هغه د جراحۍ کالي بدلول، خو د شکر ځای دا وو چې لا يې لستوڼي له لاسه نه وو وتلي چې په ما کې يې سترګې ونښتې زما زړه په ډوبيو شو، د هغه له څېرې هم مالومېده چې له ما ډېر وارخطا دی.

بېرته يې لستوڼی سم کړ مخکې له دې چې زه ورته خبرې وکړم خبرو ته يې پرېنه ښودم، پر ما يې خوله راپرې کړه وې ويل:

بې حيا !

ډمې!

مور او پلار لرې ؟

که چېرته په ډېرانه پيدا شوې يې!

ایا د تربیې او ادب په نوم څه پېژنې؟

او هو ،ته چېرته لویه شوې یې؟

دهاتي یې که څه بلا؟

سړی خو دروازه وټکوي!

زه سخته ترې وم، له تندې مې یو رب خبر وو، خو هغه په دغه غوصه کې هم ډېر ښه ښکارېده او خبرې یې بدې نه راباندې لګېدې ځکه چې ما مې خپله ګرمه محسوس کوله.

هغه له ډېره قهر دوه ګامه مخکې راغی پوه شوم چې وهي مې او زه له وهولو ډېره ډارېدم ځکه ما په ژوند له چانه وهل نه و خوړلي.

له همدې وېرې نوره په ځان پوه نشوم هغه چې وینه مې ورکوله هغسې مې سترګې تورې شوې سر راباندې وګرځېده د نیم ژوندي بني ادم په څېر لکه چې خوب ګورم، کله مې چې سر لوړی د څوکۍ د اوسپنې بیا ځمکې په سېمټو باندې ولګېده نو نوره مې د چاپېریال سره اړیکه پرې شوه.

یو وخت مې سترګې وغړولې ګورم دوه نرسانې مې خواکې ناستې دي سېروم یې راته چلان کړی دی چادري مې هم په خواکې پرته ده لوڅ مخ د بېړني واټ په اوږده خونه کې پر یوه بستر اوږده غځېدلې یم، ډېره وشرمېدم، خپل پړوني ته مې لاس کړ چې له سره مې لوېدلی نه وي، لاس مې په سپین ململ ولګېده چې زما له سره یې تاؤ، درې متري کې بل کټ د ناروغانو لپاره ځای پر ځای شوی وو ډاکټر چنار پر هغه کټ لاس تر زنې ناست وو پر مخ یې څو ځایه اوښکې راروانې وې، زما د

سترګو په غړولو سره اوچت راجګ شو نري بريتونه يې د شونډو پاسنی برخه توره کړې وه .

ما د سترګو د خلاصېدو توان بيا له لاسه ورکړ سترګې راباندې پټې شوې خو زړه کې بيداره وم غوړو مې هم اورېدل کول، هغه په ژړغوني غږ نورو نرسانو ته لګيا شو.

زه به مې نن ځان هېڅکله هم ونه بښم زما له امله يو انسان تر داسې حالته ورسېده کاشکې ما غوسه کنټرول کړې وای ،کاشکې زه دداسې يوې ګنا مرتکب شوی نه وای .

يوې نرسې ته يې وويل ته يې وګوره !.

لکه  د هند مادهوري، شاهانه څهره لري، ما ولې د هغې سره داسې بې پروايي وکړه، له ثليقې يې مالومېږي لکه چې د يوې درنې کورنۍ ښځه دی،اه خدايه ما څه،څه ورته ونه ويل؟

کاش يو ځل خو ما خبرو ته پرېښې وای چې دې څه ويل!

نرسې ورته وويل ډاکټر چنار پر ځان ډېر فشار مه راوړئ، تاسې هم ملامته نه وی له يوه درانه عملياته ستړی راغلې، ذهن مو مسترح نه وو، نو په داسې حالت کې سړی نه پوهېږي څه وای.

ـ نا ما ځان ته په دې قهر راځي چې ما ولې داسې بې ادبه کليمات ورته وکارول هغه چې په ژوند مې نه وو کارولي، هغه بې چاره دومره پرې ډېره ازيت شوه، ان شاک ته لاړه، هغې يوه بې ادبي وکړه او ما سل ځله له هغې بدتره تکرار کړه موږ افغانان تل نور ګرموو،او ځان ته مو پام نه وي، بل به يوه عادي ګنا کړې وي بد به

یې ایسوو خو له نورو پټې او موږ ته ښکاره د ګناهونو پیټې به وړی نشو هغه به بیا نه راته مالومېږي.

نرسې یې خبرې ورپرې کړې ورته یې کړه اوس خو څه مړه شوې نه ده ژوندی ده سر یې دوه درې کوکه وخوړل نوره حالت یې سم دی نو ...

ته اندېښنه مه کوه، ډاکټر چنار د هغې په خبرو لږ ډاډه شو له خپل ځایه پاڅېده او نرسې ته یې وویل:

دغه درې زره افغانۍ واخله او د ناروغې پېوازې ته یې ورکړه هغې څواب ورکړ دا بې چاره پېوازی نلري.

ـ ولې؟

ـ خو تر اوسه یې څه څرک نه لګېږي، موبایل هم ورسه نشته چې کورنۍ ته یې زنګ وکړو.

ـ خه خپله چې راپه هوش شي ور یې کړه که درملو یا بل کوم څه ته یې اړتیا وي په دې پیسو دې واخلي.

خو که په دغه ناروغ څه کېدل نیمه شپه هم راته زنګ وکړه زه ځان رارسوم.

ډاکټر ډېر زړه سوانده راته ښکاره شو خو زما هم ضدي طبیعت وو زړه کې مې وویل چې اوس خو درسره د خبرو تاب نه لرم، خو که بل ځل درسره مخ شوم نو خپل غچ درنه اخلم یوه خاطره دې په ذهن کې پرېږدم، چې درته یو درس شي او بیا هېڅ وخت له بل چا سره داسې بې پروایي ونه کړې، هغه لاړه او لږ وروسته مې سترګې وغړېدې، را په خود شوم خبرو کولو جوګه شوم بېړنۍ خونه کې مې پر ناروغانو نظر

واچاؤ مور مې ولېده چې په يو بستر پرته ده او نرسه پرې سېروم څوړندوي، ژر وروپورته شوم چادري مې راواخيسته، مخې ته يې ودرېدم غږ مې پرې وکړ …

ـ مورجانې څنګه يې ؟

نېمه لوڅې سترګې يې راکې ونېولې ورته مې کړه ته اوس ښه يې؟

هغې ډېر په ستونزه سر وخوځاؤ د هو په دود يې ډاډ راکړ خو چې زما سرته يې پام شو، نېمه لوڅې سترګې يې بشپړې خلاصې شوې په بنده بنده ژبه يې وويل :

سر دې ولې ؟

ورته مې کړه هسې مورې خوږيږي ومې تاړه.

ـ نو تاخو په بنداج (جراحۍ پټۍ ) تړلی؟

ـ هو نو ته هم رانه لرې وې چې جيب ته مې د لاس کړی وای او هغه څېره (ريتاړه) چې زما د سرخوږي لپاره به دې په جيب کې راته ساتلې وه هغه مې راباسلې وای مجبوره شوم په بنداج مې و تاړه.

د مور د بې هوشي ګنګسيت له بدنه لا سم نه و وتلی، کنه زما په لږ خوږېدو به دومره دردېده، لکه څارنوال يوه اونۍ به يې تحقيقات نه ختمېدل، نوره دا هم په پلټنو پسې ونه ګرځېده.

شپه تېره شوه، ناروغو ته يو، يو د کورنۍ ستيڼۍ پېوازی راته او بل به رخصت کېده خو زما دغه تمه پرې وه، د مور د کټ خواکې ناسته ؤم چادري کې مې ډېر زړه تنګ شوی وو هغه مې د مور د کټ پښنو خواکې کېښوده ماسک مې راواخيست وا مې چاو، د سر پټۍ مې په ټېکري کې پټه کړه مور مې سترګې راکې خښې کړې، له

ښه کتو وروسته یې راته وویل، لورې چادري دې ولې لرې کړه، په دغو پیالو سترګو او اوږدو ښو کې دې خداېزده ځوک په کراره پرېږدي مزاحمت به درته کوی ببرته یې د بیا په سرولو لپاره پورته شوم .

سره ددې چې چادري کې مسلسل د څلوروېشت ساعتو په اوږدو کې ډېره پاتې شوې ومه او ښه پکې سترې ومه خو ما بیا هم د هغې خبره ومنله او پوهېدم چې خپله ښکلا راپورې اور دی د ډېرو وګو سترګو له سپین سترګي ځورېدم.

نارینه دې هم خدای ج لرې چې انجونې یوازې وګوري او بیا لږ سترګې هم وراوړي نو ټیټ او هسک کېدل خو بیا دوی ته پرېږده، ټول نه یادوم یو نیم سترګ وګې مې مطلب وي .

چادري مې راواخیسته په سر کولو لپاره یې ودرېدم چې پر تن مې راخپره کړه او کېناستم ډاکټر چنار مې له لرې ولېده چې د بیړنۍ خونې په دروازه راننه وته زما بېګاني تش چپرګټ ته ودرېده دنګه ونه موزونه باډۍ او پر ټنډه یې تاو شوي وېښتانو د جذابیت احساس لېدونکو ته ورکاوو چپ لاس کې یې له مېوې او جوسونو ډکه خلطه نېولې وه، یوې او بلې خواته لکه لار ورکی زما په پلټنه بوخت وو، خواکې یې نرسه تېر شوه ورته یې کړه دغه چپرکټ کې یوه انجلۍ وه د سر ضربې له امله یې بېګا شعوري حالت ښه نه وو، هغه اوس چېرې ده، هغې ورته وویل زه هم اوس راغلم پرون نه وم راغلې.

ـ په دې اوصافو ته کومه دوسیه وګوره، د سر نه مو ورته څو کوکونه هم کښلي دي خارج شوې او که کوم بل بستر ته مو لېږلې ده.؟!

خبرې يې اوس زه ټولې اورم خو زه چادرې کې يم او له موږه درې بستره هغه خوا ولاړ دی، بېړنۍ خونه کې يې د سترګو په اوښتو ټول ناروغان له نظره تېر کړل زما مور يې و پېژانده مسکی شو او زموږ خواته راروان شو د مور سرته مې ودرېده سپين مهين غاښونه يې د مسکا سره د طبعی سرو شونډو سره ښکلي مالومېدل هغې ته يې وويل مورې څرنګه يې؟

ـ ببګا خو بيخي د عزرائيل په خواکې وې خو الله ج درته نجات درکړ يو غټ رګ دې سخته وينه ورکړه که پر وخت زه نه وای درته رارسېدلی نو د لوی خطر سره به دې ژوند لاس او ګرېوان وو .

ډاکټران هم ډېر بلا وي د خپل ډاکټر خيانت تر وسه پټوي، داسې يې نه ويلې، هغه چې په تا يې زده کړه کوله هغه د لوی رګ وواهه او د وينو فوارې يې ستا پر ټټر جوړې کړې .

ـ ما يې خبره ورپرې کړه ورته مې کړه ډاکټر صيب ويلی شې زما د مور دومره وينې ته ولې اړتيا پيدا شوه؟

د هغه رنګ والوت يوه او بل لوري ته يې وکتل وې ويل:

ـ هو ،هو !

د هغه وينه له لومړي سره کمه وه، او طبعاً په عمليات کې وينه يو څه ضايع کېږي؟

ـ غاښ مې وچيچل ورو مې وويل دروغجنه...

هغه زما غږ واورېده خو په لفظونو پوه نشو ...

ـ وې ويل څه ؟

ـ هسې، خو پوښتنو ته مې دوام ورکړ

ـ نو درې ډرافه وينې په اندازه خو اړتيا نه پيدا کېږي؟

ـ ولې نه ان اته فاينتهه وينې ته هم کله،کله اړتيا پيداکېږي

ـ هو،که ناروغ پر بې کفايته ډاکټرانو واوړي ممکن لس او شل فاينتهه وينې ته هم اړتيا پيدا شي.

ـ تاسې څه ډول خبرې کوئ، زما اعصاب له پرونه راهيسې هسې هم خراب دي، ستاسې بابولالې مې نور هم ذهن نا ارامه کوي.

ـ ايا لامل يې پوښتلی شم؟

ـ پرون مې يوه جلی بې ځايه تهديد کړه، سره ددې چې ملامته هم وه خو دومره بې زړه وه چې زما د څو خبرو سره ولوېده شاک ته لاړه سر يې د اوسپنې چوکۍ په ژۍ باندې ولګېده وروسته د غولي پرسېمټو ولګېده، درې کوکه يې وخوړل .

هغه يوه او بل لور ته وکتل سوړ اسوېلی يې وويست، مخ يې نېمچه واړاؤ، وې ويل څه شاهانه څهره وه خبره يې ما واورېده خو ده فکر کاوو ما نده اورېدلې، ورته مې کړه !

ــ څه ؟

ـ هسې

غوښتل مې په نظر يې پوه شم ترې ومې پوښتل.؟

ــ ستاسې د اسويلي لامل پوښتلی شم.؟

ـ سر يې وښوراو بې واکه په خبرو شو، هغه ډېره معصومه وه ممکن په لومړي ځل يې دغسې چغې اورېدلې وي.

هېڅ مې له یاده نه وځي، ټوله شپه مې سترګې له چت سره ترلې وې، خوب مې نده کړې.

ـ خو خبره وه تېره شوه نور یې څه کوې ولې خپل ذهن باندې فشار راولې.

ـ هغه چت ته وکتل سپینه غاړه یې لکه د بوغدادي کوترې ښکاره شوه بیا یې ما کې سترګې ونیوې.

ـ کاش یو ځل دې لیدلې وای، بیا دې داسې نه ویل !

نړۍ کې داسې کسان هم شته چې په لومړي ځل لېدو سره یې بار بار لیدل د سړي د زړه اړتیا شي.

ـ که زه یې دروښیم بیا ماته پکې څه لاس ته راځي؟!

ـ هغه رینګی شو وې ویل؛ زما شخصي کلینک کې دې د مور جراحي عملیاتونه ټول وړیا کوم.

او کوم مادي غوښتنه چې وکړې نه یې ردوم، ځکه زه د ژوند ټول امکانات لرم

ـ نو څه ورته وایې؟

ـ ښښنه ترې غواړم،او په دې کار سره مې نارامه زړه ته سکون وربښم بس

ـ بس همدومره ؟!!!

ـ هو !

خو ته څرنګه په ډاډ سره د هغې د شناخت راته وایې ؟

ـ هغه زموږ سره د یوه چت لاندې وه خو مشوره نه درکوم چې ورسره وینې.

ـ ولې؟

ـ ځکه چې کله هم په هوښ راغله او وضعیت یې سم شو ډېره په قهر وه او بدې ردې یې ویلې، فکر کوم اشاره یې هم ستاسې لور ته وه سمه شیشکه وه شاید، ستاسې سره جنګ وکړي.

ـ پروا نه کوي، هغه په حقه ده، زه یې هرې خبرې اورېدو ته چمتو یم.

یوازې زه د خپل بې ځایه احساساتو ښننه ترې غواړم او هغې ماته څه ویل خو ما یې خبره په خوله کې ور وچه کړه، غواړم هغه خبره ترې واورم.

د ډاکټر چنار په لاس کې له ښکلي مبایله سپینې ګوتې تاو وې، نظر مې پرې ولګېده ناڅاپه مې پلار را په یاد شو چې ولې تر اوسه بې درکه دی،ګاونډیانو خو به خامخا ورته ویلي وي له چنار ه مې هیله وکړه.

کولی شم ستا له ټلیفونه د یوه ځل لپاره ګټه واخلم پلار ته مې پرې زنګ کووم.؟

ـ هو ولې نه !

ټلیفون مې ترې واخیست پلار ته مې زنګ وکړ شکر چې ځواب یې راکړ ورته مې کړه ډېر خلک بې مسولیته وي خو ستا په څېر بیا ډېر کم وي مور مې دلته په روغتون کې د مرګ او ژوند په بربد کې په بستر پرته ده او ته تر اوسه په کور کې بې غمه پروت یې اخېر یوازې زه د کومې ګناه سزاواره یم چې دا هر څه په یوازېتوب سره پر مخ بوځم.!؟

د فون غږ اوچت وو، هغه په قهرجنه لهجه ځواب راکړ، پر دې یوه شپه کې نه مره کېږي، زه روغتون ته نېږدې یم درځم .

ـ بیړنۍ واټ ته راشه.

ـ هغه پرته له دې چې بل ځواب راکړي فون یې راباندې پرې کړ.

ـ ډاکټر چنار د ا هرڅه ننداره کړل وې ویل دا څرنګه پلار دې دی شپه خو باید هغه ورسره تېره کړې وای،لا په قهر هم دی، خو وروښو ته دې زنګ وکړه.

ـ کاشکې وروڼه مې وای بس یوه زه یو مې دا د مرګ په بستر پرته مور او یو دغه عصاب خرابی پلار لرم، هغه پر ژبه بې حروفو د افسوس کلېمات وویل اه یې له خولې ووت ...

ماه ورته خپل ټلېفون ونیو لاسونه مې په چادري کې پېچلي وو زما پر مړوند شین تخت او شین بند لرونکی ساعت  وو، د فون ورکولو سره یې پر هغه نظر ولګېده، شک یې راغی څکه پرون یې زما د سر ګنډولو پر وخت خامخا لېدلی وو په لاس کې یې نېولې مېوه درب ترې ولوېده .

تر ډېره به یې لومړی ساعت بیا ماته وکتل، هغه د میوې خلطې راخېستو ته کېناست ما مې ژر ساعت  په چادري کې وپیچه، خو هغه خپل احساسات پټ نشو کړای راته یې کړه .

ـ دا ساعت خو ما چېرې لیدلی وو...

ـ شاید لیدلی دې وي نه پوهېږم، اوس موډ شوی ډېرو انجونو په لاس وي

ـ بالکل

هغه ښکته ډېر کتل څکه له حیا نه ډک انسان وو، زړه نازړه یې وویل:

ـ ولې ته فون نه لرې ؟

ـ نه هغه جیب ته لاس کړ وې ویل دغه فون واخله شماره یې هم نوې ده ما د کور لپاره لږ مخکې واخیست ته یې وکاروه ناروغ درسره دی.

هغه د پلار فون ته دې چې اوس زنګ وکړ اخېر کې يې ۹۱ دي هغه زما شمېره ده کله چې درنه اوزګار شو پر هغه ټلېفون وکړه زه به يې درنه تسليم کړم ما هم فون ته ډېره اړتيا وه، نه مې ورته ونه ويل ترې وامې خيست.

د ډاکټر چنار مخې ته يوه نرسه ودرېده ورته يې کړه عمليات خونه کې يو خطرناک ناروغ دی نور ډاکټران يې وارخطا کړي، ويلې ډاکټر چنار يې چې کنټرول نه کړي زموږ له وسې تېره ده ته يې په بېړه عملياتخونې ته بللی يې، دې وخت کې مې پلار هم راورسېده ما او بيا يې ډاکټر ته برګ،برګ وکتل پرته د مور له پوښتنې او مقديمې يې وويل:

ته څو شمېرې لرې دا د کوم يار شمېره وه؟

ته به کله د خپلې مور خدمت کوې ؟

چې ټول بار زما په اوږو باروې، زه تاسې ته پيسې راوګټم او که تاسې ته د کور کارونه هم وکړم، ګورې نه نن به غيرحاضر شم، پيسې به رانه کټ کړي سبا به څه شی خورې؟

ـ ما ورته کړه پلاره ټول زموږ خبرې اوري ،په ورو خبرې کوه، دلته روغتون دی کور نه دی !

بس ما بد کړي بيا دې نه راغواړم، مور مې زه سمبالوم ته دې کار ته لاړ شه پلار به مې د چرسو سېګرټی هم واهه يو خو يې هسې طبيعتاً د مسوليت احساس نه کاوو چرسو هم چندان ماغزه نه وو ورپرېښي .

ډاکټرچنار دا هرڅه واورېدل، له طبیعته زړه سواند مالومېده هغه سهارنۍ د مخ تازګۍ ترې والوته پر مخ کې یې له ورایه د خفګان نښې څرګندې شوې خو څه یې ونه ویل، هغه عملیات خونې ته لاړ او موږ کمبخته سره پاتې شوو.

ما مې پلار یوې ګوښې ته کړ ورته مې کړه پلاره نور خو هېڅ هم نلرو یوازې ابرو راپاتې ده خپلو خبرو او احساساتو سره پام کوه، دا حیا مو مه ګیا کوه .

هره خبره خپل ځای لري که غوصه یې چې کور ته لاړ شو ښه زړه راباندې تش کړه خو دغه ځای خو ددې خبرو نه دی .

هغه وویل دا خبرې د ځان سره وساته زه مې کار ته ځم ته پوه شه مور دې پوه شه زه یې نور له درملنې ستړی شوی یم .

ـ نو په ډېران یې واچوو، همداسې یې خوشي کړو ؟

ـ هسې هم مړه کېږي درملنه یې ګټه نه کوي؛

ـ دغو ناروا خبرو ته مې نورې اوښکې ټینګې نه شوې ورته مې کړه پلاره پوهېږم هغه نور تاته اولاد نه راوړي، تاته یې ګټه نه رسیږي او د همدې ګنا له امله دې له پامه غورځولې، زما خو مور ده پوهېږې !!!

د شپې یې چې خواکې ځملم او د سا ښکته او پورته کېدو غږ یې اورم هم ماته له ټولې نړۍ ښه لګېږي، ماته پکې یو لوی سکون پروت وي، اوس چې له خبرو لوېدلې او زه یې خواکې ناسته یم ښکلي مخ ته یې ګورم ماته له ټولې نړۍ همدا شېبه غوره دی.

ته خپل کار ته لاړ شه ستا په فرموده چې له لوړې مړه نشو مور مې پوه شه او زه پوه شه ځان هم ورته ګرو کوم خو د هغې درملنه پرې کوم، هغه له نور سته پرته روان

شو لږ مخکې ودرېده او بیا راتاو شو جیب ته یې لاس کړ یو زرګون یې راوباسه وې وېل که ورېې کېدې یا بله ستونزه وه پرې حل کوه یې.

له تلو مخکې مې ټلیفون ترې واخېست او د ډاکټر چنار شمېره مې ترې نوټ کړه ویل مې چې هسې نه چې مور کله هم رخصت کېږو او د هغه ټلیفون مې له یاده ووځي باید ور یې کړم .

خواکې مې یوې نرسې د بستر بل ناروغ ته درمل تطبیق کول، هغې زموږ ټولې خبرې اورېدلې وې ډېره مهربانه انجلی وه مسکا نومېده، د هغې مخ ته مې پام شو پر مخ یې شل ځایه اوښکې راتلې او زما بیچارګي ته یې ژړل او د پلار بې رحمۍ مې حېرانه کړې وه هغه راغله خواکې مې کېناسته غوښتل یې خبرې راسره وکړي او زما د یوازېتوب حس راڅخه لرې کړې، ما هم د نورو ناروغانو او پېوازانو طرف ته شا کړه چادري مې پورته کړه زما په لېدو لکه سړی چې د لومړي ځل لپاره یو حیرانونکی څه وګوري بې واکه یې له خولې ووتل اوووو وي، راته یې کړه،څرنګه ښکلی میکاف دې کړی، دا مخ دې ورسره څرنګه شفاف شوی دی، د ښکلا دا توکي خو ماته هم وښایه ما یې په خبرو لږ مکس وکړ، بیا مې ورته کړه !

ایا دومره بې غیرته درته مالومه شوم چې مور مې د مرګ په بستر پرته ده او زه به مېک اف کوم، مېکاف خو د زړه زور غواړي، زما زړه خو دوه او درې هم نه زر ټوټې ده زه به پر کوم هوس مېکاف وکړم ...

ـ وبښی، ما تېروتنه وکړه، بیا خو تاسې طبعي ښکلې یاست، الله درباندې لورینه کړې دي.

ـ ملنډې وهې؟

ـ نه خدای ج دې نه کړي، سمه د الماسو غمی یې ...
ـ ما ورته ډېر په ستونزو مسکا وکړه ورته مې کړه د مور خبره دې راته وکړه هغه هم د الماسو غمی راته وایي...
ـ مور دې رېښتیا درته وایي، یوازې ښکلې نه یاست قیمتي الماس یاست خو کمزورې کېږه مه، ته یوازې نه یې زه هم درسره یم، زما دلته معاش دولس زره افغانۍ ده جیب ته یې لاس کړ، پیسې یې راواخیستې وې ویل:
بس دغه دوه زره افغانۍ راپاتې دي، هغه د معاش وخت مې رانېږدې دی په نن سبا کې یې راکوي بیا دې غوښینه برخه پکې کوم.
ما د هغې بې چاره نه پیسې وانه خیستې ځکه چې مالومېده چې هغې پیسې یې هم د کور د بچیانو خرچه دی او د هغوی خرچه ما سره شریکوي نو مناسبه راته ښکاره نشوه وړاندیز مې رد کړ، هغې هم له خپلې مجبورۍ د ډېر ټینګار ست ونه کړ، نوره هم راخواته شوه یوې او بلې خوا ته یې ښکل کړم پوهېدم چې زما څهره یې خوښه شوې ده او زړه سوی راسره کوي بیا یې زما په اوږه لاس کېښود راته یې کړه مور دې ډېره درباندې ګرانه ده؟!
ـ له ځانه هم ډېره ځکه چې زما د هېلو نړۍ مې یوازې همدا مور ده که پلار ته پاتې شم ډاریږم خدای ج زده په کوم قیمار کې به مې وبایلي...
بس یوازې د مور د سر سیوری مې راته پاتې دی .
ـ څومره وخت کېږي چې ناروغه ده ؟
ـ اوږد مهاله ناروغۍ لري پوهېږې، شپږ میاشتې ما خپله کمپله راته د خوب لپاره نده هواره کړې بس د هغې سر به زما په ورانه وو، له خوا به یې نشوم لرې کېدی

په دا وروستیو کې خو روحي ستونزه هم ورته پیدا شوه، د خاوند له خوا یې بیخي هېله پرې شوه، یوازې پر ما ډاډه وه، شپږ میاشتې ما ورته ټوله شپه رڼه کړې ده خواکې به ورته ناسته وم، ګروف به بل وو ما کې به یې سترګې نیولې وې تسکین به وه، کله کله به چې پرېشاني وې وړه ویده به شوه زما سترګې به هم په ناستې پټې شوې بېرته به چې راوېښه شوه او زه به بې په پټو سترګو ولیدم ژر به یې راوېښه کړم ویلې به یې ولې دې سترګې پټې دي ماته ګوره د هغې دومره روحي ستونزه ژوره وه چې نه یي شوای حس کولی چې زه هم ژوندی سری یم خوب ته اړتیا لرم او په دې اړه ما هم کوم دلیل ورته نه ویلې ځکه له همدې زحمته مې خوند اخیسته.
نرسه بیخي حېرانه شوه ماته یې ویل ستاسې د مور او لور اړیکه هم سمه د لیلا او مجنون له اړیکې کمه نده، د نرسې دنده دلته خلاصه شوه او په تلو کې راته وویل زه مو ستونزې درک کوم لوی ډاکټران چې وېزېټ ته راشي زه مو ورته معرفي کوم درمل چې دلته وي هغه به له بازاره نه درته لیکي .
ما ترې مننه وکړه او هغې خپله سپینه چپنه باندې د سمولو لاس وواهه نوره لاړه د پلار راکړي پېسې ډېرې کمې پېسې وې که روغتون دولتي ؤ خو زیاتره درمل به یې موږ ته له بازاره لیکل دا پیسې د یوې ورځې د لګښت هم نه وي.
دا وخت یو ډاکټر راغی او ماته یې نسخه ولیکله راته یې کړه له بازاره یې راوړه درملتون ته ووتلم درمل یې راواخېستل د مېز په سر یې کېښوده ماشین حساب ټکا سره مې د زړه ټکان زیاتېده درملتون واله خپل ماشېن حساب ته وکتل وې ویل پنځه زره افغانۍ شوې .
ما جیب ته لاس کړ ورته ومې کړه زه خو دغه زر افغانۍ لرم نورې قرض راسره وکړه

د درملو کڅوړه یې واخیسته د مېز له سره یې لرې کړه لاندې یې کېښوده وې ویل خورې خلک مه په عذابوه، زموږ د ګنې ګوښې مخه مه نیسه، نورو خلکو ته نوبت ورکړه ،بهر ووځه، او یا هم ټولې پیسې راوړه، پېغله وم، د هغه خبرې مې ونشوای زغملی ځواب مې هم ورته نه لاره، بس په چوپه خوله ترې د ځواني د غرور له ماتېدا سره راووتلم لږ شېبه وروسته د خپلې مور خواکې ناهیلې ودرېدم، یو نرس راغی راته یې کړه درمل دې راوړي دي، ماته یې راکړه چې مورجانې ته یې تطبیق کړم، ما د هو او نه ځواب په خوله کې وچ شو، څو ځله یې خبره تکرار کړه اخېر کې په زوره راته وویل تاته وایم د مور درمل دې راوړي ورته ومې ویل،نه دي مې راوړي ولې راباندې چغې وهې ؟.

نرس نور هم په قهر شو وې ویل،زه خو ستا د پلار مزدور نه یم چې بیا به پسې راځم غرمه یې هم  تطبیقات قطع شول چې درمل ونه خوري کله روغېږي، که یې نشې ورته حاضرولی ناروغ دې کور ته ویسه دلته موږ ته لوړ ډاکټران سوې سپورې وای چې ولې ناروغ ته درمل نه تطبیقوې.

زما خو هسې هم پخوا ماغزه شاټ وو، په نرس مې خوله راپرې کړه ورته مې کړه کاش دومره وظیفه شناس وای، تر سهار راهیسې مو څومره درمل له ناروغانو پټ کړل اوبه پېچکارې کې ورته تېروی اصلي پوډر ترې جیب کې اچوی او هغه بیا بازار کې خرڅوی، زه خو کومه بې سواده څوک نه یم، چې ستاسې په کړو وړو به پوه نشم خدای ج مو ورک کړه.

لږ تر لږه خو پوښتنه وکړه چې ما ولې درمل ندي راوړي، څو ځله تر درملتونه لاړم آو بېرته راغلم، نه هغه کې زړه سوی وو چې زما بې وسي یې لېدلې وای او نه تاسې کې دومره ترحم شته چې د روغتون د درملو له ډیپو یې راته ولیکی.

تاسې یې څه ؟

که څوک مري او یا هم پاتې کېږي!

نرس راته په خوله ګوته کېښوده پر ټنډه یې خوله راغله د سپینې چپنې جیب ته یې لاس کړ د غلا شویو درملو څخه یې یوه پیچکاري راوباسله وې ویل :

ږغ مه لره ؟

دا پوډري ستن هم ستا د مور درملو ته ورته دی، دا به ورته تطبیق کړو بېګاته بیا خدای ج شته، ما ورته نه د هو او نه د نه ځواب ورکړ د مور خواکې څوکۍ باندې کېناستم، هغه ستن تطبیق کړه او لاړه.

لږ وروسته د مور لخوا یو د ترور زوی، چې تازه له سعودي راغلی وو زما یاد ته راغی شمېره یې راسره جیبي وړه کتابجه کې وه هغه ته مې زنګ وکړ ورته مې کړه زما شل زرو افغانیو ته بیخي زیاته اړتیا ده که دې راکړې سخته احسان منده به دې یم.

ـ څه یې کوې؟

ـ مورجانه ناروغه ده، په روغتون کې بستر ده او د درملو پیسې راسره نشته هغه زما په دې غوښتنه ډېر خوښ شو او پرته له کومې بهانې یې راته وویل، هره ورځ چې شل زره روفۍ رانه وغواړې هم درکوم یې، ستا مور زما ترور ده پر ما هم حق لري.

د ترور زوی به زموږ کور ته راته خو زه به ستړې مشې ته نه ورتلم تل به یې زما مور ته ویلي چې لور دې بیخي په هوا ګرځي، موږ سره ستړې مشې نه کوي، یو ځلې یې زما غوښتلو لپاره هم کورنۍ رالیږلې وه خو هغه پرته له دې چې زما نه خوښېده، بله مېرمن یې هم درلوده، موږ یې ریشته رد کړه، شخصیت یې ثابت نه وو، ځکه چې ښه عدتونه یې نه لرل، خو مجبوري هم بد شی وي سړی پر اغزنه لاره هم روانوي.

ادرس مې ورکړ او لږ مهال وروسته مې د روغتون د پراخه کړکیو له ښېښنو ولیده چې له یوه کروزین څخه ښکته شو، ما مې ژر چادري په سر کړه او لږ وروسته هغه زما مخې ته ودرېده پیسې یې راته ونیوې یو وړوکی زوی یې هم شاته ورسره راروان وو، هغه په لاس کې مېوه وه زما د مور بستر خواکې مېز باندې یې کېښوده هغه زما د مور د حال پوښتنه ونه کړه، چې په څه حال دی، ټولې سترګې یې زما په سترګو کې نېولې وې، خو خبرې یې د مور د خواخوږۍ راسره کولې، غټ پنډ بریتونه به یې له مسکی کېدو سره وېړ شول څو ځله به یې دا خبره راته تکرار کړه، زه درسره یم، درملو موټر پیسو هر څه ته دې چې اړتیا وي صرف فون کوه، له دې غورو او پړړو ویلو وروسته مې ډېر په سختۍ نورو ناروغانو ته د مزاحمت په بهانه رخصت کړ، کنه کېسې یې نه خلاصېدې.

هغه لاړو مور مې په یوه ژور خوب ویده وه او خبرې یې نشوې کولی، زه لاړم هغه نخسه درمل مې راواخیستل چې مخکې رانه د پیسو د نه شتو له امله پاتې شوي وو لږ وروسته مې د مور حالت نور هم خراب شو، پخوا به یې د دویم او دریم غږ په کولو سره ځواب راکاوه، خو دغه مهال یې هېڅ پوښتنه او ږغ نشو ځوابولی.

ډاکټران مې ورته راوغوښتل، درمل یې ورته نور ولیکل هغه مې ورته راوړه لږ وروسته مې د مور حالت بېرته ښه شول، دغه مهال مې ډاکټر چنار یاد ته راغی چې کېدای شي زموږ ناروغ خارج کړي د هغه فون به ما سره پاتې شي، زنګ مې ورته وکړ.!

ـ سلام علیکم

ـ ع،سلام،څوک؟

ـ هغه د ناروغ لور یم، ستاسې فون ماسره ډېر وخت ووت ستاسې کورنۍ به ورته اړتیا وي، هسې نه موږ رخصت شو او ستا فون به پاتې شي.

ـ نه نه کومه خبره نده ...

هغه دې ستا وي، ما کور ته بل فون واخیست

ـ کولی شم پوه شم چې دا ښیګڼه د څه لپاره راسره کوې؟

ـ هو په لامل یې ته پوهېږې بس ته یو ځل هغه جلۍ راته پیدا کړه چې تا یې راته د پیدا کېدو ویلي وو.

ـ هغه څه کوې؟

ـ ته ولې داسې پوښتنې کوې؟،خورم یې تاته یې څه؟

په اصل کې ته  د خلکو په شخصي حریم تېری کوې

ـ  ته په حقه یې زه باید له تا داسې پوښتنې ونه کړم خو زه غواړم پوه شم چې داسې خونه ده چې د لومړي ځل لېدو مئېن درنه جوړ شوی وي، هغه وخندل بیا یې په توتله ژبه وویل .:!

ـ نه نه داسې نه ده، ژبه يې بنده بنده شوه، غږ يې خاموش شو، بيا يې لوی اسويلی وکړ، له لږ ځنډ وروسته يې وويل ټليفون کې داسې خبرې ښې نه وي، نور يې ټليفون پرې کړ.

د مور بې چاره مخ ته مې وکتل ارامه ارامه ساه يې اخېسته دوه ساعته په چپ اړخ پرته وه د هغې د لماستې لوری مې بدل کړ، په ښي اړخ مې کړه ډارېدم چې د بستر زخم ورته پېدا نشي، لا مې روجايي نه وه پرې اچولې چې ټليفون مې وشرنګېده د ترور زوی مې ؤ هغه چې د مور لپاره يې قرض راکړی ؤ.

سلام مې ورته واچاؤ، جوړ يې په خير يې مو سره وکړه، اوس په عوض ددې چې زما د مور د ناروغۍ پوښتنه وکړي، ماته ډاډ راکړي، عجيب او غريب بحث يې پېل کړ.

ـ کور ته کله راځي؟

ـ کوم کور ته؟

ـ خپل کور ته!

- ولې خير وو!

ـ هو ډېره به ستړې شوې يې ؟

څو ورځې دې د مور سره شپه او ورځ يې.

ـ ستړې خو يم خو مجبوره يم او د مور په وړاندې د دغه ستړيا نه خوند اخلم.

ــ ته لېونی يې؟

- ولې؟

ـ دا اوږد مهاله ناروغ ده، جوړېدل يې هسې هم نشته

ـ نو څه وکړم؟ ستونی يې خپک کړم

ـ کټ،کټ وې خندل، بيا يې وويل نه داسې مه کوه، زما زړه درباندې وسوځېده ،ستا په گلاب گلاب ځوانۍ مې دومره سخته نه لوربېږي .

ـ خو بيا د ښځه راولېږه چې لږ دمه راکړي.

ـ درلېږم يې خو په يوه شرط

ـ د څه شرط؟ کوم شرط؟

ـ ته به بيا خپل کور ته راځې، له مور سره به دې زما مېرمن وي

ـ نو کور کې به يوازې زه څه وکړم

ـ ته به يوازې نه يې، زه هم درځم...

ـ د څه لپاره؟

ـ هسې مجلس او کېسې به کو

ـ زما مور د مرگ په بستر پرته ده او ته له ما کېسې غواړې، دا ته څرنگه انسان يې له دغو خبرو ستا مطلب څه دی؟ ته زما له دې بې وسه او بې کسه حالته ناسمه گټه اخلې ته د ترحم او زړه سوی په نوم څه پېژنې ؟

ـ نه ،نه هسې مې ويل چې پام به دې په بله واوړي...

ـ گوره، زه حالاتو ته نه تسليمېږم، ستونزې ما د خپل چوکاټ له بريده نه باسي، زما شخصيت دومره ثابت دی چې د معنوياتو په وړاندې ژوند ته هم ارزښت نه ورکوم. لطفاً که مو ناسم فکر کړی وي، ترميم يې کړئ، خپل وخت پرې مه ضايع کوئ د سړي په خوله کې لاړې وچې شوې، او ټليفون يې د نورې مکاليمې نه د تېښتې لپاره پرې کړ، سره ددې چې خبرې مې د هغه په وړاندې ډېرې قوي وې خو د هغه

خبرو سخته ودردرلم، د خپلې بې کسي او زما له مجبورۍ ناوړه ګټنې سخت زور راکړ زړه مې وپړسېده چادري کې مې نور نفس تنګېده د خپل یوازیتوب او د نورو کم کتل راته بیخي درانه تمام شول چادري مې لرې کړه د مور د بستر پښو خوا کې مې کېښوده، مور ته مې وکتل کرار،کرار نرمه ساه یې اخیسته د خبرو تاب یې نه درلوده لکه چې ویده وي داسې حس کېده.

مخ مې دېواله ته کړ ښه ډېر مې ځان سره وژړل، خلک له ژړا نفرت کوي خو زما دغه تر ټولو ښه ملګری شو، په دغه پراخه نړۍ کې یوازې ژړا زما لاسنیوی وکړ زړه مې ورسره سپک شو ماته تر ټولو ښه و ایسېده، لږ یې ارامه کړمه، خپل ګرېوان او مخ ته مې پام شو دواړه په اوښکو لامده وو، دسمال مې راواخیست د اوښکو په پاکولو مې پیل وکړ تر شا مې ورو غږ واورېده مورجانه دې لا په خبرو نده راغلې ؟

غږ بېخي شناخته وو، خو دا چې ژړا مې سر ډډ او ګنګس کړی وو، ومې نه پېژانده فکر مې وکړ کوم نرس دی خو چې مخ مې ورواړاو مخامخ مې په ډاکټر چنار سترګې ولګېدې.

نورې له ورخه اوبه تېرې وې چې د هغه له پېژندګلوي څخه ځان وژغورم لږ ساعت لپاره خو هغه لکه بې ساه بنې ادم د تش کالبوت په څېر ولاړ وو، پر لاس کې ستاتیسکوف(دوربین) یې له ګوتو خطا شو پر ځمکه پې د نازکې اوسپنې ترسا زما تر غوږو راورسېده، بیا یې مخامخ د اشارې ګوته راته ونیوله ...

ـ ته ؟

ته هماغه جلۍ یې؟

ته د دې مورکۍ لور یې ؟

ـ تا خو ماته هغه تېپي شوې انجلی بل څوک معرفي کوله

اه هغه د سر ټپ او سرې وینې مې ستاسې وبهولې؟

ـ تاسې ولې له ما ځان پټوئ؟

ایا زه کوم سړي خور یا د انسان برمته کونکی درته برېښم؟

زه هم حق حیرانه شوم چې ډاکټر ته څه ووایم، لکه ګونګۍ ورته خاموشه ناسته وم، په ده مې هم شک راغی چې زما د ترور زوی غونډې لکه چې نیت کې خراب دی، زه په همدې فکري کشمکش کې وم چې هغه بیا غږ راباندې وکړ ...

ـ ولې چوپ یاست ځواب راکړه؟

ـ بس له انسانانو مې کرکه وشوه، یو چا مې سخت فکر خراب کړ څه به یې درنه پټوم ان ستا په سپینه چپن هم شک راته پیدا کېږي.

ـ ولې څه شوي؟ ستاسې سترګې هم سرې دي؟

ـ زما وضعیت اوس سم ندی زه ستا خبرو او ځواب درکولو ته چمتو نه یم.

ـ ولې څه شوي دې ؟

ـ نه، نه یې شم ویلی

ـ حتماً یې ووایئ زه چمتو یم چې ستونزې ته مو رسېدګي وکړم

ـ تکراري پوښتنو یې زړه راتنګ کړ ورته مې کړه !

تاسې ولې بار،بار اسرار کوی، زما شخصي ستونزه ده، خلکو ته خو ښه وایې چې د چا شخصي حریم ته مه ننوځئ.

ـ وبښئ؟ تاسې په حقه یاست؟خو زما موخه ستاسې سره د ستونزو په هوارولو کې د همکاري وو بس !!!

ـ د هغه زما له مور سره همکاري او د خپل بدن وینه ورکول را یاد شو ځان راته خجالت مالوم شو چې ولې مې په زوره ځواب ورکړ خبره مې بېرته نرمه کړه، له هغه مې ددې خبرې مننه وکړه خو کله یې چې زما نرمي ولېده نو غوښتل یې د زړه یوه بله خبره وکړي خو جرئت یې نه لاره شونډې به یې ورته جوړې کړې خو الفاظ به ترې پاتې شو!

ورته مې کړه که نور څه لرئ ویې وایئ

ـ تاسې ولې خپل شناخت له ما پټ کړ،؟

خپل ځان مو بل څوک معرفي کاوو، دا ولې ؟

زه پوهېږم تاسې له ما تښتئ؟

نه غواړې له ماسره خبرې وکړې، زما له شناخته کرکه کوې، له همدې امله زه فکر نکوم بل ځل دې وګورم ؟

ځان به رانه پټوئ!

اوس مې هم تصادف ملګرتیا وکړه کنه، خدابزده په زړه کې به له تا یوه دوه پوښتنې چې د یوه ارمان په ډول راسره دي هغه به پاتې وې ؟ کومې چې غواړم له تا وپوښتم.

اوس له دې فرصته ګټه واخلم پوښتنې راته ځوابوې؟

ـ والله څه ووایم،چې سختې نه وي!

ـ پوهېږم چې دلچسپي مو نشته خو زما لپاره مهمې دي کنه د یوه ارمان په ډول به مې په زړه کې پاتې شي!

ـ مهرباني وکړئ

ایا کېدای شي ما د هغې بې ادبي له امله وبښئ چې تاسې مې ورټلی او زما له امله مو سر ټیپي شو .؟!

ـ بلکل، ما ښښلی یې ځکه چې غلطي زما وه ما باید دروازه ټک،ټک کړې وه اجازه مې اخیستې وه.

هغه ددې خبرې له اورېدو سره مسکی شو په مخ کې یې هغه د وارخطایئ نښې ورکې شوې چې لږ مخکې یې زما د لېدو له امله په څهره کې موجودې وې هغه په خبرو راغی وې ویل:

زه مو احسان مند یم، ماته ستا ښښنه ډېره مهمه ده؟

ـ هغه څرنګه ؟

ـ نه پوهېږم ،ځینې خبرې بې دلیله مهمې وي

ـ دوهمه پوښتنه دې هم وکړه ؟

ـ تاسې هلته زما دفتر ته د څه لپاره راتلی څه مو ویل؟!

ـ پر تا مئینه وم ځکه غوښتل مې درشم...

ـ هغه ډېر شرمیندوک وو، څهره یې تکه سره شوه، غوښتل یې خپل د څهرې شرم په یوه مسکا کې پټ کړي، خو ویې نشو کولی، مخ یې رانه واړاؤ ځان سره یې ورو وویل کاشکې ...

ـ څه !؟

ـ ما څه نه دي ویلي؟خو هیله کوم، تاسې زما پوښتنه مه مسخره کوی او زما لپاره ډېره مهمه ده ؟

ـ ډاکټر چناره زه په دغه پراخه نړۍ کې یکې یوه مور لرم، نور نه کوم رشته دار لرم او نه کوم خواخوږی، زما یوازینی هیله اول خدای ج بیا مور ده کومه چې تا راته وژغورله، هغه ورځ ما غوښتل دفتر ته درشم او په ځانګړو الفاظو مننه درنه وکړم بس خو زه دې خبرو ته پرې نه ښودم، زما هرکلی مو په داسې کلیماتو وکړ چې تر دې مخکې بل چا نه وو کړی.

ـ هغه ښکتنی شونډه د پښیماني له امله له غاښو لاندې کړه، کیڼ لاس یې مخ ته وې وړ پر سترګو یې راکش کړ چت طرف ته یې کتل سوړ اسویلی یې وویست، بیا یې وویل څومره بد مې کړي دي .

د هغه په څېره کې بلا پښېماني ښکارېده، دومره غمجن شو چې ما ویل اوس دی زما په خېر ضعف ونه کړي.

زړه مې پرې بد شو ما د هغه د ډاډ لپاره خبرې پیل کړې ورته مې کړه، هغه ورځ زه ستا خبرو خفه نه کړمه، ته ځان مه ملامتوه، ځکه چې ګرمتیا زما وه که ستا پر ځای زه هم وای همداسې مې کول؛ او زه ستا د غوصې له امله نه یم لوېدلې بلکې زما روژه وه او هماغه ساعت کې مې وینه هم د مور لپاره وباسله، نو ډېره بې شېمې ومه،د هغې له امله ضعف شوم.

هغه رینکی شو،ښکلی موزونه څېره یې ګل،ګل وغوړېده راته وې ویل:

ـ ته رېښتیا وایې، ستا پر ځمکه لوېدل زما له امله نه وو ؟

ـ هو ستا له امله نه وو .

خو ایا زه پوښتلی شم چې تاسې ته ولې دا هرڅه دومره مهم شول، هغه هم، هغه مهال چې تاسې زما څېره ولېده ؟

ـ د یوه ډاکټر په صفت چې زما له لاسه یو څوک په وینو کې سور شي، ټپي شي او ان شاک ته لاړ شي نو د وجدان ملامتیا به سړی داسې کړو ته مجبور نه کړي چې د هغه کس نه ښښنه وغواړي او رضایت یې حاصل کړي.

ـ په ایمان یې ووایه که زما پر ځای یو بله بد مهره جلۍ ته دې داسې زیان اړولی وای هغې سره دې هم زما په څېر چلند کاوو.؟

د هغه رنګ والوت، ځواب ورته سخت شو،کوښښ یې کاوو یو ځواب راکړي داسې ځواب چې ګونګ وي هم یې قسم تر پښو لاندې نشي، او هم زما رضایت ترلاسه کړي خو بریالی نشو.

ـ ورته مې کړه ته حسن پرست یې، هسې د زړه سوانده خلکو تمثیل کوې او زه دې دا ځانګړتیا ډېره په اسانۍ درک کوم .

ـ ولې حسن پرستي ګناه ده ؟

ـ خود نو ...

د حسن پرستي پر ځای خدای ج پرستي وکړه او هغه هر څه لري در به یې کړي ته داعیه د یو څه کوې او وایې بل څه؟

ـ ګورئ،ګناه، ګناه وي هغه که د ښکلي په وړاندې وي او یا هم بدمهره خو حساب کتاب او سزا یې بیا یو ډول وي او انسان مکلف وي چې جبران یې کړي زه هم دې کارته ژمن یم، یو بل څه هم وایم چې ستا باور پرې زیات شي ښکلا پرستی هم کوم بد څه نه وي که ښکلا بده وای، خدای ج به ښکلی نه وو او هغه ذات به ښکلا نه خوښوله، چې خدای ج ښکلا خوښوې موږ یې هم باید خوښه کړو که ښکلا بې

ارزښته وای خدای ج په جنت ښکلی نه پیدا کاوو که ښکلا ارزښت نه لرلی، خدای به ښکلې حورې نه پېدا کولې.
که ښکلا بده وای، یوسف او خدای ج به ستا په څېر یوسف مخي نړۍ ته نه راوړل.
ډاکټر مې سخت راګېر کړی وو، خو ځان یې رانه په فلسفي دلیلو خلاص کړ او ما هم نور ورته چنداني ځواب نه درلوده، صرف د ځان د نه ګرمېدلو په بهانه مې ورته وویل اې چالاکه په دې خبرو رانه ځان نشې خلاصولی، هغه بیا رنګ والوته خو زما قضیه ورته مهمه وه پر شا کېده نه، ورو یې وویل، زه هم نه غواړم ځان درنه خلاص کړم د هغه د کورتۍ په چپ جیب کې ټلېفون وشرنګېده راوایې خیسته او د مقابل لوري ږغ اورېدو سره یې ژر ټلېفون پرې کړ، ماته یې وویل ټکر شوی دی د یوه ناروغ پښه په بېخ کې پرې ده شدېده وینه ورکوي د عملیات خونې ته په بېړه وبلل شوم هغه په رېښتیا زړه سوانده وو، د نورو ناروغانو په وېر کې یې هم څهره الوته او خپل طبعي ښکلا به یې ورسره له منځه تلله، هغه له تلو مخې په ما کې سترګې ونېولې، وې ویل ستاسې ضدي ځانګړتیا لرئ پر ځان ډېره متکي یاست خو زما یوه مهم ټلېفون ته په تمه شه او هیله لرم چې پر هغو خبرو کې د ضد په نوم کوم څه حس نه کړم.
ولې ته ماته اخطار راکوې ؟
ـ نه خدای ج دې نه کړي ولې به زه داسې وکړم ؟!
هغه نور په بېړه روان شو زه مې د خپلې مور سره یوازې پاتې شوم.
د مور څهرې ته مې وکتل په ارام،ارام سره یې ساه اخیسته، مخ یې بیخې خاکي رنګ غوره کړی وو، د بېګا راهیسې یې هېڅ نه وو خوړلي، زړه مې د هغې دغه حالت

غوټ غوټ مات کړ، خواکې یې پر یو څوکۍ کېناستم الله ج ته مې ډېرې زاری وکړې، چې یاالله دغه یوازېنۍ هیله مه راڅخه اخلې که دغه هستي مې هم مړه شي پلار به خدایزده زما پر ژوند څه قیمار ووهي.

لږ وروسته د ډاکټر چنار وروستۍ خبره رایاد شوه چې ویلې زما یوه مهم ټلېفون ته په تمه شه ځان سره یوه ژور خیال وې وړم د هغه په اړه بېلا،بیلې پوښتنې راسره پېدا شوې چې د هغه له دغو خبرو څه مطلب وو، ولې یې د ضد نه کولو وویلې او څه راته وایي ؟!!!

زما سوچ په همدې خبرو کې وو، چې د مور زګیروی مې واورېده، مخ ته مې وکتل پر ټنډه یې نری خوله راماته وه په خپل کټ کې یې نا معمول حرکات کول، خورا سخته وارخطا شوم، د بېړنۍ خونې نوکرېوال ډاکټر ته ورغلم راخبر مې کړ خو چې د ډاکټر سره جوړه بیا د هغې کټ ته ودرېدم هغه له حرکته لوېدلې وه، ډاکټر یې نبض ونیو، بیا یې سترګه پرې خلاصه کړه زړه یې په دوربین وکوت ژر یې نرس ته وویل چې د زړه شاک ماشین راوړي ما چغې کړې ورته مې کړه مورمې مړه شوه؟ وې ویل نه زړه یې درېدلی خو برقي شاک ورکوو ان شاءالله روغېږي.

شاک یې ورکړ هغه بې چاره به یې په کټ کې څو سانتې لوړه کړه بېرته به راوغورځېده، درې ځلې یې دا کړنه ترسره کړه خو مور مې ورسره هېڅ ځواب نه وایه اخېر کې ډاکټر سر وخوځاو، ماته یې د هغې د مړینې د ویلو جرئت ونه کړ ځکه هغه زما په یوازیتوب خبر وو، یوې ښځینه کارګرې ته یې اشاره وکړه چې زنه وروتړي، نور لاړه، زه بیا هم نه پوهېدم چې څه روان دي خپله هیله مې نه پرې کوله خو چې سپین ململ مې ولیده چې زما د مور له زنې یې تړي، نور مې ځان کابو نشو کړای

لکه يو لوی غر چې زما په سر ولګېږي او سر مې رېزمرېز کړي، داسې مې حس کړه، له خولې مې داسې چغې وتې چې خوا او شاه د ناروغانو پيوازانو خپل ځايونه پرې ښودل او بهر ته په منډو شول،ان شدېدو ناروغانو دا هڅه پيل کړه چې ووځي، مور ته مې غېږ ورکړه ورته مې کړه ته خو دومره بې رحمه نه وې مورې چې داسې په تنهايي کې مې پرېږدې، ته خو له هر چا ښه، پوهېدې چې زه له تا پرته نور څوک نلرم، تا ولې له ما سره داسې وکړه؟

خو هغې غږ راته نه کاوو، د پخوا په څېر يې جار قربان نه راته ويل، خوا او شا مې وکتل چې څوک راشي لږ مې زړه پرې ډاډه شي، هېڅوک نه وو، ټول بسترونه خالي وو يو دوه ناروغان چې مصنوعي تنفس ورته چالان وو راسره نېږدې چپرکټو کې پراته وو، هغوی کوما کې وو هغوی زما چغې نه اورېدې کنه د نورو په څېر به دوی هم تښتېدلي وو .

لږ مې چې حالت سم شو پلار ته مې زنګ وکړ ورته مې کړه راشه اوس د مېرمن وېسه له خاورو يې ښه لاندې کړه دغه بار د نور له اوږو سپک شو او هو نن دغه بهانه ونه نيسې چې زه مزدورۍ کوم کنه بيا به څه خورې زما زړه ته دومره لوی غم دننه شو چې څو ورځو لپاره به مې ډوډۍ ته زړه ونه شي له هغه اړخه هم ښغمه شه اوففف خلکو به د تنهايۍ ساندې ويلې او ويلې به يې چې يوازيتوب سخت وي ماته په دغه ورځ څرګنده شوه چې يوازيتوب څه وي، دلته چې بې څوکه شوې او غريب هم شې ورسره د دومره لوی غم سره هم مخ شې نو زغمل يې څومره سخت وي.

هر لوري ته به مې سترګې تشې،تشې اوښتې ان ډاکټر چنار مې هم سترګو ته ودرېده چې زنګ ورته وکړم او لږ مې خواکې ودرېږي.

شمېره مې ووهله بنده وه، ځکه هغه په عملیات خونه کې وو، لږ وروسته مې پلار راغی د مورجانې جنازه مو کور ته وې وړه خپل خپلوان راغلل ماسپښین شو هدیرې ته وختو جنازه تیاره شوه خو لکه د ترکانو جنازه ډېره پیکه وه، څو تنه مې مور پسې په جنازه کې ولاړ وو .

جنازه وشوه او بیا هغه لمحه هم راورسېده چې ما مې په غړېدلو سترګو تر ټولو ګرانه مور لېده چې خلکو ژوره په خاورو کې کېښوده او انبار،انبار خاورې یې پرې اړولې.

زما وروستی هیله یې پکې دفن کوله، هېڅ طاقت مې ونشو، ورجګه شوم له یوه مې بیلچه واخیسته ورته مې کړه خبر دی مه یې خښوئ، ظالمانو ولې مو ورته دومره بېړه ده، زه له دې پرته بل څوک نلرم، یا ما هم ورسه دفنه کړی، یا یې لږ راته پرېږدی د چاریو واله ټول ودرېدل چاری ترې ولوېدې ټولو پر خپلو سترګو کې رغوي وهل او زما پر حالت یې ژړل.

د جنازې ملا هم د څادره په پیڅکه خپلې اوښکې پاکولې، راولاړ شو وې ویل لورې، بس دا د نړۍ دستور دی، مور هر یو دې د لارې لاروي یو مرګ مور ته او مور مرګ ته پېدا ده، صبر ولره د صبر مېوه خوږه وي.

خلکو ته یې وویل باقي خاوره پرې ور واړوئ، هغوی هم مجبور وو، پر مور یې راته انبار خاورې واړولې، زما هیلې هم ور سره دفن شوې، له همدې ځایه زما بدبختی هم پیل شوه پخوا بې څوکه وم اوس نو ښه بې څوکه شوم.

کور ته راغلو، زموږ خوارانو به څه خېرات او فاتحه وه بس هسې یو عدت مو وکړ خېرات او فاتحه تېره شوه،خپل او خپلوان کورو ته لاړل پلار مې هم په څلورمه ورځ کار ته څادر په اوږه کړ، زه یوازې په کور کې پاتې شوم د کور ورځنۍ چارې مې

بشپړې کړې د غرمې کتغ برابرولو لپاره مې دوه ځلې خپلې ګوتې پرې کړې ټول سوچ مې د مور سره وو، بیخي یوازېتوب د لېونتوب تر بریده رسولې وم، د شپې ډوډۍ مې خپل پلار ته ورواخیسته او زه مې خپلې د مور کوټې ته لاړم ډوډۍ خوند نه راکاوو، لمانځه لپار مې جای نماز هوار کړ بیا مې د مورړ روح سکون لپاره دوه رکعته نفل وکړل، د شپږو میاشتو وروسته د لومړي ځل لپاره مې خپله کمپله د خوب لپاره راته وغوړوله له دې مخکې به ټوله شپه مور ته ناسته وم او له دې کار سره مې بیخي عدت اخیستی وو لا په کمپله کې نه وم غځېدلې چې ټلېفون مې وشرنګېده د ډاکټر چنار زنګ وو له پرُ انرجي روغبړ وروسته یې راته وویل زما له اجازې پرته دې مور کور ته رخصت کړې دا دې ښه ندي کړي او نن غواړم د زړه خبره درته وکړم،خو هیله ده چې ما درک کړې او زما خبرې د زړه په غوږو واورې، خو اول راته ووایه چې مورجانه دې اوس څنګه ده، ما ته هم لکه نېږدې کس داسې احساس شو په زوره زوره مې ورته وژړل.

ورته مې کړه هغه نوره له مورړ سره نشته هغې زه یوازې پرېښودم دومره یې د مړینې پر وخت وارخطا ؤم چې تاته مې هم اړتیا پیدا شوه تاته مې هم زنګ وکړ خو ستا فون خاموش وو .

ـ ګوره تاسې صبر ولری، ته دغه دروند غم ته یوازې نه یې زه هم درسره ځان پکې شریک ګڼم ...

اه قسمته، تاسې یوازیتوب زه حس کوم، تاسې به دغه دروند غم څومره په سختي تېر کړی وي، خو ډاډه یم چې تاسې خپل همت نه بایلی، ځواک مو تل لکه د الماسو غمی د ستونزو په وړاندې ځلېږې.

دغه تصادف ته حېرانه شوم د هر چا په خوله به د الماسو غمی نوم یا هم مثال راته ویل کېده، ورته ومې ویل؛ دا ځل ماته شوې یم بیخي ډېره، ځکه چې اوس له خدای ج پرته کوم بل خواخوږی نلرم .!!

ـ زه دې خواکې یم کنه ...

تاسې خیریو اوسئ، خو بیا هم د کورنۍ غړي د کورنۍ غړي وي .

ـ ښا په یوه نامناسب وخت کې مې زنګ وواهه، بښنه غواړم، بل وخت بیا ستاسې احوال اخلم .

هغه ټلیفون پرې کړ، لامې فون له غوږه نه وو لرې کړی چې بیا وشرنګېده، فکر مې وکړ ډاکټر چنار نه څه د ویلو پاتې دي خو چې ښیښې ته مې وکتل زما د ترور د زوی ټلیفون وو، هغه چې د شل زرو افغانیو یې قرضدارې وم .

ـ سلام/ع

ـ و/سلام

ـ څرنګه یې جنګیرې

ـ ښه یم، زموږ به څه ښه والی وي د چا چې یوازېنی هیله هم په خپلو غړېدلو سترګو له خاورو لاندې دفن کړي نو د هغه به څه ښه والی وي؟!

ـ ګوره ته خو یوه تعلیم یافته جلۍ یې، مور او پلار چاته تر قیامته ندي ژوندي، اوس خپله ژوند ته دوام ورکړه له ژونده خوند واخله.

ـ څرنګه خوند؟

ـ ګوره تېره ورځ دې هم زما له خبرو ناسم مطلب واخیست، خو زه ستا په ښمر لګیا وم، اوس هم غواړم چې ته خوښ ژوند ولرې.

ـ نو څه وکړم ته يې راته لارښوونه وکړه ؟ زما ددې خبرې له اورېدو هغه داسې فکر وکړ چې زه يې لين ته ولوېدم …

- ګوره دوه ورځې دنيا ده، تېرېږي، خو چې په غم تېرېږي بايد په خوښي تېره شي له ژونده خوند واخله ساعت تېر کړه.

- نو ستا مطلب دی چې وګډېږم، ستا غېږې ته ولوېږم، ستا لانځکه شم، همدا غواړې؟ هغه کټ،کټ وخندل،بيا يې وويل:

ـ هوښيار ته اشاره په کار ده .

ـ ته د دې نړۍ پست ترين انسان يې، ستا ذات د وزې له مثاله دی، هغه چې په خپله مور سپرېږي، زه ستا د ترور يوازينی نښه يم او اوس ډېره يوازې شوې يم ستا فرض دغه وو، چې اوس ماته د لور نوم ياد کړې زما په سر دې د ترحم لاس راکش کړی، خو ته دومره د نفس د خواهشاتو وږی يې چې حد نه لري، تا ماته څه ډول فکر کړی، دا چې څوک نلرم پخه ډوډی دې وبللم، ستا غوندې خلک زه دې خدای ج په بندګانو کې هم نه راولم، د وزې زامن ورته وايم، خبرو ته يې ښه اشتها وه، خو ما ورته ډېره ژر دغه د اشتها لړۍ ورپرې کړه.

لنډ ځواب يې راکړ سبا زه درځم هغه زما پيسې راکړه !!

ـ زه تاته په دې يوه ورځ کې پېسې له کومه کړم؟ تا ماته پيسې ددې لپاره راکولې چې بلاک ميل مې کړې او خپل خواهشات راباندې پوره کړې، وشرمېږه په دې کار دې ؟ ته هم پوهېږې چې زه پيسې نلرم تاسې ته پيسې له کومه کړمه ؟!!

ـ له اسمانه يې پېدا کوې او که له ځمکې زه پېسې غواړم کنه ؟

ـ کنه بيا به څه وکړې؟

ـ هغه څه به وکړم چې زړه مې غواړي ...

نور يې ټليفون پرې کړ، حېرانه يې کړم د هغه خود غرضي ماته بيخي بل رقم مالومه شوه، فکر مې وکړ دلته څوک چې چا سره مرسته هم کوي بې مطلبه يې نه کوي دا څه ډول انسانيت او مسلماني شوه.؟!

دا څه ډول د خپلوي اړيکې شوې؟

دا خو ټول د مطلب اړيکې دي !

ما چې کمپله د خوب لپاره راته اچوله خپل ځای مې د خوب لپاره برابراؤ نو زړه کې مې وويل ځه له شپږ مياشتو وروسته به نن ښه خوب وکړم خو هغه د چا خبره د چا چې په ښېرازي کې قسمت نه وي، بيا نه وي، دغه شپه مې هم د نورو په څېر رڼه تېره کړه .

ټول خپل او خپلوان مې مخې ته ودرېدل، خو څوک مې پکې داسې پيدا نه کړل چې د دومره پيسو قرض تمه ترې ولرم او دغه رزيل پرې خلاص کړم.

پلار ته مې هم نشو ويلی ځکه چې هغه د پيسو زوی وو ډارېدم چې د دومره پيسو ورته ووايم له کوره مې ونه شړي، يا به هم بل تهمت راباندې ولګوي، چې دا پيسې دې ځان ته د کومې خوښي لپاره قرض کړې دي .

ډاکټر چنار مې ذهن ته راغئ، شمېره مې ډايل کړه خو د زنګ تېرېدو مخکې مې بېرته پرې کړه ځان سره مې ووېل هغه به خدای زده څه فکر راباندې وکړي نور مې داسې څوک نه وو چې دا مرسته مې ترې غوښتې وای، بس د خدای هيلې ته مې هرڅه پرېښودل او ځان ته مې په دې تسلی ورکړه چې ګوندې هسې اخطار وو، دومره بې غيرته به نه وي چې تر کوره پسې راشي.

سهار شو پلار مې دندې ته ځادر په اوږه کړ او زه یوازې پاتې شوم، د کور کارونه مې خلاص کړل لس بجې شوې، چې دروازه راټکېده، ښه ډاره شوې وم ځان سره مې ویل دې دروازې له شا یې ګورم که هغه وو، دروازه نه ورخلاصوم، د دروازې له شاه مې غږ کړ څوک یې !! ځواب مې ترلاسه نه کړ، بېرته کار پسې لاړم لس دقیقې وروسته بیا دروازه راوټکېده.

دروازه مې ښه کلکه ځنځیر کړې وه د ننه لوري مې غږ وکړ،څوک یې ځواب نه وو، د دروازې له چولو مې وکتل بیا هم بهر څوک مالوم نشول بېرته کار پسې لاړم بیا هم لږ وروسته دروازه وټکېده خو زما  د غږ په وړاندې چوپه چوپتیا وه بهر مې بیا چولو کې وکتل څوک نه ښکاره کېدل، لرې مې یوه دوه  ماشومان ولېدل چې لوبې یې کولې، فکر مې وکړ د کوڅې ماشومان به وي، دروازه مې په دې خاطر ورخلاصه کړه چې ورته ووایم چې بیا مې نوره  ازار نه کړي، سم مې دروازه خلاصه کړه او سم هغه له دېواله پټ راپورته شو ما چې د دروازې د بندولو هڅه وکړه نو هغه د بهر لخوا ونېوله او په زوره رادننه شو.

ورته مې  کړه ته څه غواړې ؟

وې ویل؛ راځه د ننه خبرې وکړو، ما ورته وویل چې زه ستا سره د خبرو لپاره څه نلرم زما د پلار کوټې ته ننه وت ویلې بهر خلک خبرې اوري راشه دوه دقیقې خبرې کوو مجبوره شوم  زه، ور ننه وتم، مالې څه چل دی!

وې ویل :

ته نور ضد مه کوه، لږ تر لږه د مېلمه درناوی خو کوه، مالې مېلمه زما په سر سترګو کېنوم خو چې مېلمه وي ستا غونډې د غوايي ښکر اړم نه کړي او په زوره کور ته رادننه نشي.

هغه له غوسې سور واوښت وې ويل:

يا مې روپۍ راکړه او يا به هم نن زما يوه خبره منې ...!

څه خبره ؟

بس څه چې وايم هغه ومنه !

بيا درسره واده هم کوم ...

ـ ښه دومره پخه ډوډۍ درته مالومه شومه ...!

ـ که ته دا کار نه کوې، ماته هم چل راځي، ژر يې د کوټې د وره طرف ته منډه کړه دروازه يې قلف کړه .!

وې ويل په زوره د ځان ته تسليموم .!

له جيبه يې چاقو راوباسه په ښي لاس يې راته پورته کړ په ببره يې زما په لوري حرکت ورکړ، ما فکر وکړ له سينې مې ووت خو هغه زما بدن ته په نېږدې کېدا چاقو ببرته کنټرول کړ .

ډېره وډاره شوم  ورته مې کړه دروازه خلاصه کړه زه دې پيسې در کوم ويلې همدا اوس يې غواړم ورته مې کړه همدا اوس يې درکوم خو پيسې  په هغه بله کوټه کې دي.

ما سره پيسې چېرې وې غوښتل مې چې په همدې بهانه ووځم او په انګړ کې چغې وکړم ترڅو مې همسايه ګان له دې بې عزته ځناور څخه خلاصه کړي ورته مې کړه،

دروازه خلاصه کړه چې درته راوايي خلم، هغه وويل د هغې کوټې کيلي ماته راکړه زه يې را اخلم ته په همدې بهانه ځان خلاصوې .

هغه پوه شو چې نورې زما بهانې ختمې شوې زما په وهولو يې پيل وکړ پر مخ يې په داسې څپيړو ووهلم چې سر به راباندې تاو شو، مخ به مې بې حسه شوو، ان څو ورځې وروسته هم له دې پيښې زما مخ د هغه درنو څپيړو له لاسه درد کاوو ما هم خپل غيرت له لاسه ورنه کړ، سوکان او لغتې مې په مقابل کې ورکولې، هغه راته وويل ځان مه سترې کوه ځان راته تسليم کړه زما هيله پوره کړه وروسته هسې هم واده درسره کوم، ستونزه نه درته جوړيږي .

له دې خبرې سره مې يوه ښه کلکه څاپيړه پر مخ ورکړه، هغه بيا خنجر ته لاس کړ سوک يې پورته کړ او په ضربې سره يې زما پر سينه راخوشی کړ، زما بدن ته د خنجر څوکې له رارسيدو مخکې ما هغه ټيل واهه، هغه غټه باډې لرله خو خدای ج زما سره وو، له ټيل وهلو سره وغورځيده خنجر ترې ولويده ما ورمنډه کړه خنجر مې ترې واخيسته، غوښتل مې پرې وې ډار کړم او نور زما له کوټې ووځي، ورته کش مې کړ پر دې وخت کې د هغه غوښتنې او درنې څپيړې راته ياد شوې .

ځان مې کابو نشو کړای، يو وخت پوه شوم چې نمايي خنجر يې پر تشي ننوتلی دی، وينې ترې رارواني شوې ما خو کله هم له انسانه د وينې بهېدل نه وو ليدلي هغه هم زما له لاسه چې يو څوک ټپي شوی وي، بيخی وارخطا شوم، ځان سره مې وويل اوس به څه کېږي، زه به مې پلار ته څه وايم، خلکو ته به څه وايم او زما په اړه به خپل خپلوان څه فکر وکړي حق حيرانه شوم .

په دې وخت کې مې د هغه څېرې ته وکتل پوره خاسفه وه، هغه جيب ته لاس کړ ټلېفون يې راوباسه ما فکر وکړ پوليسو ته زنګ وهي نوره هم وراخطا شوم، څو لحظې مې ځان په زندان کې وليده خو د هغه غږ مې واورېده په ټلېفون کې خپل ورور ته مخاطب شو .

ورته يې کړه زه د محراب دين کره يم، دلته په چاقو ور ولوېدم تشی يې را ټپي کړ د دوی کره نور څوک نشته ژر راشئ او ما روغتون ته يوسئ .

بيا يې ماته وکتل وې ويل زما او ستا خبره ختمه نده، اوس خو زه د نوم سړی يم ستا د نوم له ښودلو سره زه هم رسوا کېږم، وروسته به بيا سره خبرې کوو.

زما رنګ ته لږ وينه ورغله ډوبې، ډوبې ساه مې ارامه شوه، د زړه ټکان مې کم شول او ځان سره مې وويل څه چې له دغه بېړنۍ حادثې بچ شوم وروسته بيا خدای ج شته .

ورونه يې راغلل هغه يې روغتون ته وې وړ او زه يوازې په کور کې پاتې شوم جارو مې راواخسيته د هغه مردار وينې مې له اوبو سره ومينځلې او يوې ګوښې ته کېناستم، يوه ژور فکر وې وړم، ځان سره لګيا شوم، ومې ويل زه څومره بد قسمته يم، خلک مې څرنګه تيار خواړه بولي چې ومې خوري، څوک رانه وېره نلري چې څه يې زړه غواړې پرته له ويرې يې راسره کوي که مې ورونه درلودی، يا مې د مور سيوری په سر ولاړ وای دومره په جرئت به کله چا زما بدن ته لاس راوړی وای، خو زه هغه څوک يم لکه بې سرپوښه ديګ، چې هر څه ورغورځي زما ژوند ته هم هر څوک راځي، ښه ډېر مې د خپل قسمت په يوازيتوب وژړل، ژړا ډېره ښه وي ډک زړه ورسره تش شي يوه ډاکټر نه مې اورېدلي وو، چې د خفګان پر وخت کې د

انسان په بدن کې اډرینالین زیاتیږي او هغه له اوښکو سره بهر کیږي څکه زړا سره د سړي زړه ارامیږي، او زړه هم ورسره سپک شي.

زما هم لږ زړه ارام شو لا نورمال حالت ته سمه نه وم راغلې چې ټلیفون زنګ مې خپل اړخ ته پام واړاو .

پر سکرین ډاکټر چنار لیکل شوی وو، ورته خوښه شوم هغه مې لږ باور ترلاسه کړی وو، یو علمي کس وو، او لکه زما د ترور زوی بې علمه شیخ او حاجې صیب په څېر مې ترې وېره نه درلوده .

سلام مې ورته وویل !

- لومړی یې یو ځل بیا د مور د مړني تسلي په ډېرو درنو الفاظو راکړه بیا یې وویل وبښئ چې ستاسې پوښتنه مې بیا ونه کړه له ناروغانو سره ډېر بوخت یم همدا اوس مې هم یو عملیات وکړ د یوه کس پښتورګي په چاړه وهل شوی وو، خو شکر چې پر وخت مې رسېدګي ورته وکړه کنه سخته وینه یې ضایع کوله .

زما له خولې ناڅاپه ور ووتل هغه اوس څرنګه دی ؟

ښه دی، مرګ نه بچ دی، هغه څه پېژنې؟

- زموږ خپلوان دی، شکر چې ښه شوی وي

ورته مې کړه دا دوهم ځل دی چې زما ژوند دې وژغوره .

هغه کټ کټ وخندل، بیا یې وویل هغه څنګه ؟

- ورته مې کړه لومړی دې زما مور وژغورله، عملیات خونه کې دې مرګ په بریډ کې وه اوس دا کس .

- د اکس هم دومره مهم دی ؟!

ـ نه مهم يې مه کړې، خو که مړ شوی وای، زما ژوند په خطر کې وو .!

ـ جلی دا څرنگه گونگه خبره کوې کیسه څه شی دی؟

ـ بس هسې، نور له دې خبرې تېرېږو.

ـ خا سمه ده هر څرنگه چې ستا خوښه وي.

غواړم زما يوه خبره درته وکړم چې مخکې مې درته يادونه کړې وه.

په دې شرط چې تاسې زهناً اماده وی او مناسبه يې گڼئ ؟!

ورته مې کړه؛ ارامه خو نه ومه، له ډېرې بدې صحنې تېره شوم خو اوس چې ستا خبرې مې واورېدې ارامه شومه.

ـ هغه زما په دې خبره چې هغه ته مې ارزښت ورکړ ډېر خوښ شو.

ويې ويل :

ښه غوږ شه !!

زه دې تا لپاره په زړه کې بيخي بل رقم احساس لرم داسې احساس چې له دې مخکې مې د هېڅ چا لپاره نه وو .

داسې احساس چې تل دې وگورم، زما پر مخکې د غتې،غتې سترگې اوړي او زه يې د خوږو حرکاتو ننداره کوم.

ـ خير وکړې لومړی ځل دی، چې څوک ارزښت راکوي او زما لپاره له ښه نيته خبرې کوي؟!

ـ ماته د الماسو په څېر ارزښت لري !

ـ يو که دوه ؟

ـ يو خو د کوهي نور الماس .

ـ ښه ډېر ښه

ـ نو ...

ـ زه غواړم چې نور دې له لرې د لېدو هیله ونه لرم غواړم تل مې په خواکې واوسې او د نړۍ ټولې خوشحالۍ درکړم !

ـ نو ...

ـ ایا زه ستاسې لیاقت لرم !؟

ـ هی هی، استغفرالله، تاسې خو ډېر شکسته نفسي کوئ، او یا خو ما په کوم دام کې اچوئ .

په ښکلو الفاظو مې دوکه کوئ او بیا رانه گټه اخلی او بیا مې د کاغذ تشناب په څېر ایسته غورځوئ.

ـ داسې خبرې کوئ لکه چې په ژوند کې مو دوکې خوړلې وي ؟!

خو ټول خلک یو رقم نه وي.

تاسې خپل ښکلی لاس سترگو ته ونیسئ او خپلو موزونو گوتو ته وگورئ ټولې یو رقم دي ؟

ندي کنه ؟

ـ هو بلکل !

ـ همداسې چې د یوه لاس گوتې هم یو ډول ندي، نو انسانان هم فرق کوي زه په رېښتیا په تا مئین شوی یم زړه مې ستا په نوم په گوگل کې مستانه حرکات کوي هر وخت تا غواړي او ستاسې خوښي غواړي.

ـ زه څرنگه په تاسې باور وکړم؟

ـ د باور لپاره تاسې ووایئ ان که زما وینه هم غواړئ،کومه نېوکه پرې نه لرم، زه ستا د باور لپاره هرڅه کولی شم،.

ـ پوه شوم ډاکټر صیب، زه هم انسان یم، حس کوم دې تاسې په خپلو خبرو کې رېښتیني یاست ځکه ما لوبوی نه، پر ما د ساعت تېري لپاره کوم فرمایش نلری، غواړئ حلاله محمدي نکاء باندې ما خپله کړئ، همدا د مینې لوی ثبوت دی.

زه همدغسې ښه انسان د هرې دعا په سر کې غواړم، خو زما واک نشته زما واک د پلار سره ده، هغه اوس پر ما سودا روانه کړې ده، داسې چا ته مې ورکوي چې هغه په بدل کې ورته خپله خور ورکړي، دغه سودا یې اوس روانه کړې ده خلک چې راشي ما خوښه کړي خو چې دده شرط واوري نو دده عمر اوس د واده ندی، نو وتښتي، کله چې زه ورته ووایم چې زما ژوند باندې ولې قیمار وهې نو سل تهمته راپورې کړي، وایي ته مې د همدې ورځې لپاره رالویه ولې، ته زما په کیسه کې نه یې زما میراثه کېږي، دې تا په ما زړه نه سوځي، چې ته واده شې زه به څه کوم په جومات او کوڅه کې به اوسم.

سل داسې نور دلائیل وایي او ما ځواب ته هم نه پرېږدي.

ــ زه غواړم یو ځل ورسره وګورم؟

ـ وګوره ړوند له خدایه څه غواړي دوه سترګې؟

ـ زه به هم تاسره ووياړم

ـ پلار دې کور ته څو بجې راځي؟!

ـ څلور بجې.

څلور بجو باندې مې پلار راغی سم مې پلار راغئ سم مو ډاکټر چنار دروازه وټکوله

دواړه کوټه کې سره کېناستل، ما یې د وره له شاه د اورېدو هڅه کوله ما به په ژوند کې هم د ډاکټر خبرې هېرې نشي.

زما پلار ته یې وویل زه یو مشهور جراح یم ستاسې د میرمنې مغلق عملیات ما وکړل ښه عاید لرم، ښکلی کور لرم او پرېمانه پیسې لرم.

دا هر څه درکوم ان کور کې مې د مور زر پاتې دي هغه هم درته خرڅ کوم، بس په ځان کې یکي یوه جوړه کالي پرېږدم، هرڅه له تا قربانوم.

او په عوض کې یې ستا یوه لور غواړم .!!!

ـ پلار مې کټ کټ ورته وخندل ورته یې کړه زه یو شئ هم نه درنه غواړم بس یوازې زما کور اباد کړه په بدل کې خپله خور راکړه چې کور مې اباد شي.

ـ هذار کرتی به مې خور هم درکړې وای خو هغه ستا د لور په عمر دی

دا درته بې انصافي نه ښکاري !؟

ـ څه بې انصافي ده، ښځه خو د کور ابادولو لپاره ده، په خېټه به یې درته مړه ساتم نور څه غواړې؟!

ـ گوره پرېمانه پیسې درکوم ځان ته یې په خپله پیدا کړه یوه نه دوه وکړه .

ـ نه ماته خو یې بیا ځوک نه راکوي، ته ماسره بازار تیزی کوې، ما غلطوې، نور ته تللی شې، هغه بې چاره یې په زوره جگ کړ، له کوره ووت، لږ وورسته یې راته زنگ وکړ.!

ناهید زه له تاپرته ژوند نشم کولی، پلار دې داسې شرط وړاندې کوي چې هغه زما د خور لپاره له مرگوني سزا پرته بله مانا نلري.

خو ته مه خپه کېږه او مایوسه نشې زه ځم عمرې ته پر مکه کې دې له الله ج نه غواړم، هغه ذات په واک کې د هر انسان زړه دی، کېدای شي د پلار زړه دې هم واړوي .

ـ عمرې ته لاړ شه هلته حتماً دوعاوې قبلیږي، زما پلار سره ما ستا ټولې خبرې واورېدې، د هغه ناوړه ځوابونه مې هم واورېدل، زما هم خوښ شوی یې تاسره مې زړه غواړي یو ځای پاک ژوند وکړم حلاله نکا وکړو بچیان ولرو، او هوسا واوسو، هغه زما له خبرو سره په ژړا شو نور یې ټلېفون پرې کړ .

درې ورځې تېرې شوې، زما او پلار بحث به په دغه خبره کېده خو هغه به رټلم، او د بې حیا انجلی خطاب به یې راته کاوو.

پر څلورمه شپه مې پلار ډېر ناوخته کړ، ان د شپې نهه بجې شوې، زنګ مې پسې وکړ ځواب یې رانه کړ.

لږ وروسته زموږ د کور مخې ته د تمانچې ډزې شوې، وروو‌تلم چې زما پلار او دوه نور کسان کور ته راننه وتل د یوه دسمال په اوږه دي .

ورته مې کړه خیر خو دی، پلار مې ځواب راکړ لورې مبارک دې شه بله مور مې درته پیدا کړه، خپل لوېدلي غاښونه یې ښکاره شول تبسم یې وکړ  ورو یې راته وویل جلۍ ده کونډه هم نده!

ـ په څو دې وکړه، ولور یې څو دی؟

تاته مې هم کور اباد کړ خبره دې بدل دی.

ـ نو لږ تر لږه له ما خو به دې پوښتلي وو...!

ـ دلته لورانې چا پوښتلې،بده خبره ده...

ـ ولې تا چې کم عمره د لور په ځای مېرمن ځان ته وکړه دا بده نده، خو چې زما د ژوند باره کې له ما مشوره واخلې دا بده ده.؟!!!

ـ گوره جلی ژبه دې اوږده شوې ده،که مې نور په غوصه کړې بیا به دا هېر کړم چې ته مې لور یې، ته باید اوس خوښي ښکاره کړې چې د پلار کور دې اباد شه،کور کې یې رڼایي پیدا شوه د ډوډۍ پخولو یې څوک پیدا شوو، ته نورې بابولالې وایې.

ورته مې کړه نو زما ژوند به څرنگه شي ؟ کم ترکمه له ما خو دې باید پوښتنه کړې وای، هغوی چې تاته پېغله لور درکړې حتماً یوه مجبوری لري حتماً په هلک کې څه ستونزه شته، یا خو ستا په څېر سپین ږیری دی او یا خو هم معیوب زلمی دی، مالومېږي چې چا ورته د واده لپاره هو نه دي ویلي.

هغه زما ټولو اندېښنو ته تش په دې جمله ځواب خلاص کړ چې څه په نس او .... به مړه شې.

حق حیرانه پاتې شوم نه پوهېدم څه وکړم او څرنگه دغه زما په ژوند د راغلي طوفان مانع شم.

شپه خدایزده څرنگه په سرگردانۍ او اندېښنو کې تېره شوه سهار د چایو له خوړو وروسته مې، پلار سپینه ږیره توره کړه او پخوا به یې سپین پاچ په سراوو د ځوانانو تکه توره لونگۍ یې ووهله سم د واده زلمی یې له ځانه جوړ کړ.

زما په زړه کې د اندېښنو لپاره د هېڅ چا سره ځواب نه وو او نه راته کومه مرجع مالومه وه چې پوه شم دغې کورنۍ ولې پیغله لور زما سپین ږیري پلار ته ورکړې.!!

په دې ډاډه وم چې زما په سر خو سودا شوې پلار مې دې ځان ژوند بسیا کولو لپاره زما ژوند په اوبو لاهو کړی، هلک حتماً نېمگړتیا لري، خو په دې نه پوهېدم چې ړوند دی، گوډ دی، بد اخلاقه دی، او یا هم د کومې بلې بدې ځانگړتیا خاوند دی سخت زړه مې په تنگ شو، هېڅ څوک نه وو، چې زنگ مې ورته وهلی وای او خپله اندېښنه مې ورسره شریکه کړې وای.

بس له ژړا نور څه نه وو راپاتې یوې گوښې ته شوم چې ښه وژاړم، ټلېفون ته مې زنګ راغی بهرنۍ شمېره وه وډاره شوم چې دا به څوک وي، وامې نه خېسته، لږ شېبه وروسته بیا ټلېفون وشرنگېده، فکر مې کړ کېدای شي شبکه وي .

هلو مې وویل؛

ځواب راغئ!

وډاره شوې، مه وارخطا کېږه زه یم!

ـ ته څوک

ـ ډاکټر چنار

ـ دا شمېره خو د بهر نه ده؟

ـ هو ده؟

ـ نو له کوم ځایه خبرې کوې

ـ مکې ته راغلی یم، د خدای ج کور ته نېږدې یم لږ وروسته به دلته ستا د لاسته راوړلو او ستا د پلار د زړه نرموولو لپاره خدای ج ته لاسونه لپه کړم.

ته ډاډه اوسه هغه دلته خپل بندگان ناهیلي نه پرېږدي!

ته ماته دومره ارزښت لرې چې دلته به د ایمان سره جوخت ستا دلاسته راوړلو سوال هم کوم، ته ماته الماس یې هغه هم د کوهي نور الماس ...

لږ شببه چوب پاتې شوم .!!!

د هغه لخوا غږ راغئ زما خبرې اورې، ایا زما په دغه کار خوښه نه شوې ؟ ایا احساس دې نه کړه چې تاسې ماته څومره مهمه یاست؟

ایا اوس هم پر ما باور نه کوې؟

ـ زما له زړه وینې څڅېدې، هغه پردی بې چاره د دومره لوړ تعلیم او زده کړو سره سره بیا هم ماته ځان ثابتوو، چې ما سره له زړه مینه لري خو دلته مې سکه پلار، څه راسره کوي دواړه مې سره پرتله کړل بلا اسمان او ځمکه توپیر یې درلوده په رېشتو مې باور ختم شو، پلار، ورور، او...

هر څوک تر خپلو ګټو محدود دي او دغه رېشتې پالي، د ځاني ګټې لپاره دې اور ته هم اچولی شي.

هغه ته مې خبرې په چغو بدلې شوې، ښه ډېر مې ورته وژړل.

هغه په حیراني سره غوښتنه کوله جلۍ څه شوي؟

د خدای د پاره ولې ژاړې ؟

ولې زما واده درته جبر ښکاري؟

ته راضي نه یې ؟

د هغه بې چاره خبرو او رېښتینولي ماته نوره هم ژړا راوسته، د خپل بخت نه به مې ګیله راتلله، کله مې هم چې ژبه لږ خبرو ته جوړه شوه ورته مې کړه :

ډاکټره ته نور اړتیا نلرې چې زما د خپلولو لپاره لاسونه لپه کړې او مکې ته دننه شې

ـ ولې څه شوي دي،؟
لکه چې زما په اړه درته چا ناسم پوهاوی درکړی ؟!!
ـ نه ،داسې نه ده .
ـ نو ...
ـ نور له ما لاس ومېنځه
ـ گورئ زما زړه نور چوي څه ټکه رالوېدلې ولې يې نه وايې؟
ـ هر څه نور ختم شول پلار مې زما په ژوند سودا وکړه، ځان ته يې زما په بدل کې پېغله مېرمن وکړه او زه يې د يوه نامالوم برخليک پر کړنگ ودرولم.
ـ هغه لومړی چوپ پاتې شو، بيا مې څو غلې، غلې سلگۍ واربدې، په ژړه غوني غږ يې وويل:
خدايه ج لکه چې تبا شوم، خو ماته مخاطب شو وې ويل:
ته مه وارخطاکېږه، خپله هيله مه پرېږ کوه زه په دا اونۍ کې بېرته راواپس کېږم، پلار ته دې د هغه په خوښه پېغله جلی کوم که دا ټوله هستي مې پرې ځي هم باک يې نلرم، ښه پوهېږم دا جرم دی، د بل چا د ژوند سره لوبې دي خو ډېر مجبور يم، اوس زما ژوند له تا پرته شونی دی،که د سرو به طول هم وي زه بله انجلی ستا پلار ته کوم او دغه ريشته ماتوم ان د خپلې خور ورکولو ته هم چمتو يم، ما ورته وخندل ورته مې کړه ؛!
دا هسې خيال دی سراب نه د تندې د مړېدا هيله ده موږ او تاسې پښتانه يو دلته چې يو ځل ريشته وتړل شي بيا په مرگ له منځه ځي، اوس اوبه له ورخه تېرې دي، د هغه غلې غلې سلگۍ مې واورېدې.

وروسته يې ټلېفون پرې کړ .!

شاته مې مخ واړاؤ پلار مې ولاړ وو زموږ ټولې خبرې يې اورېدلې وې، په ملا کې يې يوه داسې محکمه لغته راکړه چې مخامخ دېوال باندې ولګېدم،يوه تېره تېره له دېواله راوتلې وه ټنډې ته مې برابره شوه، ورو،ورو له دېواله سره وښکېدم، پر ځمکه کېناستم، سوکان او لغتې مې پر بدن لګېدې،کله،کله خو به يوه نېمه تېره او لوټه هم زما په ولو پورته جګه شوه.

لږ وروسته مې يخو اوبو ته ورته نرۍ ليکه پرمخ احساس کړه لاس مې ور ووړ، بيا مې سترګو ته ونيو لاس مې سور وو، پوه شوم چې له ټنډې مې وينې رابهېږي کله چې ښه سترې شو او زما له وهلو فارغ شو نو په بدو ردو کنځا، تهمتونو او د يارانو پر پېغورونو يې راته ژبه ګويان کړه زه لکه مجرم چوپه خوله ورته ناسته وم، هېڅ څه مې هم ورته نه ويل پوهېدم که ځواب ورکړم حال مې له دې هم بدتروي.

کله چې رانه تلو وې ويل :

ته کچنی خدايزده څومره يارانې لرې، ډارېږم ونه تښتې او د خلکو د خندا مې نه کړې، يوه اونۍ کې د واده چمتو کوم نور لاړو، د هغه له ژمنې سره سم يوه اونۍ وروسته زما واده چمتو شو، د خسرګنۍ له کوره انجونې او مېرمنې راغلې کالي يې راوړل، ماخوستن شو ګنې انجونه رانه تاو شوې، سبا واده لپاره يې زما په چمتووالي پېل وکړ، ما ورته وويل زه لومړی غسل کوم بيا تاسې په خوا کې کېنم ټولو هو ووويل .!

بېرون ووتلم دوه راغلې مېلمنې انجونه سره ولاړې وې ماته يې پام نه وو، زه ددوی په خوا کې حمام ته په لاره وم يوې بلې ته وويل دا جلی خو سمه د الماسو غمی

ده له هغه عیاش او د ټابلیټ کا په گولیو باندې عدتي گل کریم سره به څنگه ژوند تېروي ( ټابلېټ کا یو ډول گولی دي چې سړی مستوي کاذبه خوشحالي انسان ته ورکوي او بیا په هېڅ هم صرفه نه کوي اوسنی ډېر خدای ناترسه ځوانان پرې اخته دي ) وای ښکلی په ریښتیا تالې نلري .

له دې خبرې سره مې پښو کې دمه ختمه شوه او پوه شوم چې زما اندېښنه بې ځایه نه وه، حمام ته لاړم په ټېکري کې پټ د ټپ پټی مې لرې کړه .

غسل مې وکړ او یوې گوښې کوټې ته لاړم دوه رکعته لمونځ مې وکړ خدای ج ته مې لاسونه لپه کړل په دعاو مې پیل وکړ .

اې ربه ته هرڅه ننداره کوې، ماشومه وم پېغله شوم یوه ښه ورځ مې نه لېده، نن په غړېدلو سترگو گورم ژوند مې لکه طوفان اخیستې کېښتی ډوبېږي.

د واده لپاره انتخاب زما حق دی اسلام راکړی خو مسلمانانو ترې محرومه کړمه، هغه زلمی چې ما انتخاب وو، د هغه په سر یې ووهلم زما وینې یې وبهولې اوس خبره شوم چې د ټابلېټ کا د نشو تماشو یو کس ته یې ورکړې یم .

خدایه ته زما پلوي وکړې ما له دې مرداره وژغورې او ما مې خپل پاک ډاکټر چنار ته ورسوې .

جاینماز مې ټول کړ، بس دلته کلتور حاکم وو، وایي چې خدای ج یې درکوي شیخ مدین یې نه درکوي دلته هغه څه عملي کېدل چې شېخ مدین غوښتل .

پر تخت یې کېنولم فکر مې تیت او فاشان وو، پېغلو ته دغه تخت یو غرور وي د خوښي یوه لمحه وي، خو ما ته د پانسۍ له داره کم نه وو، مجبوره وم دا هره څه وزغمم .

کله،کله به یوه هیله راسره پیدا شوه چې شاید ما غلط څه اورېدلي وي ،کم ترکمه چې سړیتوب ولري هم بسنه کوي .

ټوله شپه مې په وېښه تېره کړه، سهار شو کور مو د مستو انجونو د دریا غړونو واخېست او بیا هغه وخت هم راورسېده چې د دریابونو له درزا سره د ناوې جوړ موټر ته وختم.

لوی گڼ کور ته ورسېدو زما د خوابنې څلور زامن وو هر یوه پنډه عیال درلوده مسته کورنۍ وه د زړونو زور یې زیات وو، پېغلو او ځوانانو یې داسې ساعت تېری کول ته وا په ژوند همدا یوه خوشحالي ور په برخه شوې ده.

ځېنو ځایونو کې خو د راغلو انجونو او د کور ځوانانو گډ اتڼونه هم کېدل، ماته دغه کار هیڅ ښه مالوم نشو، تر دوو ورځو پورې پر خپله کوټه کې وم .

درېیمه شپه د ماخوستن ډوډۍ او نکاه، وروسته زما کوټه ورو، ورو د انجونو نه خالي کېده تر هغه چې زه یوازې پاتې شوم شپه پخه شوه یو دنگ ځوان اطاق ته راننه وت، پوه شوم چې خاوند مې دی، ماسره ډېره اندېښنه وه، چې زما تړون به د څه ډول کس سره وي د سترگو له کونجو مې ور وکتل څهره یې هم بده نه وه اوږده وېښتان یې درلودل سپین مخ او گڼ برېتونه یې پر شونډو پراته وو .

د اطاق پردې یې کش کړې ور یې قلپک کړ، زه د اطاق په یوه کونج کې د پالنگ خواکې ناسته وم مخامخ راته کېناست زما پر سر پنډ پړونی وو، نیمه مخ مې ترې ښکارېده، هغه یې راپورته کړ ښه ډېر یې راته وکتل، بیا یې وخندل ورو یې ووویل ماشاالله دا خو سمه د الماسو غمی یې ....

شاته یې ډډه ووهله یوه پښه یې په بله واړوله کېڼ جیب ته یې لاس کړ د سېګرېټو ډبی یې راوباسه د اور خلی یې ورکړ لږ شېبه وروسته یې د خولې او ګڼو برېتونو له خوا لوګي هوا ته پورته شول زه ژر پورته شوم یو د ورسۍ پله مې خلاصه کړه ورته ومې ویل زما په لوګي کې نفس بندېږي...

هغه زما په دې کار په قهر شو د تمې خلاف یې غوصه یې وکړه وې ویل بنده یې کړه کړکۍ،کنه خوند به در نه کړي .!

زه هم وډاره شوم پرته له نور دلیله مې د ورسۍ پله بنده کړه .

بېرته خپل ځای ته راغلم کېناستم د زړه ډوبي مې لا په کرارې شوې نه وې راته وې ویل دا چې ډېره ښکلې یې دا مانا نلري چې نازونه به کوې، دلته به ماته غوږ او سترګې وې زه چې څه وایم هغه به عملي کوې په خپل سر کارونه نه منم څه چې کوې له ما به اجازه اخلې .!

سوړ اسویلی مې وباسه ورته مې کړه سمه ده .

د سترګو له کونجو مې نظر پکې واچاو هغه کېڼ جیب ته لاس کړ یو ښیښې بوتل یې راوباسه لکه د ماشومانو ژاولې رنګه ګولی پکې وې، څلور یې ترې راواخیستې خولې ته یې واچوله خواکې له اوبو ډک ګېلاس یې پر شونډو کېښوده تر ستوني یې تېرې کړې سل په سل مې وپېژاندې چې دا ټابلېټ کا دي.

ځکه ما یې په یوه مجله کې انځور او زیانونو په اړه لوستي وو .

بوتل یې زما لوري ته راورغړو، پر منځ کې ګولیو یې شرنګا کوله تر ما راورسېده راته وې ویل له دې ګولیو یوه وخوره.!!!

د خوښۍ لومړی شپه مو ده، دواړه یې مسته تېره وو، داسې مسته چې تل پاتې خاطرې یې پرېږدو.

ما بوتل راواخیسته په هماغه رقم مې بېرته وروشاړه چې ماته یې رالېږلی وو، ورته مې کړه زه مستي نه غواړم، او نه ورته اړتیا لرم.

هغه زما په دې کار په غوصه شوو، بوتل یې راواخیست په سر یې پرې وویشتلم، بوتل دروند وو سمه یې ګنګس کړم سترګې راباندې تورې شولې خو بېرته مې په سترګو رڼا شوله .

هغه په خبرو پیل وکړ وې ویل ما خو فکر کاوو، چې مېرمن مې راوړې ده خو ته په اصل کې زما مېرمن نه یې زما مېږه یې، له لومړی شپې د خود سرۍ شروع کړه ورته مې کړه سمه ده ته زما خاوند یې زه باید ستا خبره ومنم دا ستا حق دی خو دا ګولی زه پېژنم دا د نشې ګولی دي، دا خو حرامې دي او سړی ور سره عدت کوي.

ــ خا دا ګولۍ پېژنې ؟

والله څهره خو دې معصومه ده، ساده ده، خو ته خو په ډېرو شیانو پوهېږې.

ـ مطلب؟

ـ مطلب دا چې تجربه لرې!

ـ پوه نشوم؟

ـ یانې چې ماته ځان پاک، پاک کوې له ډېرو سره به دې خوړلې وي.

ـ لطفاً پر ژبه دې پام کوه، تاسې چې څه وایئ غوږونه مو هم اوري

ـ هو اوري یې

ـ زه نیوکه نه لرم ښه دې کړي چې خوړلې دې دي، ځکه ژوند دوه ورځې دی او باید خوند ترې واخیستل شي اوس یې چې له ماسره وخورې هم خوشحاله به شم؛.

ـ له یوه ځوان نارینه سره داسې خبرې زیب نه کوي ځوان نارینه په خپل ناموس ځان وژني، عزت یې له خپلې ساه غوره ګڼي او ته ماته هغه خبرې کوې چې له خاوند یې مېرمنې تمه نلري .

لطفاً که ټوکې کوې هم، دا ډول ټوکې زما نه خوښېږي.

ـ ته د جومات ملا یې او که زما مېرمن یې،ګولی وخوره او ماته فلسفې مه غړوه.!

ـ نه زه دا کار نه کوم، هېله ده په دې کار رانه خفه نشې او تاته هم وایم چې راتلونکی لرې ماشومان به دې وي، له دې کاره لاس واخله او زه درسره ژمنه کوم ستا ددې راز بل چاته نه وایم زما فرض جوړېږي چې د خپل خاوند غیبونه وساتم، سم زما ددې خبرې کول وو سم مې یو دروند سوک پر مخ ولګېده، مخ مې بې حسه شو چوپه چوپتیا وه بله کوټه کې د کورنۍ پېغلو زما د واده خوښۍ لمانځله سندرې یې کولې یوازې د هغوئ د دریاب غږ راته، له پوزې مې ځاځکي،ځاځکي وینه زما په لمن راتوېده.!

په خبرو یې پیل وکړ، زه اوس عیبي شوم ته ملایکه راواده شوې یې، ته ماته عیبي وایې او د راز ساتلو احسان هم راباندې اړوې ورشه ټوله نړۍ خبره کړه، زه دې هېڅ چا پروا نلرم .

نور له خپله ځایه پورته شو څنګ کې یوه بله کوټه وه هغې ته لاړه او لږ وروسته یې د ستوني خرهار زما تر کوټې راورسېده .

ښه ساعت وینه رانه څڅېده مخ مې بې حېسه وو، خپلې پوزې ته مې لاس کړ کړه راته مالومه شوه اینې ته ودرېدم زما هغه موزونه پوزه چې انجونو به یې د ځان لپاره هیله کوله اوس بیخي بل رقم مالومېده په رېښتیا کړه وه هډوکی یې مات و خدای خبر چې د ټابلېټ کا معتاد به په څومره قوت سوک زما پر مخ لورولی وي.

خدای ج شته پر مخ مې ډېر زړه بدېده د وهلو درد یې رانه هېر کړ، بېرته خپل ځای ته راغلم او د خپلې بې وسۍ او یوازیتوب په ژوند مې ښه وژړل.

تر ټولو له دې خبرې شرمېدم چې سهار به زه نورو انجونو او مېرمنو ته څرنگه مخ ورښکاره کوم، څه به ورته وایم، هغوی به څه وایي او څومره به د ملامتۍ پېغورونه راکوي، چې ته په لومړۍ شپه هم د مېړه لخوا ووهل شوې،حتماً د مېړه باور لاسته ندی راوړی، بس په همدې تریخو سوچونو کې مې ټوله شپه په ویښه تېره کړه پلار مې راياد شو چې ورته زنگ وکړم او ورته د خپلې بدبختی او په لوی لاس د هغه له امله ورته د ژوند تبا کېدو گیله وکړم .

خو هغه زنگ پورته نه کړ، هغه د خپلې نوې بي بي سره په ساعت تېري بوخت وو.

سهار شو لمر خپلې وړانگې وغوړولې تیارې خپل څادر ټول کړ، زه وختي پورته شوې وم د ناوېتوب په وینو لړلي کالي مې بدل کړل، لمونځ مې وکړ خو د کور خلک ټول پراته وو، له کومې کوټې رڼایي نه راتله چې د لمانځه لپار د پورته شوي وي.

خپلې پوزې ته مې ډېره اندېښنه وه یو ځل بیا اینې ته ودرېدم هماغسې کږه وه، لږ پړسوب یې هم درلود د پوزې هډوکي ته مې لاس وروړ، د سموالي طرف ته مې زور کړه خرس یې شو ځای ته ورغی خو له حرکت سره مې یو دروند درد هم حس کړ د

خوړو په کیسه کې نه وم خو د پوزې ځای ته ورتللو سره ډېره خوښه شوم ترڅو نورو ښځو ته کمه رانه شم .

ښه انتظار مې وکړ تیارې خدای پاماني واخیسته او لمر خپلې زرینې وړانګې وغوړولې ماشومان او لویان راوېښ شول د کورنۍ ماشومانو شور او ځوګ پیل شو، خو زما خاوند لا هماغسې پر خپل اطاق کې پړمخې غرق وېده وو، کالي او تودې اوبه مې حمام کې ورته چمتو کړې.

خو هغه د نشې ګولۍ خوړلې وې خپل وېده وو اوبه هم ترې یخې شوې اشپزخانې ته لاړم، د کور یوه پېغله پر چای تیارولو لګیا وه، زه هم ورسره اخته شوم...

هغې راته وویل کار ته ګوتې ورنه وړې زه وډاره شوم چې فکر کوم د کرکې له امله راته وایي په ببړه مې څهرې ته وکتل خنده رویه وه، مسکې،مسکې کېده هغې زما سره د خواخوږۍ له امله دا خبره کوله وې ویل چې یوه میاشت په تا کار ممنوع ده هغه زما پوزې ته متوجه شوه په حېراني یې راته وکتل بیا یې وویل دا ولې !! ورته مې کړه هسې د شپې مې فکر نه وو، په لیخکې کې مې پښه بنده شوه ولوېدم پوزه مې څه شي سره ولګېده .

ـ دروغ

ـ رېښتیا وایم

ـ اصلي خبره راته وکړه

ـ باور وکړئ

ـ ته قسم وکړه

ـ نو قسم ته څه اړتیا ده

ـ نه دې پرېږدم  د مور په سر قسم درکوم، زما له خولې اه ووت ورته مې کړه دداسې چا په نوم دې قسم راکړ چې د هغې لپاره مې ژوند هم څوک وغواړي نه نشم ورته ویلی.

ـ خو

راز ساتې ؟

ـ هو قسم کوم

ـ ایا ستا ورور د نشې کومې گولی خوري ؟

ـ زه خو نه یم خبره ولې د داسې پوښتنه وکړه؟

ـ  هسې

ـ فکر کوم هغه وهلې یې همداسې ده،؟

دا زما کشر ورور ده ډېر وخت ایران کې وو، بیا راغی هلته په بېلا،بېلو نشو اخته شوی ده.

ـ نو ایا نشیي کس ته څوک ښځه کوي ؟

ـ نه پوهېږم هغه د ښځې وږ نه وو، خو زما نور وروڼه یې گوابنل ورته ویلې یې چې واده راته وکړې کنه هر یو مو وژنم...

تاسې شریک کور کې ودوونه کړي دي زه هم حق لرم خلک ټول د هغه په دې عدت پوه وو، چا خور او لور نه ورکوله اخېر مور مجبور شو له خپلې خور ورته تېر شولو، تاسې کمبخته ورته رابرابر شوی، زما کم عمره خور ژوند هم پکې تبا شو، دده رزیل لپاره ستا اویا کلن پلار ته یې پکې لکه د قربانې گډ تحفه کړه مور خبرې

کولې چې شور او ځوک شو د اشپزخانې له کړکی مې ور وکتل، زما له کوټې زما سامان بهر ته را اچول کېږي،ځينې ښيښې سامان خو چې راولوېږي، ټوټه ټوټه شي حق حيرانه وم چې دا څه دي خوب گورم او که په وېښه دا هر څه وينم.

هغه سامان چې به په کړکۍ نه را لوېده، د وره له لارې به يې د انگړ منځ ته راواچاوو دړې وړې به شوو...

ښځو ورمنډه کړه زما خاوند ته يې وويل دا څه کوې؟

ته لېونی شوی يې ؟

هغوی ته يې ځواب نه ورکاوو خپل کار ته يې کار ويلی وو، د چا يې نه اورېده ټول سامان مې لکه تاريخ تېره درمل کوټه شول اخېر کې پالنگ هم راووېستل شو او لږ وروسته يې لوگي اسمان ته پورته شول .

زما څلور لېورونه وو هغه راخبر شول زما خاوند يې له گرېوانه ونيو ورته يې کړه ته لېونی شوی يې؟

ـ هو لېونی شوی يم، ماته مو ښځه نده کړې ماته مو مېږه کړی زما خبرې نه مني، ماسره ژبه وهي، زما لومړۍ د واده شپه يې راپه غم کړه .

ـ يوه ورته کړه خو ته سړی نه يې نشيي سړی نه سړی وي، د چا حيا نه ورنه کېږي. بيا خبره دې مېرمن نه مني سوزوې د هغې سامان.

سامان څه گنا کړې ده؟

دوی په يوه بل د گرمتيا دعوې کولې او زما د واده سامان ترسا وه سوځېده لوگي يې اسمان ته پورته کېدل.

ما يې په بې وسه سترګو نندارہ کوله، له سترګو مې بې واکه اوښکې وبهېدې، پټه ژړا رانه په زوره شوه، خواکې پېغلې په غېږه کې ونېولم، ورته مې کړه زما ګنا دادہ چې ستا د نشيي ورور فرمايش مې ونه مانه، پر ما يې ټابلېټ کا خوړل خو ما ونه منله ما انکار وکړ دا مې ګناه وه.

خلک وايي داسې خوب مې وکړ لکه د واده د لومړی شپې د ناوې خوب خو ما د ناويتوب او خاوند سره د مخامخ کېدا په لومړۍ شپه خوښي خو لرې خبره ده بلکې وهل وخوړل، په لومړی شپه يې زما وينې وبهولې، ايا ستاسې په کور کې ښځه مکلفه ده چې د مېړه روا او ناروا ومني،؟

هغې راته کړه، زه مو درک کوم، ما خپلو ورونو ته ويل چې دا د ښځې نه دی پردی خور او لور مه ورته بندوی خو هغوی د ځان له ډاره، ورته ښځه وکړه هر يوه ته به يې اخطار ورکاوو چې که ښځه ورته ونه کړی پر ټوپک يې ولي.

ـ نو ايا د پردی خور او لور ژوند په اړه يې فکر نه کاوو چې ورسره تبا کېږي.؟!

ـ داسې انصاف چې دلته وای بيا به کله دا ټولنه په داسې بد وضعيت کې وه.

دلته وايي چې ګولی له ځانه بچه شي په ورور کې ولګېږي لکه په خټه کې چې لګېدلې وي، هر سړي سره د ځان غم وي، د بل ژوند که تبا کېږي د دوی پرې څه مورږ افغانان خو رواجي مسلمانان يو، شعوري نه يو بس اسلام او هر څه د ځان تابع ګڼو.

د خاوند ورونه او اولادونه خپلو خونو ته ستانه شول، زما سامان ټول ايره شو يوه نيم ځای کې به د کوم لوګي نرۍ ليکه ترې پورته شوه، ما دا قيامت هم وليده او په ژوند کې مې تجربه کړ.

شپې او ورځې تېرېدې، ډېرې سختې ورځې مې په ځان تېرولې اوس دلته ترې تېرېږم، امېدواره شوم، ماشوم مې پېدا شو هغه يو کلن شو، زما خاوند خپلو نشو او تماشو کې ډوب وو ورځ تر بلې يې ځهرې توپير کاوو لکه واوره ويلې کېده د وجود انرژي ترې د نشو گوليو خوړله، کومې پيسې چې ور سره ذخيره وې هغه هم ورسره ختمې شوې، پرديو پيسو ته اړ شو ورونو يې هم چندان پروا نه کوله، يوه ورځ يې ډېره خوږه راپسې وکړه راته وې ويل، ناروغه يې تل د تشو درد نه شکايت کوې، ډېره کمزورې شوې يې را ځه چې ځو ډاکټر ته به لاړ شو ډاکټر به د تقويې درمل هم درکړي.

هغه هېڅکله هم له ما سره داسې خوږه رويه نه وه کړې په زړه کې مې تېر شول چې ستا ددې خوږې رويې تر شا حتماً يو راز شته خو دا چې څه راز ده پر هغه نه پوهېدم،!

ورته مې کړه ؛!

ـ رېښتيا ؟

ـ هو

ـ نو ته خو پيسې نلرې، پيسې به له کومه کړې ؟!

ـ زما يوه ملگرى دى ماته يې ورور ويلي دي، هغه راکوي .

ـ نو ستا ملگرى به هم ستا په رقم وي يا به نشه کوي او يا به هم ټابليټ کا خوري

ـ نه دا ډېر پيسه دار سړى دى، نشې تماشې نه کوي

ـ نو ستا سره يې ملگرتيا په کوم نيت ده؟!

ـ زما  د وړکوني ملګری دی، اوسنی ندی، له ډاکټر وروسته کور ته هم ورځو خپله به يې وګورې.

ـ نه ډاکټر ته ځو، خود ملګري کور ته دې نه ورځو، زموږ څه کېږي، پردي خلک څه کوو.

ـ پردی نه دی لکه زما ورور داسې دی!

ـ نو که ور نشو  بیا؟

ـ حتماً ورځو ما ژمنه ورسره کړې، چې له ډاکټر وروسته ستاسې کور ته هم راځو

ـ نن سبا څوک تاسې غوندې روړدو کسانو سره ملګرتیا بې مطلبه نه کوي کومه ستونزه کې دې راګېر نه کړي؟.

نه نه داسې نده ؟

هغه ما ډېر ازمایلی دی.

په خبرو مې شک درلوده خو په رېښتیا په دغه وخت کې زه سخته ناروغه هم وم درملو ته مې اړتیا وه ور سره لاړم.

له ښه مزل وروسته یوه کلېنیک ته ورسېدو، د کتار ناروغانو په منځ کې د نوبت لپاره کېناستو، زما نوبت راغی څرنګه چې کتنځي ته ننه وتم په ډاکټر چنار مې سترګې ولګېدې، هغه د ناروغانو په کتنه لګیا وو .

زه په چادري کې وم .

ما هغه وپېژانده، خو زما مخ پټ وو، د هغه فکر او خیال کې هم نه وو چې زه به بیا د هغه کلېنیک ته راځم او له هغه به درملنه کوم .

هغه ته په ورنښردې کېدو سره مې زړه په ډوبیو شو، د هغه، مینه او تلوسه را په یاد شوه چې زما د لاسته راوړلو لپاره یې درلوده .

زنې ته مې وکتل سپینو ویښتانو ډکه کړې وه، ښکلې څهره یې غمگینه مالومېده، لکه یو ژور اضطراب چې راگېر کړی وي، له ناروغانو سره بې علاقې وو، ښه پوه شوم چې زه یې نه یم هېره کړې او اوس هم زما د مینې لپاره ذهني شکنجه کېږي خو زه بیا دده په څېر وفاداره نه وم، د واده پر سبا تر ننه په داسې یوه قیامت کې وم چې دی یې رانه هېر کړی وو هېڅ مې یاد ته نه وو راغلی، خو دده په لیدو سخته خپل ضمېر ته ملامته شوم او د هغه د ټولې سزا مرتکبه مې ځان وگاڼه.

څهرې ته مې وکتل هغسې بشاشه او جذابه نه وه هغه ته په خوا کې څوکۍ باندې ناست ناروغ خلاص شو، هغه خپل نسخه واخیسته ماته ډاکټر د راتلو وویل له خپل ځایه ور پورته شوم زړه مې ټکان پیل کړ، په ډېره سختۍ یې په خواکې کېناستم، دا وېره هم راسره وه که مې وپېژني او غیر ارادي څه وکړي یا یې ووایي خاوند به مې تماشه جوړه کړي او دغسې یوه عیب پېدا کولو لپاره راته په تمه هم وو، بلاخره د هغه په خواکې څوکۍ باندې کېناستم .

ـ وې ویل ستونزه مو راته ووایئ .؟!

ـ ډاکټر صیب خوب نه راځي کمزورې شوې یم، چې کېنم جگېدی نشم او چې پاځم بیا کېناستي ته مې سترگې سپینې وي.

کار په غړېدلو سترگو گورم چې راته پروت دی خو کولی یې نشم، هغه زما شکایات د نسخې په یوه څنډه لیکل په اخېر کې هغه زما فشار وکوت، په سینه یې دوربین کېښوده، وې ویل زړه دې ډېر ټکان کوي ممکن کم خونه وې تاسې لږ رڼا ته

وګورئ، زه وډاره شوم چې که مخ ورلوڅ کړم پېژني مې او خبرې راسره کوي پوښتنې رانه کوي، خاوند مې هسې هم بهانې راته لټوي، نورې ستونزې به راته پیدا شي له بلې خوا مې ډاکټر چنار ته هم سترګې نه لرلې.!

ـ ډاکټر صیب وینه مې پوره ده

ـ زه ډاکټر یم که ته وینه دې ډېره کمه راته ښکاري باید په انداز یې پوه شم او د هغه برابر درمل درکړم.

خاوند مې په غوصه او جګ غږ راته وویل :

څه د چین ښاپیرۍ یې خو مخ ورلوڅ کړه..!!!

زما د مخ له لوڅېدو مخکې ډاکټر چنار په هغه کې سترګې ونبولې په لوړ اواز خبره یې زما په اړه پرې ښه ونه لګېده، خو زما خاوند ته یې څه  ونه ویل.

چادري مې واړوله !

چې سترګې یې راباندې ولګېدې، ټکان یې وخوړ سترګې یې له حیراني رډې، رډې راوتې څهره یې والوته، ان د سترګو په موښلو یې پیل وکړ چې سم لیدل به یې نه وي کړي غلطې شوې به وي، د هغه وضعیت دومره خراب شو چې د کوم ښه لېوني عکس العمل تمه مې ترې پېدا شوه.

ځان سره مې خدایه خیر خدایه خیر پیل کړل ...

زما په غیږ کې ماشوم، ماته راته وو، بیخي زما پټو کافي وه، کله به یې هغه ته وکتل کله ماته او کله به یې زما خاوند ته وکتل، مخامخ یې ګوته راته ونیوله ...

ناهید نه یې ؟

له خاونده مې مخ واړاؤ سترګه مې ورته ووهله چې نور مخکې لاړ نشې

هغه هم پوه شو !

پر خپل څوکۍ حېران کېناست .

خاوند ته مې وکتل، د هغه له څهرې پوه شوم چې کوم شک یې ندی کړی او هر څه عادي دي .

ډاکټر چنار ته مې وویل هو هغه یم هغه چې زما د مور عملیات دې کړی وو، لږ شېبه خو ډاکټر چنار په خپل خیال کې ډوب وو، هڅه یې کوله د خپلې ژړا مخه ونیسي ،زما په غبږه کې زوی بیخي خوند ورنه کړ،نه پوهېږم په زړه کې به یې څه تېرېدل ،چې کله ښه ارام شو نو، وروسته یې نسخه لیکل پیل کړل، وې ویل ناروغ ته یو سیروم هم کوو دلته د ناروغانو خونه کې به یې ورته نرس تطبیق کړي، خاوند مې بس لکه مړه مېږه هو او نه یې پکې ونه ویل لږ وروسته راته، سېروم چلان شو ماشوم مې ژړل له کوره مې ځان سره شېدې نه وې وړې پلار یې شېدو پسې لاړ او ډاکټر دا هرڅه څارل د هغه له تګ سره سم یې ټول ناروغان پرېښودل او زما مخې ته ودرېده .

راته وې ویل:

زه دې په درېیو کالو کې سپین ږېری کړم او ته اوس هم د الماسو غمي په څېر ځلېږې، انجونې هم سړی په ځان مئین کړي نور یې خوشی کړي تاسې هم زړه سوی نلری، بس د خلکو په سینو کې چاودنه وکړئ زړه یې ور ټپي کړی نور په خپله مخه لاړې شئ .

ستا لومړی لېدو خو اوس زه پښېمانه کړی یم،کاش نه وای مې لېدلې، زما د پاچاهۍ ژوند مو په سپېره ملنګي بدل کړ، زما رنګين ژوند مو پېکه کړ، خدايزده خدای ج د کومې ګنا سزا راکوي ، په يوه عذاب مبتلا يم ستا د لومړی ليدو وروسته مې زړه حواس ټول ستا په طرف دي، سترګې مې هره لحظه تا رانه غواړي، د نړۍ ښايستونه نه ويني، هره ښکلا ستا په ښکلا کې پټېږي .

او دا حقيقت هم دی چې ته د نړۍ له ټولو ښکلې انجلی يې، واده ته دې ډېره بيړه وه کنه کم ترکمه خو به دې زه درک کړی وم زما لپاره به دې دغه واده ځنډولی وو اوس زما ژوند دوزخ شوی او له سترګو مې خوب تښتېدلی ده دغه ناروغان ښه دي لږ ور سره مصروفه يم، کنه اوس به دې په علي اباد د لېونيو روغتون کې لټولم په رېښتيا مينتوب يو عذاب دی، زه اوس دغه عذاب تېروم، او کړېږم، ما يې خبره ورپرې کړه .

ستا ژوند خو تش دوزخ شوی .

زما په اړه څه نظر لرې؟

ايا زه خوښه يم،ايا زما ژوند ښه دی ؟

ـ څوک چې اولاد لري سره سپينه څهره لري زما په شان غمجن او ځګرخون نه وی نو هغه خود خوشحاله وي.

ـ نه داسې نه ده ته تېروتی يې ، ستا ژوند خو تش دوزخ دی، زما ژوند د دوزخ ترځنګ، له يوه بل طوفان هم وتلی دی ،په عزت مې هم لوبې شوې دي عزت مې هم لېلام شوی، په داسې چا واده يم چې د يو ځای کېدو په لومړۍ شپه يې زما پوزه په سوک راماته کړه زما د کوټې دېوالونه يې زما په وينو رنګ کړل.

زما کالي زما لیباسونه ان ډبل بېډ هم په انګړ کې سور انګار شول وې سوځول...

- ولې؟

- د ټابلېټ کا د نشو په روږدي واده شوې یم،لکه بې سرپوښه دېګ هر څوک زما د ژوند واک داره شوي دي، هر څوک په اسانۍ مداخله پکې کوي.

څلور لېورونه لرم هر یو مې پخه ډوډۍ ګڼي د اړیکو جوړولو لپاره راسره کوښښ کوي کاش یو خاوند مې وای خو په دغه کور کې مې ډېر مېړونه دي، خاوند مې اوس نورې نشې هم کوې ستا به یو ژوند تبا وي زما عزت هم ورسره تبا شوی دی، دا دنیا خو مې برباده ده، هغه نړۍ مې هم له پلېټیو ډکه کړل شوه، پلار مې اوس له پېغلې جلی سره عشقونه وهي او زما ژوند یې په دغسې سور تنور کې اچولی دی له واده وروسته یې زما پوښتنه هم نده کړې، له دې خبرو سره د هغه سترګې ډنډ شوې، وې ویل:

زه ښښنه غواړم ما په خپلو خبرو کې بې پروایي وکړه، په ځان مې هر څه لوریږي خو په تا مې د ګل وار هم نه لوریږي، زه څه خبر وم چې ستا سر نوېښت به له ما هم بدتر کېږي.

- ته څه فکر کوې زه له تاسره نه وم خوښه، ما ستاسې غوندې انسان په پنځه وخته لمانځه کې له الله ج نه غوښت، خدای ج راکولې خو خپل پلار دې راباندې ونه لورولې تر تا ښه خاوند زما لپاره څوک جوړېدای شوای، ډاکټر وې، پیسه دار وې د پوخ کور څښتن وې نور ما له خدایه ج څخه څه غوښتل، ته فکر کوې ما به دا کار قصداً کړی وي هېڅ کله هم نه.!

ما ته مې په لوی لاس خپل پلار راته کبر وکینده او زما هیلې یې پکې دفن کړې، زه مې خپل پلار نه بښم په اخیرت کې به زما لاس او د هغه گریوان وي .

سړی څه ووایي ژوند هم عجیبه وي کله،کله انسان په گردابونو کې راگیر کړي، کاشکې موږ سره نه وای لیدلي، کاش هغه تصادف نه وای رامنځته شوی اوس دغه له کړاوه ډک ژوند سره څه وکړو .!

دغه مهال زما خاوند راورسېده په لاس کې یې د شېدو ډبی او د شېدو بوتل نیولي وو، ډاکټر له هغه مخ واړاو خپلې اوښکې یې ترې پټې کړې او نور له موږه ووت زه هم دا وخت لکه نشه اي داسې وم، د ډاکټر درد مې نشو محسوسولی نه ژړا راتله پر ما دومره غمونه تېر شوي وو چې بې حسه وم ځان رانه هېر وو د بل درد به مې څه حس کړی وو خو اوس مې ډاکټر یادېږي او پر وړاندې یې هېڅ خواخوږی هم نشم کولی.

ډاکټر چنار زما خواته په راتلو منتظر وو چې زه لا اقلاً ورته ووایم چې ماته هم گران یې غوښتل بې د زړه دردونه په دې لفظ سره راکم کړي، او احساس کړي چې گوندې زموږ مینه دوه طرفه دی یوه طرفه ندی.

خو ما ورته دغه لفظ څکه ونشو ویلی چې دا مهال اوبه له ورخه تېرې وې تش الفاظو ماته خوند نه راکاو.

سېروم خلاص شو او ما د ډاکټر چنار سره نوره د مخامخ کېدو جرئت نه درلوده څکه چې پوره زما له امله شکنجه شوی وو او ما یې هېڅ لاسنیوی نشو کولی.

د ښار یوې څنډې ته ورسېدو، نوره دشته مخې ته راغله هلته لرې په دښته کې یوه ماڼی ودانه شوې وه خاوند مې راته وویل دغه زما د ملگري دی.

ورته مې کړه د دومره لوی دولت او مال خاوند ستا سره ملګرتیا حیرانونکې ده، خدای ج دې وکړي چې کومه معمله نه وي.

ـ هغه راته وویل :

هغه حاجي دې د ماڼۍ څنګ کې جومات لري، شپه او ورځ لمونځونه کوي بې ځایه شکونه کوي .

ـ سمه ده خدای ج دې همداسې وکړي

زه نه پوهېدم چې دلته هم زما په سر یو ځل بیا سودا شوې ده یو څوک د خپلې خوښې لپاره ما نه بیا د قربانۍ ګډ جوړوي او بیا مې په چا پلوري.

ماڼۍ ته ورسېدو یوې مجللې حجرې ته ننه وتو لوی انګړ یې درلوده وړې وړې خونې هم پکې وې په منځ کې یې شین چمن زرغونو وو، په لارو کې ښکلې کاشی لګېدلې وې، دوه درې نوکرانو پکې یوه او بل لوري ته په ډډو د سیمټو بورۍ ځغلولې د ورځې یوه نیمه بجه وه، له نوکره زما خاوند پوښتنه وکړه چې حاجي زمان چېرې دی ځواب یې ترلاسه کړ هغه جومات ته تللی دی اوس راځي موږ ته ویل شوي دي چې تاسې ته ډوډۍ راوړو او بیا راته کور ته د رخصت اجازه راکړل شوې ده صرف یو خادم به ستاسې د خدمت لپاره پاتې کیږي.

د جومات مې چې واورېدل زړه مې سکون شو د خاوند خبرو سره یې سمون خوړ، ما ورته کړه زه به د مېرمنو ځای ته لاړه شم دا خو د نارینه وو ځای دی یوه نوکر وویل دغه کور نوی اباد شوی دی لا حاجي صیب کډه ورته نده راوړې.

ما هم ځان سره وویل چې زموږ خو هم دلته شپې ندي یو ساعت کینو او بېرته خپل کور ته ځو، رنګین دسترخوان تیار شو موږ هم ښه وږي شوي وو په خوند مو ډوډۍ

وخوړله، لږ شېبه وروسته حاجي زمان له جوماته راغی او زما خاوند چې له کړکۍ سترګې پرې ولګېدې، سپک له ځایه جګ شو د هغه مخې ته ورغی له ما لرې سره ودرېدل پټې،پټې خبرې یې سره کولې هڅه مې وکړه چې خبرې یې واورم خو پرې ونه توانېدم، ما دوی دواړه د سترګو له نظره نه خالي کول، لږ شېبه وروسته زما خاوند د حجرې له انګړه ووت، ما ویل څه بېرون ته به یې څه اړتیا پیدا شوې وي بېرته به راځي خو خبره نه وم چې خاوند مې د خپلې خوښۍ لپاره د ټابلېټ کا د پیسو پیدا کولو لپاره زه لېلام ته اچولې یم .

حاجی صیب بلې کوټې ته لاړ لږ شېبه وروسته مې د اطاق د پراخه دربچې له ښیښو ولېده چې زما په طرف راروان دی پر لاس کې تسبې یې جیب ته واچولې، راننه وت پوخ سړی وو، خو لا یې پر ږېره کې له سپینو تور ډېر وو، ماسک مې واچاؤ د چادري د اچولو موقع نه وه، پرته له مقدیمې یې چې سترګې راباندې ولګېدې وې ویل ته خو د هغه نه هم لوړه یې چې خاوند دې کوم تعریف کړی وو.

پر یوه څوکۍ کېناست روغبړ یې راسره وکړ لاس یې راکاوو خو ما ورته په خوله سترګې مشي ورکړه، د ا کار د هغه د تمې خلاف وو ماته پر مخامخ څوکۍ کېناست ورته مې کړه چې زما خاوند رسول جان څه شو ؟

ـ ځواب یې راکړ ولې تاته هغه څه ندي ویلي .؟!

ـ حاجی صیب هرڅه څه مانا؟

ـ هغه خو ماته ویلي چې زما مېرمن به ستاسې سره دلته څو ورځې وي، هغه خو لاړ ته به نن دلته شپه کوې، که شپې خوندورې وې ممکن دوه درې ورځې به دلته اوسې.

-مطلب !!!

ـ هغه مانه پیسې اخیستې دي ستا د شپو او پاتې کېدو په بدل کې ـ

نو چې زه پاتې شم، دلته په ما باندې څه کوې؟

ـ خوش گذري به وکړوې، ژوند لنډ دی دوه ورځې دی.

ـ نو ایا پردۍ مېرمنې د خوش گذري لپاره دي،که داسې فکر لرې نو نن دې ته هم مېرمن بل چا سره خوش گذري ته ولیږه، هغه هم انسان دی اړتیا لري، ژوند خو هسې هم دوه ورځې دی.

هغه زما له دې خبرې سره سور او سپین واوښت له قهره تک سور شو.

له خپلې څوکۍ پورته شو وې ویل:

خوله دې په واک کې کړه، دوهم ځل به بیا هېر کړم چې ته ښځه ذات یې !

ـ ما ورته ترخه مسکا وکړه تاسې خو اوس هم هېر کړي چې زه ښځه ذات یم د یو چا مېرمن یم، د یو چا لور یم، د یو چا عزت یم، حیا لرم او تا دلته په کوم نیت راوستلې یم.!

ـ گوره دا کار د زور کار ندی، ما نه دې خاوند پیسې اخیستې دي ؟

ـ هغه خو ستا غوندې مردگاوو دی د هغه او ستا توپیر خو ماته نه کېږي، که ته د هغه په څېر نه وای دغه پرېکړه دې ورسره نه منله هغه خو د هېروینو او ټابلېټ کا معتاد ده مغز یې کار نه کوي نیم سړی دی، خو ته دې له خپله نومه نه شرمېږې، ته خپله خور او لور نه لرې کم تر کمه داسې فکر نه کوې که زما له لور سره داسې څوک وکړي ماته به څومره سخته وي .؟

ـ جلی زما حوصله مه ازمایه.

ـ زه ستا حوصله نه ازمایم یوازې تریخ حقیقتونه درته وایم

لږ مخکې له مسجد راپورته شوې، خدای ج ته دې سجده کېښوده، په راتلو کې دې ما تسبې هم ولېدې چې ویلې دې.

ایا فکر کوې سړی چې لمونځ کوي، ذاتي خلاص دی نور دې هرڅه کوې؟

ته له هغه لمانځه او تسبو ونه شرمېدې؟

ـ سړی مې په غوصه کړ پر ما یې حمله وکړه غوښتل یې ماته ځان نږدې او په همدې پلمه خپله وحشي غریضه سړه کړي، ماشوم مې د یو نیم کال وو ډېر کوچنی وو زموږ فزیکي جنګ پیل شو، ماشوم بې چاره زموږ جنګ کې دا رقم ترکېده لکه د بټ نینه، پر هغه هم ددغه وږي وحشي زړه سوی نه راته، ما ورسره مقاومت وکړ، خدای ج مې مدد وکړ، داسې برابر شو چې یوه ښه کلکه لغته مې د پښو په منځ کې ورکړه، چغه یې وکړه، دواړه لاسونه یې د پښو منځ کې ننه باسل، ماته یې وویل د شیشکې لورې مړ دې کړم زموږ شور او ځوګ د مېلمستون په انګړ کې یوه پاتې نوکر واورېده، هغه په منډه،منډه زموږ خواته راغئ چې زموږ حالت یې ولیدل پرته له ویلو پوه شو چې دلته څه روان دي.

لومړی یې سړي ته لاړې ور تو کړې بیا یې پر حاجي صیب باندې خوله ور پرې کړه ورته یې کړه ته وجدان لرې، ته غیرت لرې، ته مور او خور لرې، د نفس وګیه دغه تنکی ماشوم درته ترکېږي خو ته بیا هم لکه وږی لېوه د خلکو عزت لوټ کوې.

مېلمه دې خدای رحمت وي باید په درنه سترګه ورته وکتل شي او ته بې ضمیره ورسره څه کوې.

له الله ج نه وېره نلرې ؟

قسم په ذات د رب چې بېګاته مې هم ماشومان له لوړې مري نور کار درسره وکړم تا نور نوکران د همدې بې ایماني لپاره رخصت کړل .!

ماته یې وویل :

راځه خورې دواړه نن له دې ځایه ځو تا زه خپل کور ته رسوم او نور زه هم تاته د بې احترامي له امله دلته کار نه کوم.

د تسبو مالک لکه د ژمي سپی لاسونه په ورنو کې ورکړي وو څک سر یې نېولی وو هېڅ یې هم نه ویل ځکه چې ځواب ور سره نه وو.

ماشوم مې غېږې ته کړ، د نوکر سره یو ځای دواړه له مېلمستونه راووتو ماته د خپل کور ادرس هم مالوم نه وو، خو په څه تکلیفونو تر کوره ورسېدم.

ماشوم مې لاره کې ګرمي وواهه کور ته چې رسېدو سره سم هغه په استفراق او اسهال پیل وکړ، ځان سره مې وویل بس یو دا کم وو، ټوله شپه مې په وېښه ورته تېره کړه، د پېچ یو شربت راسره وو، هغه مې ورکړ او د شپې په اخېر کې لږ ارام شو خاوند مې کور ته رانغی خدای خبر چې په کومې کندوالې کې به یې خپلې نشې تماشې کولې .

سهار شو د ونو پاڼې باد وهلې، یو ښکلی اواز یې ملتیا کوله مرغانو هم د خپلو حنجرو ازمایښت کاوو، د خوند موسم و خو پر ما اور بلېده، د خپلو بدبختیو په سوچونو کې ډوبه وم تر ټولو خپل عزت ته خفه وم، چې هغه لکه داره نشي، د کورنۍ غړو ټولو چای وڅکه بیا مې د خاوند مور او لیورونه خپل اطاق ته راوغوښته ټوله کیسه مې ورته وکړه.

ورته مې کړه زه ستاسې د کور عزت یم لومړی خو مو ښه ونه کړه چې یوه عملي انسان ته مو په نکا کړم.

خو چې اوس شوي دي له ورخه اوبه تېرې شوې دي زما قسمت به خراب وي پښتانه خو چې تېروتنه وکړي، ژر قسمت گرم کړي،خپله ځان نه گرموي، زما هم همدغه حال وو دوی ته مې وویل :

دا دنیا خو مې هسې هم خرابه شوه هغه دنیا خو مې مه خرابوی لږ مو دا کس ستاسې د کورنۍ غړی او زما خاوند ته نصیحت وکړئ.

دا ځل خو مې خپله عزت وژغوره، بل ځل به یې داسې څه کړي وي چې ستاسې به هم په خلکو کې سترگې نشی جگولی زه به هم د خدای بدبخته شم او گرمه به هم بیا ما گڼې، ټولو په یو غږ ځواب راکړ، هغه دې مېړه دی، خپله ځان ته چې هره لاره انتخابوې ته ورسره څه موږ پکې مداخله نشو کولی.

که څه ورته ووایو، هم پرې اغېز نه کوي، وایي زما او ښځې ترمنځ مه راځئ دا زموږ شخصي موضوع ده، اوس خو موږ هم ترې ډارېږو چې کوم مرگونی گذار راباندې ونه کړي.

بس نوره ستاسې خوښه که د ځان له مرگه ډارېږئ او د عزت جنازه مو اخلی بیا سمه ده ، له دې خبرې سره ټول زما له کوټې ووتل د نه او هو ځواب یې رانه کړ، حق حیرانه وم چې له یوه گردابه به مې ځان خلاص کړ په دوه نورو کې به راگیر شوم نه پوهېدم چې د کومې گنا سزا گالم.

دوه درې ورځې په دې کې ووتې، څلورمه شپه مې خاوند ناوخته د شپې لس بجې راغی زما اطاق ته په راننه وتو سره يې په ما د وهلو برېد وکړ راته يې کړه تا زما ملګری ولې خفه کړئ ده؟

هغه زما د کلونو دوست دی .!

ـ نو دوست ته د مېرمن سپارې؟!!

ـ هو خود، زه مجبور يم که هغه ماته د ټابلېټ کا پيسې رانه کړي زه مرم زه بله لاره نه لرم بله کومه سرمايه نلرم.

ـ نو ايا له دې کاره چې کوې يې، مرګ بهتره نده؟

له دې خبرو سره هغه نور هم زما پر وجود لغتې او سوکان ډېر کړل، زما وېښتان يې ونيول سر مې يې له دېواله سره څو ځله  وواهه.

زما د سر څه وېښتان يې لاس کې ورپاتې شول کله يې چې زما وينې وليدې چې د هر ځل دېوال وهلو سره په دېوال سرېښېدې نوره يې پرېښودم او  رانه ووت د کور ټولو غړو زما د وهلو اوازونه اورېدل هېڅ چا هم مداخله او ګواښ نه کاوو ما مې خپل قيامت په خپله سنبالاوو.

بس دا د کړاو شپې او ورځې تېرېدې له ډېرو يې دلته تېريږم، ستاسې سر پرې نه ګنګس کوم يوه بله مهمه يې را اخلم، زه د يوه لوی ګډ کور غړې وم څلور لېورونه مې وو هر يوه لس تنو ډېر عيال درلوده تر پنځوسو ډېر وو د ځېنو خو زامنو  ته هم ودونه شوي وو .

زه له ګډ کوره کرکه لرم تاسې به يې اتفاق بولئ خو هلته بلا ستونزې وې د افغانانو لوی ګډ کورونه بیخي ښه نه دي زه ټولو ته بد نه وایم، زیاتره به يې ښه وي خو په ډاډ سره ویلی شم چې په دغو کورونو کې د ډېرو بې عدالتیو او غټ دروبڼ ترځنګ لس فیصده مېرمنې مسؤنه ندي زه هم ددغه لس فیصدو له جملې څخه یوه یم ځکه ځان ښیم او تاسې ته يې څرګندوم چې زما په څېر نور څوک له داسې برخلیک سره مخ نشي.

اوس هغه پخوانۍ وخت ندی چې پردۍ کلیواله به هم خلکو ته داسې مالومېده لکه خپله خور، ناسته پاسته به يې ورسره کوله ان یو ځای به يې ډوډۍ سره خوړله خنداوې او ساعتیری به يې کول.

نارینه به نه حس کوله چې زموږ په منځ کې ښځینه ده او زما دې ورته احساسات راوپارول شي، ښځینه هم ورته خوی بوی درلوده له کلیوالو نارینه وو سره به ناسته وه او فکر به يې کاوو چې دا ټول مې وروڼه دي.

اوس وخت بدل شوی دی، تر ټولو نېږدې خلکو نه انسان زیان ویني او زما هم همداحال وو، زه ډېرې ښځینه پېژنم چې ماته يې ورته شکایت کړی، له کوم سره چې زه مخ شوم، لېورونو به چې لیدم، پر خاوند به يې نه لورېدم، خاوند مې په رېښتیا هم بې پګې شی وو، زما اړتیاوې نشي پوره کولی جامې، پوښاک، خوراک د ماشومانو ستونزو ته يې رسېدګي نشوه کولی ان ځان پرې پېټی وو، نو هر یوه به راسره د اړیکو جوړولو هڅه کوله .

ویلې به يې چې موږ دې په خدمت کې یو، څه ته چې اړتیا لرې موږ يې درته پوره کوو، کله به چې ما د دوی خبرې بې پروا کړې یا به يې زما د وهلو لپاره پلمې

جوړولې یا به یې هم زما کوچنی زوی راته واهه، ښه مې په  یاد دي چې څو ځله به ما د دوی خبره بابیز کړه نو  زما کوچنی زوی به یې دومره سخت راته په یوه بهانه وواهه چې په خپل نرم او معصوم مخ کې به یې د ګوتو نښانونه تر ډېره نه ورکېدل او څو ورځې به له منځه نه تلل.

تر ټولو یوه دردونکې یې دا ده چې یوه ورځ مې د یوه لېوره مېرمن او ماشومان د پلار کره لاړه، په دغه ورځ په کور کې د اشپازي نوبت زما وو، د نوبت په ورځ به هره ښځه ډېره ستړې وه ځکه د پنځوس نفري کورنۍ لپاره اشپازي اسانه کار نه وو.

ما هم د ماسپښینه په اشپازۍ پیل وکړ، اته بجې  د شپې ډوډۍ تیاره شوه هر لېوره کوټې ته به مې تیار له غذا ډکې کاسې ور لېږلې، په دغه ورځ زما د یوه لېوره مېرمن او اولادونه د پلار کره تللي وو ما کتغ کاسه کې واچاوو او په دسترخوان کې مې هم ډوډۍ ونغښتله، کوټې ته یې ور روانه شوم، چې ورسېدم،کوټه یې تیاره وه  فکر مې وکړ وېده شوي دي، خو د کوټې له دربچۍ مې چې ور وکتل نو موبایل یې مخ ته نیولی وو، له رڼا یې مالومېده چې وېښ ده او ټچ موبایل کې څه ګوري، ما یې د وروسی ښیښه وټکوله ورته مې کړه، ورورە ډوډۍ مې درته راوړې دروایې خله .

مخامخ  مې لیده چې  د خوب په تخت  پروت دی ږغ یې وکړ دننه یې راوړه ما ورته کړه دا کړکۍ ته راجګ شه، ماته مې ماشوم ژاړي هغه ته مې بېړه ده، ډوډۍ درواخله.

ـ نه شم درجګېدی ته دننه راشه.

ما د ننه څه کوې؟

سړی په غوصه شو وې ویل ته د کور اصول نه مراعتوې ولې پښې دې په نکریزو دي چې داخل ته نشي راتلی ماشوم دې په یوه دقیقه کې مري؟

ما ورته کړه نه داسې نه ده، درتلی شم خو ستا کوټه تیاره ده ما ویل ښه خبره نده چې زه در ننه شم...

ـ د ننه ډوډۍ راوړه، ته اوس سترگووره شوې یې، خبرې دې زده کړې دلیلونه وایې او دا زما د مزاج سره برابر ندی.

ـ زه هم خجالت شوم فکر مې وکړ، چې زه هسې بې ځایه وېره لرم او بدبینه شوې یم کومه څه خبره نشته.

ور دننه شوم دسترخوان مې ورته هوار کړ او کتغ مې ورته پرې کېښود، چې راوتلم د شاه له لورې مې مړوند ونیول شو مخ مې ورته راواړو گورم لېور مبارک مې دی، هغه د نبي کریم ص حدیث راته یاد شو، چې لېوره ته یې د لېوه نوم ورکړی وو دده مخ او دغه پست حرکت مې چې ولېده نو په مخ کې یې هغه د درینده لېوه څېره راته ښکاره شوه.

ورته مې کړه څه کوې وروره ؟!

ځواب یې راکړ ورور مه راته وایه ...

راځه نن ساعت تیروو.

ـ د څه ساعت؟

ـ بس اوس به یې وگورې !

ـ لطفاً ما پرېږده، اخېر زه ستاسې د ورور مېرمن یم

ـ ورور څه کوې دومره ښکلې څېره دې له خاورو سره خاورې کړه، له ژونده دې خوند وانه خيست په هغه پوډري مې نه لورېږې.

ـ گوره که زما لاس پرېښږدې،چغې وهم .!!

ـ چغې ووهه، په زوره، زوره يې ووهه چې هغه پوډري خاوند دې چې په شپو، شپو ورک وي راشي او تا وژغوري .!!

ـ ته څومره بې ضمېره يې، که هغه ستا د مېرمنې سره داسې رويه وکړي ته به څه احساس وکړې؟!

له دې خبرې سره هغه زما مړوند تاوو کړ وې ويل وژنمه يې .!

ـ خو ته ولې د هغه مېرمنې ته په سپکه سترگه گورې؟!

بس زما خوښېږې،مينه درسره لرم ته ډېره ښکلې يې

ـ نو چې ښکلې يم دې ستا د ورور لپاره يم د ټولې کورنۍ لپاره خو نه يم

له دې خبرې سره يې دواړه لاس رانه تاوو کړل پر ځمکه يې وغورځولم

ډېره  هڅه مې وکړه چې ځان ترې خلاص کړم خو چېرې د نارينه زور او چېرې د ميرمنې زور،.

ليوه خپل کار وکړ د نبي کريم ص حديث ثابت شو څه يې چې غوښتل تر سره يې کړل او زه يې د تل لپاره مرداره کړم ...

زما وجود يې پليت کړ زما هغه بدن ته يې په سپکه وکتل کوم چې ما لکه مات لاس ساتلی وو.

هغه چې ښه ستړی شو نو جگ شو او ژوره، ژوره ساه يې واخيسته نور پورته شو او پر خپل بستر کې اوږد وغځېده، ما خپل ځان راټول کړ له خپل ځايه پورته شوم ما

فکر وکړ ټوله نړۍ مې لپه لغړه ګوري، او زما جامې وتلې دي، ورته مې کړه هيله دې پوره شوه اوس ارام شوې؟

ـ هو مننه

ـ ته د ضمير په نوم څه لرې ستاسې کور کې خور لور وربنداره مالوم دي ؟!

ـ لاس يې راته وښوراو د وتو يې راته په قهرجنه څهره اشاره وکړه.

خو ما ورته کړه، ماته دې سپک وکتل زه دې بې ځوکه وګڼلم او زما عزت دې واخيست له خپلو پښو دې لاندې کړ، زه خو دې په ژوندوني مړه کړم، داسې هم څوک کوي؟

ـ هغه بيا په غوصه وويل !!

ـ څه ووځه اوس ددې خبرو وخت نه دی دايې پيل دی څه افسوس به کوې زما او ستا به تل داسې مزې وي ...

زه خپله مېرمن طلاقوم تا کوم .

ـ زه خو خاوند لرم هغه څرنګه کوې ؟

ـ هغه وژنم، ته مې نه پرې لوربېږې !

ـ ته نوره زما يې ستا د واده د لومړۍ اونۍ راهيسې چې ما ليدلې يې ما درته همدا په زړه کې اچولې وه، نن مې زړه اوبه درباندې وڅکلې.

ـ ښه دې وکړل، د الله په پاک ذات قسم درته خورم چې دا سپک کتل به دې بې ځوابه پاتې نشي .

ـ څه ورکه شه په چا ځان رانه ګټې ورونه دې نشته، پلار دې خپله په لاره نشي تللی مېړه دې په خپلو نشو تماشو کې ډوب دی.

ـ زه هيڅ چاته اړتيا نلرم که مې غيرت لاره پوښتنه به يې درنه وکړم او که نه وو بيا دې دا هرڅه نوسي جان شه .

ـ نوره ترې راووتلم !!

ـ خپل اطاق ته لاړم د ماشوم ستونی مې د ژړا له لاسه وچ شوی وو، په رېښتيا زما زوی وو، هغه هم احساس کوله چې زه په يوه ستونزه کې يم داسې ستونزه چې په ژوندوني پکې له خاورو لاندې شوم.

داسې ستونزه چې له هغه وروسته بيا زما ضمير مړ کېږي، زه چاته د کتو وس او سترګې نلرم، د هغه په ستوني کې مې لږ اوبه ورواچولې خو غيږې ته مې رانېږدې نه کړ مالې چې زما مردار وجود سره د هغه وجود مردار نشي، لاړم غسل مې وکړ او بيا مې غذا ورته جوړه کړه او موړ مې کړ .

هغه زما له راتګ او مړېدا سره ويده شو خو زما سترګه هم تر سهاره پټه نشوه سهار مې اودس وکړ خو لمونځ خوند نه راکاؤ ځان مې مردار حس کاوو، بيا مې هم خدای ج ته سجده کېښوده.

لاسونه مې هغه پاک ذات ته لپه کړل ورته مې کړه يا ربه دغه نړۍ خو مې خرابه وه د يوه حيوان له ژونده هم بدتر ژوند راباندې راغی، خو اوس مې لکه چې هغه نړۍ هم خرابه شوه، خو ستا په پاک زات قسم کوم تا خو ويلي چې قاتل به دوزخ ته ځي او د اوږد مهال لپاره به په دوزخ کې وي، خو چې په ټول ژوند هم جنت په سترګو ونه وينم بيا به هم دغه زما د عزت او ابرو لوټونکی له ځان مخکې بلې نړۍ ته درلیږم.

دغه کور نور راته سور تنور شو، په هر ځای کې به راته پکې نارينه د هوس پالونکي مالومېدل، کرکه مې ان ددې کور له دېوالونو هم کېده، نفس به مې پکې تنګېده، نوره دغه سېمه راته زندان شوه، د الله ج سره په دې ژمنې مې ماشوم راسره په غېږ کې واخيست چې يو ځل به قتل کوم زړه به مې يخوم بيا چې هر څه کېږي ودې شي نوره د خپل پلار کور ته رهي شوم.

يوه شپه مې هلته وکړه په سهار مې خپله بدله نيزه (مېره) هم د پلار کور ته ولېږله ورته مې کړه زه د کور کارونه کوم ته څو ورځې د پلار کره لاړه شه د انتقام څپې مې په سينه کې پر موجونو وې د پلان جوړېدو لپاره مې خپل د عزت لوټونکي ته ذهن لکه کمپيوټر بوخت وو ناڅاپه يو خيال مخې ته راغی .

ومې ويل ما خو هغه ته اخطار ورکړ حتماً به راڅخه خار خوري، زه بايد لومړی هغه په اعتماد کې واخلم وروسته خپل پلان عملي کړم، هغه ته مې زنګ وواهه ورته مې کړه، ته په حقه وې، رېښتيا د انسان ژوند نه دی راباندې تېر شوی، خپل ځان مې نور په هغه پوډري نه ارځې، نوره ستا يم، دغې جملې سخته وځورلم خو مجبوره وم چې هغه زما فرمايش ومني .

هغه له خوښي بې واکه وخندل، راته يې کړه ته ډېره ښه يې کاش لومړی عقل وروستی وای، له پخوا ما دا پلان لاره خو ستاسې له خوا مې کوم شين چراغ نه ليده خه څه اوس هم ناوخته ندی، دواړه ځوانان يو،خو...ته يوه پوښتنه راته ځوابولی شې.؟!

ـ هو ولې نه

ـ ته دې پلار کره ولې لاړې؟

ـ ستاسې کور هم سم مکتب دی هلته ښه زمېنه د ليدو او کتو لپاره نه برابره کېږي ځکه دلته راغلم .

ـ ښه زما خو د زړه وښکه ما ويل چې رېښتيا د انتقام لپاره راته لاړې

ـ نه خدای دې نه کړي

د پلار تمانچه مې کور کې وه چې پېغله وم له پلاره مې د ډزولو چل زده کړی وو يو ځل غله راوښتي وو، داسې چغې مې ترې وويستې چې خبرې مه کوه، هغه مې راواخيسته زوی مې ښه موړ کړ بيا مې وېده کړ.

لېوره ته مې زنګ وکړ ورته مې کړه د بېګا خبرو لپاره زه ښننه غواړم، زه خو رېښتيا له مزو ناخبره وم ژوند خو دغه وو چې تېر شوو .

هغه يوه کرولا موټر لاره ورته مې کړه راځه زه هم پلار کره ستا لپاره راغلم هلته ستاسې کور کې خو دومره ګڼه ګوڼه وي لکه د قبايلو هوټل، لوېشت ځای نه پېدا کېږي، موټر کې به چکر ووهو خپلې مزې به هم کوو او له ژونده به خوند هم اخلو، د هغه هم سل فيصده باور نه راتلو خو د هوس لېوني بيا فرصت له لاسه نه ورکوي، فکر يې وکړ دا بې زړه انجلی هېڅ هم نشي کولی ادرس مې د ځای ورکړ چې دلته درته درېږم ته هم راشه، لا نيم ساعت نه وو وتلی چې مخې ته مې له سرې کرولا سره ،ودرېده، نوي کالي يې اغوستې وو، موټر ته په داخېلدو سره مې د رنګا رنګ عطرو بوی حس کړ د سرې ځهرې ته مې چې وکتل له خوښی ځلېده، له ښاره ووتو موسيقي په لوړ غږ چالان وه ما تياره مرمۍ تېره کړې وه، مخ يې راواړاؤ وې ويل ماته يو هوټل مالوم دی هلته ځو، ښه ارام ښنونکی ځای دی، ښکلی خوراک هم ورکوي، د خوب کوټه هم لري.

ما ورته کړه څرنگه درته مالوم دی، لکه چې ښه پکې بلد یې خواب یې راکړ هو ژوند دوه ورځې دی، هلته مې ډېرې مزې کړې دي،موټر په تیز رفتار روان وو، په زړه کې یې گوړې ماتولې چې ژر ورسېږي او د ورور په ناموس تجاوز وکړي، ځان سره مې وویل که په تېز رفتار کې پرې ډزې وکړم نو زه هم ورسره ختمېږم نو ځکه مې ورته کړه دا موټر لږ گوښې ته ودروه .!!!

ولې؟

زه لږ سحرا ته تېرېږم

هوټل نزدې دی...

ـ نه زه په عذاب یم

ـ ښه سمه ده امر دې پر ځای کېږي

ـ موټر یې د سړک په غاړه ودراو، د سړک په اوږدو کې ښه پریمانه ځنگل وو سړک مې ښکته او پورته له نظره تېر کړ لرې هم موټر نه مالومېدل، مخامخ ورته ودرېدم تمانچه مې سینې ته ونیوله، هغه د تمانچې له لیدو سره د شا سېټ سره سرېش شو، ورته مې کړه تاسره ما یوه ژمنه کړې وه چې ستا د پست چلند پوښتنه به درنه کوم او ددې کار حسابي به درنه اخلم یاد دې ده؟

زه خو دې له ژونده وباسلم، زما پاک بدن خو دې مردار کړ ظالمه، اوس داسې محسوسوم لکه ټوله نړۍ چې راباندې لعنت وایي، د هغه سترگې رډې،رډې راووتلې وې ویل دا ځل مې وبښه بل ځل ته داسې بد نه کوم.

خو ما سره د انتقام دومره جذبه وه چې د هغه بښلو لپاره مې د اورېدو غوږونه نه وو، پر سړک نېږدې کوم موټر او انسانان نه تر سترگو کېدل مخامخ مې تمانچه ورته

نېولې وه ماشې ته په ګوتې ورکولو سره ، خدای ج یې مرمۍ پر ټنډه ورسېخه کړه په لومړی مرمی یې ماغزه باد،باد شول پر خپله څوکۍ کې ړنګ شو، نوره ډاډه شوم چې ژوندی ندی او نورو مرمیو ته یې اړتیا نشته ځنګله ته ننه وتلم چادري کې مې ځان تیار نغښتی وو خپلو پښو ته مې زور ورکړ، لږه راحت شوم ځان سره مې وویل چې څه که ته یې له ژونده وباسلې نو د هغه دې هم ژوند روزي نه کړ.

دا زما د ژوند کیسه وه شاید د نورو لپاره پکې کوم پند پروت وي...

کېدای شي د ژوند په چارو کې یې په کار راشي، هیله ده زما دغه داستان ولیکې او نورو ته یې ورسوې.

زما ژمنه دې هم هېره نشي ماته به د کیسې له اورېدو وروسته سبا حتماً کور ته راځې

او په فلش کې یو بل لیک هم دی ستا غوندې یو ډاکټر ته مې لیکلی دی ډاکټر چنار نومېږي دا لیک به هغه ته ورکړې ته یې کتلی شې خو نور به یې امانت هغه ته رسوې...

کمپیوټر کې غږ نور ودرېده ځان ته مې پام شو ګرېوان مې ټول لوند وو، دومره مې ژړلي وو چې سترګې مې خوګېدې .

ژر مې فلش په کمپیوټر کې بیا واچاو لیک مې خلاص کړ هغې لیکلي وو ،!!!

ګران ډاکټر چناره !

تاسره له وروستی لېدو مې داسې محسوس کړه چې تاسې فکر کوئ یوازې تاسې مئین یاست او ځورېږئ، زه تر تا زر چنده ځورېږم هر د زړه تفش مې له تاسره دی

خو زه یوه پښتنه پیغله یم، مور د مینې اظهار نشو کولی هر څه په زړه کې تېروو، که مو له خولې څوک د مینې نوم واخلي له سلو نورو سره مو داړیکو په تور تورنوي .

دا سمه ده چې له مرگ مخکې مې په دې نړۍ ډېر قیامتونه ولېدل هلته دې تا په څېر ځان هم رانه هېر وو، هغه بیا له دغه ډاکټر وپوښته چې لیک دروړي خو، بیا هم رانه هېر نه یې لکه ساه راسره یې ما بدبختې هغه د چا خبره نه مې دلبري وکړه او نه دلداري، هر څه تمام شول.

ته د نړۍ تر ټولو ښه انسان یې ته د مینې او انساني عاطفې یوه بېلگه یې ته زما په ژوند کې لومړی کس وې چې له ماسره دې له زړه مینه کوله له زړه دې خوښولم، نور هر چا چې لیدلم، زما څهرې ته یې ارزښت ورکاوو هوس پال وو، له پردیو مې گیله نه راځي، نېږدې خپلوانو، راباندې صرفه ونه کړه، اوس مې له رېشتو بد راځي پلار،خاوند ،لېور،خوابنې ماته د نړۍ تر ټولو بد نومونه دي.

ما ستا په اړه ډېره بې پروایي وکړه،کاش لومړی عقل وروستۍ وای زه ستا ازار ووهلم، داسې تنگسې مې تېرې کړې چې یوه لوی خدای ج ولېدې، تر ټولو ځورونکې دا وه چې عزت یې راپیمال کړ، زما په ابرو تجاوز وشو، انسان خو په عزت ژوندی وي هسکه غاړه چې وړي نو د هغه عزت له امله یې وړي .

زما په سر لومړی زما پلار سودا وکړه ځان یې ښیرازه کړ زما ژوند یې اور ته واچاو، له یوه ښه انتخابه یې لرې کړم، یو معتاد ته یې ورکړم، بیا خپل خاوند ونشوم ساتلی پر ما یې د ټابلېټ کا خرچې لپاره زما عزت لېلام ته واچاوو.

انسان تر ټولو په خپل کور کې محفوظ وي خو زه هلته هم لکه بې څښتنه مال چور کېدم او تر ټولو لوی زیان او په عزت تېری مې هلته ولېده.

اوس راته د امن ځای نشته ټول مې د هوس لپاره کاروي، ټول خپلوان مې لکه د هوټل خوراک پخه ډوډۍ ګڼي، زه نه ستا شوم او نه د بل داسې چا چې لا اقلا زما عزت يې خپل عزت بللی وای هېڅ ځای راته د امن نه ښکاري پرته له هديرې.

زما ځان د يوه زناکاره له امله مردار شوی، اوس مې له خپل بدنه کرکه کېږي، نړۍ راته سور تنور شوې .

زما د ارام او امن ځای صرف هماغه ځای دی په کوم ځای کې چې ژوندي نه اوسي شايد هلته ارامه شمه.

ته زما له امله په دربيو کالو کې سپين ږېری شوې زه مو درک کوم چې ددغه ځورنې لامل مو زه وم، خو زما پلار له ما تاته ښه مالوم وو، د ځان لپاره يې زما خوښي ته ونه کتل، حق يې رانه کړ، کوم چې زما اسلامي حق وو، زما اوس سرنوېشت تر دې حده راورسېده چې له ژونده ستړې يم بلې نړۍ ته تلل غواړم که کېږي ما د خپلې لويي له امله وبښئ او د ليک دروړونکي ته زما ادرس مالوم دی، هلته راشئ زما ماشوم تاته سپارم زما په ماشوم پام کوئ، هغه له خدای ج پرته هېڅ څوک هم نلري...

ستا په اصطلاح  د الماسو غمی ناهيد ..

کمپيوټر مې ژر بندکړ ډاکټر چنار ما پېژانده، زما ښه صميمي ملګری وو پر وټسف مې د ناهيد ليک ورته ولېږه، زه پوه شوم چې ناهيد غواړي ځان وژنه وکړي او دا اخېرنۍ صحنه هم په موږ وګوري ځکه خو يې زه خپل کور ته بللی وم .

د مازديګر څلور بجې وې، ډاکټرچنار ته مې زنګ وکړ چې ژر راشي او د هغې کور ته ورشو او د سبا پلان يې شنډ کړو، نوې هيله ورکړو او دوباره يې ژوند ته راوبولو ډاکټر چنار هم زما د کتنځي سره نږدې کلينيک درلوده، په لسو دقيقو کې يې ځان راورساؤ، ښه کلک  وراخطاؤ، هڅه يې کوله ژر د ناهيد کور ته ورشي او د ناهېد ژوند

وژغوري، دواړه په یوه موټر کې کیناستو او نورې لس دقیقې تېرې شوې نه وې چې ناهېد د کور مخې ته ودرېدو .

دروازه مو په بېړه وټکوله ځواب نه وو، غوږ مو ونیوه، کور کې یې د هیڅ چا غږ نه اورېدل کېده یوازې د یوه ماشوم د خندا او شوخي غږ راته، دروازه مو څو،څو ځله بیا وټکوله...

خو ځواب نه وو !

ډاکټر چنار نور هم وارخطا شو، په دېواله ورواوښت ماته یې هم د انګړ له لوري دروازه راخلاصه کړه، دوو کوټو کې مو وکتله هلته مو هیڅ څه تر سترګو نشول درېیمې کوټې ته ننه وتو، پر یوه جسم مو سترګې ولګېدې پر پړي راځړېده،چوپه چوپتیاوه، زموږ مخته یې شا وه، را تا و مو کړه، د ناهید په سپینه هسکه غاړه کې پړی ننه وتلی وو غټې بڼه ورې سترګې یې پټې وې، د زندۍ کس سترګې راوتلې وي مخ یې شین شوی وي بل رقم مالومېږي خو د ناهید مخ جلوې کولې لکه سینګار شوې ناوې مالومېده، پړی مو وشکاوو د هغې د غاړې رګونه مو حس کړل یو هم نه ښورېده، لاندې یې ماشوم لوبې کولې، خندل یې نه پوهېده چې یوه لوی قیامت یې پر سرنوېشت کې راغلی.

چنار هغه راواخیست ښکل یې کړ بیا یې ناهید ته وکتل، څو سوې،سوې چغې یې وکړې، زما هم دغه د وحشت او دهشت پایلې ته ورو ژړا په زوره شوه دواړو د ناهیلې او بې اسرې ناهید په غم ښه ځانونه ستړي کړل ...

پای.

پکتیا ګردېز

۱۵/۳/۱۴۰۲